
بسم الله الرحمن الرحيم

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

(٦)

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب په اړه

د کتاب نوم : د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه (٦)

ليکوال : ډاکټر کفايت الله وردګ

د کمپيوټر چارې : محمد نذير (ذبيح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

ZamZam
Publication Company




زم زم
خپرندويه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com

00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan





د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د كتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو كې زمونږ هېڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالى رضا ده او پدې سلسله كې مونږ ځو نكتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه كې ديني معلومات وركول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه كول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ كې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه كول .

٥. د اسلام په تاريخ كې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلكو ته ور په يادول چې اوس هم په كومه نه كومه وجه د كفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلمانې جامعې ته موقع وركول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردۍ، قربانۍ ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنكي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو كتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او كتابونو په شكل كې ددوی د اسانتيا لپاره وړاندې كول .

دا پورتنۍ او څه نوري داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې رواني ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړۍ به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړۍ شپږمه کړۍ هم در ورسېده او پدې کړۍ کې هم مونږ مختلفې حادثې د تاريخ له کتابونو څخه را ټولې کړې دي امید دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړۍ ته د لا زياتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لرې او يا خدمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او يا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نيوکه، نکته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به يې له لتاسې نه د کور ودانې په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به يې په ياد لري . مننه

د زمزم خپرندويه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

بې ساري قناعت

حضرت ابو بكر صديق ❽ د عربو د مشهورو تجارانو له جملې نه وو او په اسلام د مشرف كېدلو څخه وروسته هغه خپل مال له اسلام نه بالكل نه سپمولو او كله چې د تبوک د غزا تياري روانه وو نو ده ❽ په كور كې ټول ٤٠٠٠ درهمه درلودل هغه يې ټول راوړل رسول الله ☸ ته يې حواله كړل دده په اړه رسول الله ☸ فرمايي : لما سره چې پدې دنيا كې چا نيكي كړيده ما دهغه بدل وركړى دى صرف ابو بكر صديق ❽ چې لما سره كومې نيكي كړي دي دهغې بدله زه پدې دنيا نشم وركولى هغه به زما له لوري نه الله ① ده ته د قيامت په ورځ وركړي .

حضرت ابو بكر صديق ❽ ته چې ترڅو د خلافت كارونه ور په غاړه شوي نه وو د رخت تجارت يې كولو لكن كله چې خليفه شو او مسئوليت ور په غاړه شو نو مشرانو صحابه وو په خپل مينځ كې مشوره وكوله او ده ته يې دده تنخوا د بيت المال څخه مقرره كړه ترڅو دى ټوله ورځ د خلافت په كارونو كې مصرف كړي او د تجارت لپاره وتلو ته دده ضرورت نشي .

دا تنخوا ديو درميانه مهاجر د مصارفو سنجولو نه وروسته ده ته مقرره شوې وه .

يوه ورځ چې دده مېرمن د کوم خاص خواږه خوراک شوق ښکاره کړو نو ده ❽ ورته وويل چې ددې لپاره خو پيسې په کار دي او زما سره نشته نو بي بي د خپل کور د مصرف نه لږ لږ روپۍ اضافه کولې ترڅو يې دومره برابرې کړې چې هغه خوراک وربانديې واخستل شي چې دده بي بي رضى الله تعالى عنهما غوښتى وو حضرت ابو بکر صديق ❽ چې وربانديې خبر شو نو ويې ويل دديېنه معلوميږي چې زمونږ تنخوا اضافي مقرره کړل شويده څومره چې تا پدې ورځو کې ترېنه اضافه کړې دي دومره زمونږ تنخوا کمه په کار وه ځکه پدې ورځو کې زمونږ د ژوند گذاره په سمه توگه وربانديې کېدله .

دا اضافه کړل شوې ټولې پيسې يې يوړې په بيت المال کې يې داخلې کړې او پخپله يې له خپلې تنخوا نه دهغه پيسو په اندازه سره د راتلونکو مياشتو لپاره کمې کړې .

خپلې لور حضرت عائشې ❽ ته يې په وصيت کې فرمايل : زما د مرگ نه وروسته به هغه څه چې زما په مصرف کې دي او هغه د بيت المال دي دا به راتلونکي خليفه ته وسپارې .

کله چې دى وفات شو يوه اوښه ، يوه پياله، يو غلام، او يوه عادي بستره حضرت عمر ❽ ته وسپارل شول هغه وويل : الله ① د په ابو بکر صديق ❽ باندې رحم وکوي ده په خپله تقوى سره

راتلونکي خلک په مشقت کې واچول (دده په ډول تقوی بيا څوک کولی شي) .

د ابو بكر صديق ❽ لمړی خطبه

حضرت ابوبكر ❽ ته چې كله خلافت وركړل شو نو خلك يې را ټول كړل او خبرې يې ورته شروع كړې ورته ويل يې : ای خلكو زما د په الله قسم وي چې ما هيڅكله نه په پټه سره او نه په ښكاره سره د حكومت تقاضا كړېده زه ستاسې په سر باندې امير شوم او حال دا چې زه ستاسې څخه غوره نه يم اوس ستاسې ذمه واري ده كه زه ښه كار كوم تاسې به زما اطاعت كوئ او كه زه بې لارې كېږم تاسې به مې سمې لارې ته را ګرځوئ په ياد لرئ رښتينولي امانت دی او درواغ بې ديني ده ستاسې كمزوری انسان هم زما په وړاندې زورور دی ترڅو زه د هغه حق ورنه كړم (هرڅوك كولی شي خپل حق لما څخه په زور وغواړي) او په تاسې كې قوي ترين سړی هم زما په وړاندې كمزوری دی ترڅو زه له هغه څخه د نورو خلكو حق وانه خلم (زه د بل چا حق له هرچا څخه اخستلی شم) په ياد ولرئ هغه څوك چې د الله ① په لاره كې جهاد كول پرېږدي الله ① هغه ذليل كوي او هغه قوم چې په هغوی كې بد عملي خپره شي الله ① هغه په لوی مصيبت كې آخته كوي .

بې ساري عاجزي

يو وخت حضرت ابو بکر صديق ❽ حضرت اسامه بن زيد ❽ د څه صحابه وو سره جهاد ته لېږلو او پخپله په پښو ورسره روان وو پدې وخت کې حضرت زيد ❽ ورته وويل : راځئ تاسې هم زما سره سپور شی او يا ما پرېږدئ چې ښکته شم او زه هم په پښو درسره روان شم حضرت ابو بکر صديق ❽ ورته وويل نه نه خو زه سپرېږم او نه تا پرېږدم چې له خپلې سپرلۍ نه ښکته شې زه لتا سره په پښو ځم چې ستا د آس له پښو نه پورته شوی ګرد په ما باندې کيني او زه لتا سره په ثواب کې شريک شم .

کله يې چې رخصت کولو ورته يې وفرمايل :

د الله ① په نوم سره د الله ① په لاره کې جهاد وکوئ په امانت کې خيانت مه کوئ ، د غنيمت مال مه پټوئ ، عهد مه ماتوئ ، بې وفايي به نه کوئ ، د مړيو شکلونه به نه خرابوئ سپين ږيري ، ماشومان او ښځينه به نه وژنئ ميوې لرونکې ونې به نه پرې کوئ ترڅو مو چې خوراک ته ضرورت نه وي حيوانات به نه حلالوئ .

د الله توره (سيف الله)

حضرت خالد بن وليد ❽ ده ته سيف الله هم ويل کېدل او اول ځل ده ته هغه وخت دا لقب ورکړل شوی وو چې کله رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته د موتة د حادثې خبره کوله هغه فرمايل :
حضرت زيد بن حارثه ❽ جنګ ته وړاندې شو هغه شهيد شو بيا حضرت جعفر ❽ بيرغ واخيستو هغه هم شهيد شو بيا عبد الله بن رواحة ❽ واخيستو هغه هم شهيد شو او بيا د الله د تورو څخه يوې تورې واخيستو او هغه ته الله ① فتح ورکړه دا حضرت خالد بن وليد ❽ وو کله چې رسول الله ﷺ وفات شو ده ❽ دهغه کسانو په مقابل کې چې د پيغمبري دعوه يې کړې وه په ښه پېمانه جنګونه وکول او بيا چې مسيلمه کذاب مړ کړل شو نو دهغه تحريک پای ته ورسېدو نو بيا د حضرت ابو بکر صديق ❽ په حکم عراق ته د مثنی پن حارثه شيباني مرستې ته ولېږل شو چې هغه پدې وخت کې په فتوحاتو باندې مصروف وو دی روان شو هرې خوا ته به يې چې مخه کوله خلک به يې مسلمانان کول او اطاعت ته به يې مجبور کول تردې چې ابله نومي سيمې ته يې ځان ورسولو او له هغه ځای نه يې د عراق والي ته چې پدې وخت کې دا ساحه د ايران تر بادشاهي لاندې وه ليک ولېږلو او په ليک کې يې ورته ليکلي وو .

اسلام قبول کړه یا جزیه ورکړه او کنه نو د داسې خلکو سره به د جنګ شي چې د هغوی مرګ دومره خوښ دی لکه ستاسې چې ژوند خوښ دی .
هرمز دا لیک د ایران شهنشاه ته ولېږلو او خپله د خالد بن ولید ❽ جنګ ته تیار شو د کاظمه په ځای کې د ایرانیانو لښکر او د حضرت خالد بن ولید ❽ تر مشري لاندې د مسلمانانو د لښکر سره مخامخ شو د سخت جنګ نه وروسته الله ① مسلمانانو ته فتح ورکړه او کفارو د شرم نه ډکه ماتې وخوړه او هرمز پخپله هم قتل کړل شو .



رښتوني تقوى

حضرت عمر بن عبد العزيز ته څه کسان مېلمانه راغلي وو ده مبارک ورته شمعه ولګوله او دمسلمانانو په اړه او د دوی په ځای کې یې د حالاتو په اړه ورڅخه پوښتنې کولې د ډېرو خبرو وروسته هغه کس ورته ویل ښه ده ستاسې صحت څنګه دی؟ ستاسې په کور کې څه حال دی ماشومان دې څنګه دي؟ حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله زر هغه شمع ګل کړه او چا ته يې اواز وکولو چې چراغ راوړي چې کله هغه راوړل شول هغه نه لګېدو له هغه سره يې خواري کوله چې ويې ولګوي مېلمه ورته حيران وو چې کله هغه چراغ نه لګېدو نو بيا شمع ولې ګل کړل شوه؟ آخر يې ورته وويل : کله چې ما لتاسې نه ستاسې د صحت او کورني ژوند په اړه پوښتنه وکوله نو تاسې شمع ولې ګل کړه؟ حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ورته ويل ځکه چې هغه شمع د بيت المال وه ترڅو چې د مسلمانانو په اړه تا ماته خبرې کولې او دهغوی حال د راته ويلو نو هغه شمع مې لګولې وه او اوس چې زه او ته په خپلو خبرو کې آخته شوو نو اوس زه تاته د کور چراغ لګول غواړم او پدې کې تېل نشته .

د روم د بادشاه فريب

ابن خلكان په خپل كتاب كې ليكلي دي چې حضرت الشعبي د عبد الملک بن مروان نيږدې ملگرى وو او د ښې تقوى خاوند وو او اسلامي دولت ته ډېر زيات مخلص وو او الله ① ورته ډېر ښه علم وركړى وو دى وايي چې زه عبد الملک بن مروان د روم بادشاه ته ور ولېږلم كله چې زه هلته ورسېدم هغه به چې لما څخه څه ډول پوښتنه كوله نو ما به ورته ځواب وركولو او دده عادت دا وو چې استازى به يې له ځان سره د ډېر وخت لپاره نه حصارولو لكن زه يې تر ډېره وخته پورې هلته حصار كړم تردې چې نور زما زړه تنگ شو او ما غوښتل چې زه نور بېرته را ستون شم كله چې زه ده ته ورغلم او ورته و مې ويل زه نور ځم ده راته وويل : ته د خليفه د اهل بيت نه يې؟ ما ورته وويل نه زه بس يو عام انسان يم د خپلو ملگرو سره يې څه پټې خبرې وكولې او بيا يې ماته يو چيټ راكړو يوه وړوكې رقعه وه او راته يې وويل كله د چې نور خطونه بادشاه ته وركړل په آخر كې به بيا دا هم وركړې كله چې زه را ورسېدم او ټول نور ضروري ليكونه مې خليفه ته وركړل دا رقعه مې هېره شوه ترېنه بهر شوم بيا راته ياده شوه نو بېرته ور وگرځېدم او ورته مې وويل دا يوه رقعه دركول لما څخه هېر شوي وو كله چې خليفه دا رقعه وكتله رانه يې وپوښتل ددې ليک د دركولو په وخت كې يې څه

درتـه وویـل؟ مـا ورتـه وویـل هو ! ده راڅخه وپـوښتل څه یـې درتـه وویـل : مـا ورتـه وویـل را څخه یـې وپـوښتل چې د خلیفـه لـه کـورنۍ څخه یـې؟ مـا ورتـه وویـل نـه یـو عـام عرب یـم ... ددې سره زه د خلیفـه لـه مجلس نـه را روان شوم چې بـهرنۍ دروازې تـه ورسېدم ویـل را وګـرځه بـېرتـه د خلیفـه مجلس تـه حـاضر شوم خلیفـه راتـه وویـل : تـه خبـر یـې چې پـه رقـعه کې څه شی وو؟ مـا ورتـه وویـل نـه ! ده راتـه وویـل هـا ویـې لـولـه مـا چې ولـوستـه نـو پـکې لـیکلي وو (زه حیـران شوم چې پـه کـومـو خلـکو کې داسې کس مـوجـود وو کـوم چې مـاتـه استـازی را لېږل شوی دی نـو پـه دوی کې بـل کس ولـې بـادشاه دی؟) شعبـي وایـي مـا ملک تـه وویـل کـه زه خبـر وای چې داسې څه پـکې لـیکلي دي بـیـا مـا دا لـیک نـه راوړو او هغه ځکه داسې لـیکلي دي چې هغه تـاسې نـه یـاست لـیدلـي خلیفـه عبد الـملک راتـه ویـل تـه پـوهېږې ده داسې ولـي لـیکلي دي؟ مـا ورتـه وویـل نـه .. ده راتـه وویـل ددې لـپاره چې مـا تـاتـه غصه کـړي او زمـا پـه زړه کې تـاتـه کـینـه پـیدا کـړي او بـالآخره تـا پـه مـا بـانـدې ووژنـي ... دا خبـره چې کـلـه بـېرتـه د روم د بـادشاه پـه مجلس کې وشوه هغه وویـل هو ! زمـا صرف همدا مطلب وو .

د كوفي د قصر ورانول

عبد الملک بن عمير وايي چې زه د عبدالملک بن مروان سره د كوفې په قصر كې وم چې د مصعب بن زبير سر راوړل شو او دده په وړاندې كېښودل شو ما چې ولېدو زه سخت و ډار شوم دى زما په حالت پوه شو او راڅخه يې وپوښتل ولې څه د ربانـدې وشول؟ ما ورته وويل زه ستا لپاره په ا لله باندې پناه غواړم (الله دې تا وساتي) زه په همدې قصر كې په همدې ځاى كې وم د عبد الله بن زياد سره چې ومې ليدل د حضرت حسين بن علي رضى الله تعالى عنهما سر راوړل شو دده په وړاندې كېښودل شو بيا په همدې ځاى كې زه د المختار بن ابي عبيد الثقفي سره وم چې د عبد الله بن زياد سره راوړل شو او دهغه په مخ كې كېښودل شو بيا زه په همدې ځاى كې د مصعب بن الزبير سره وم چې د مختار سر راوړل شو او دهغه په مخ كې كېښودل شو او اوس دا دى د مصعب بن زبير سر پداسې حالت كې راوړل شو او ستا په مخ كې كېښودل شو چې زه لتا سره يم نو عبد الملک سم د لاسه له خپل ځاى نه پا څېدو او حكم يې وكولو چې دا تعمېر دې وران كړل شي .

د جاسوس پېژندل

امام بلوي په خپل يو کتاب (سيرة احمد بن طولون) کې ليکي چې يو وخت کې بادشاه احمد بن طولون په خپل کوم باغ کې ناست وو خوراک ورته راوړل شو او څه کسان چې دده سره ناست وو هغه ټول دده خاص خلک وو لرې يې يو سوالګر ولېدو چې په زړو جامو کې وو ابن طولون يوه ډوډۍ را واخيسته څه د چرګ غوښه څه کباب او نور خوراکونه يې وربانديې کېښودل او بله ډوډۍ يې وربانديې لپاسه کېښوده او يو غلام ته يې ورکړه چې دا هغه سوالګر ته ورکړه ده غلام ته کتل او هغه سوالګر ته يې هم کتل ډېر ساعت يې هغه ته وکتل بيا يې وويل چې هغه دلته راولی هغه چې کله راوستل شو ده ورسره خبرې شروع کړې هغه سوالګر ډېر زړور وو او دده تر تاثير لاندې هم رانغلو نو ابن طولون ورته وويل کوم ليکونه چې لتا سره دي هغه ټول ماته راکړه نو هغه هم اقرار وکولو چې هو زه د چا جاسوس يم او دلته ستاسې د احوالو په ټولولو پسې راغلی يم او زما سره څه ليکونه دي چې ما ليکلي دي او اوس مې ورته د لېږلو څه بندبست کولو ده ورسره څوک مقرر کړل چې دده سره لاړ شي او هغه ليکونه راوړي په مجلس کې يو نېږدې ملګرې يې ورته وويل ای امير که دا چېرته وحی نه وي نو بيا دا سحر دی .

ده وويل نه والله دا نه وحی ده او نه سحر دی بلکه يوه رايه وه کله چې ما دا کس وليدو په بد حالت کې وو نو زما ورته زړه بد شو او زه پدې پوه شوم چې دده په څېر خلکو ته دا خوراکونه نه رسېږي نو مې څکه لږ خوراک ور ولېږلو لکن ما چې خوراک ته دده کتل وليدل چې دی ورته بالکل خوشحال نه شو او دا چې له هغه خوراک نه يې و هم نه خوړلو نو زړه مې ترې بد شو زه په زړه کې پوه شوم چې ددې سړي سترګې مړې دي ما وويل چې دا سوالګر نه دی دا جاسوس دی او کله چې ما له ده څخه پوښتنه کوله ده تر اندازې نه زيات ټينګار په انکار کې کولو نو زما يقين شو چې دی جاسوس دی او لويه خبره دا وه چې دده اخلاق د داسې غريب نه وو لکه په سترګو چې دی څومره غريب ښکاره کېدې او د دی زمونږ د مجلس تر تاثير لاندې هم رانغلو .



د الله ① په وجود دليل

امام الزمخشري فرمايي حضرت جعفر الصادق ته چا وويل چې د الله ① په وجود راته يو دليل وړاندې کړه لکن د عالم ، عرض او جوهر خبرې راته پکې مه کوه هغه ورته وويل ته کله په داسې سفر تللى يې چې په هغه سفر کې مو کښتۍ غرقه شوې وي؟ ده ورته وويل هو ! جعفر الصادق ورته وويل داسې وشول چې له هرچا څخه ستا اميد قطع شوى وي؟ ده ورته وويل هو ! جعفر الصادق ورته وويل : آيا بيا هم د ټولو خلکو نه د اميد قطع کېدلو وروسته داسې اميد درته پيدا شو چې يو څوک به دې وساتي؟ ده ورته وويل هو ! جعفر الصادق ورته ويل همدا الله دى .

د اياس بن معاويه عجيبه فيصله

د اياس بن معاوية القاضي په زمانه کې يو کس بل ته څه مال امانت ورکړى وو او هغه بيا وربانديې منکر شوى وو فيصله اياس بن معاوية قاضي ته ورغله هغه د مال له خاوند څخه پوښتنه وکوله چې کله تا ده ته مال ورکولو نو هلته څه نښه يا کوم شى موجود وو چې تاته ياد دي؟ هغه وويل يوه ونه وه او منکر سړي انکار کاوه چې داسې ونه خو ما بالکل ليدلې نه ده نو اياس بن معاوية القاضي د مال مالک ته ويل ته لاړ شه او هغه ونې ته وګوره کېداى شي تا مال دهغه

سره په خوا کې چېرته اېښی وي او ته چې ونه وويني درته په ياد شي او دې کس ته به دې نه وي ورکړی هغه رښتيا روان شو پدې وخت کې اياس بن معاوية قاضي د خلکو په مسئلو باندې مصروف شو لکن منکر کس يې چې له ځان سره حصار کړی وو په هغه يې هم نظر ساتلو او د يو څه وخت نه وروسته يې يو دم د منکر کس نه پوښتنه وکوله (ستا څه ګمان دی ستا ملګری به هغه ونې ته اوس رسېدلی وي؟ ده ورته وويل : نه ... زه فکر نه کوم چې رسېدلی وي هغه ونه ډېره لرې ده. قاضي اياس بن معاوية ورته ويل ای د الله دښمنه ورشه مال راوړه اوس د په خپل ځان ا قرار وکولو اوس تاته ونه در ياده ده تراوسه چې تا ويل ما دا ونه بالکل لېدلې نه ده او مال يې پرې حاضر کړو .

د قضاوت د نه قبلولو عجيب دليل

د وخت خليفه امر وکولو چې امام اياس بن معاوية ماته راولی کله چې ورته را وستل شو نو ورته يې وويل مونږ غواړو چې تا قاضي کړو نو ته بايد قاضي شې ده ورته وويل :زه د قضاء وظيفه نشم اخستی صاحبه زه د قضاء لپاره قابل نه يم دا ځواب خو د بادشاه د خبرې رد کول وو نو هغه ورته غصه شو ورته يې وويل : ته درواغ وايې او ته بالکل د قضاء وړ يې پدې وخت کې اياس بن معاوية ورته وويل نو بيا خو تاسې هم

دا واياست چې زه د قضاء وړ نه يم .. خليفه ورته ويل ما کله دا ويلي چې ته د قضاء وړ نه يې؟ ده ورته وويل ځکه ته وايې چې زه درواغ وايم نو چې زه درواغ وايم بيا څنګه د قضاء وړ يم .. او که زه درواغ نه وايم نو بيا خو زه پخپله خوله وايم چې زه د قضاء وړ نه يم .

د عفت فيصله

د حضرت عثمان ❽ په زمانه کې يو سړي واده وکولو او د واده نه شپږ مياشتې وروسته يې ماشوم پيدا شو څرنګه چې مشهوره ده ماشوم په نهمه مياشت پيدا کيږي نو خلکو دا ښځه را ونيوله او حضرت عثمان ❽ ته يې په خدمت کې حاضره کړه هغه مبارک ❽ د وجې پوښتنه وکوله نو خلکو ورته وويل چې دې په شپږو مياشتو کې ماشوم پيدا کړی دی معلوميږي چې دا حمل ددې په نس کې د واده څخه وړاندې له بل چا څخه وو نو بايد پدې باندې د زنا حد جاري شي .

هغه ❽ ورته وويل تاسې ته نه ده معلومه چې الله په قران کريم کې فرمايلي دي (وحمله وفصاله ثلاثون شهرا) يعني د حمل او د شودو موده يې ديرش مياشتې ده او په بل ځای کې الله تعالی فرمايي (والوالدات يرضعن أولادهن حولين کاملين) او مورانې به ماشومانو ته تر پوره دوه کلونو پورې شودې ورکوي نو پوره دوه

کلونه ٢٤ مياشتې شوې او ٢٤ له دېرشو نه کمې کړه پاتې شوې ٦ مياشتې نو کېداى شي چې يو ماشوم دې په شپږو مياشتو کې هم پيدا شي .

په خپل شکل کې د ښائست لپاره بدلون راوستل

يوې ښځې واورېدل چې حضرت عبد الله بن مسعود ❽ په هغه ښځو باندې لعنت ويلى دى چې د ښائست لپاره خپل شکل بدل کړي دې ښځې چې د خپلو غاښونو په مينځ کې د ښائست لپاره فاصله پيدا کړې وه او وريځې يې ويستلې وې په غصه کې راغله عبد الله بن مسعود ❽ ته او ورته ويل يې : تا په هغه ښځو لعنت ويلى دى کومې چې د ښائست لپاره په خپل شکل کې کوم شى بدل کړي؟ ده مبارک ❽ ورته ويل هو دا په قران کې دې او له هغه څخه مخالفت دى ښځې ورته وويل : ما خو قرآن ټول لوستلى دى داسې څه خو ما پکې نه دي ليدلې چې تاسې د ښائست لپاره په خپل شکل کې بدلون مه راولى حضرت عبد الله بن مسعود ❽ ورته ويل : تا په قران کې دا آيت لوستلى دى چې الله ① فرما يي [وما آتاکم الرسول فخذوه وما نهاکم عنه فانتهوا] ترجمه : په کوم شي چې رسول الله ☸ تاسې ته امر کوي هغه واخلئ او له کوم شي نه چې منع کوي له هغه څخه ځان منع کړئ .

نو رسول الله ﷺ چې كوم شى منع كړي دي هغه په قران كريم سره هم منع دي .

مـوسيقـي حـلالـه کـه حـرامـه؟

حضرت عبد الله بـن عبـاس ❽ تـه يـو کس راغلـو ورتـه ويـل يـې : سـاز او سرود (مـوسيقـي) حلالـه ده کـه حـرامـه ؟ ده ❽ ورتـه وويـل چې زه حرام صرف هغه شي تـه وايـم چې قـران ورتـه حرام ويـلـي وي نـو هغه کس ورتـه وويـل بـيـا حلالـه ده ؟ ده ❽ ورتـه ويـل چې زه حلال صرف هغه شي تـه وايـم چې لـه قـران کـريـم نـه مـاتـه مـعلـومـيږي چې حلال دي بـيـا يـې دهغه کس مخ تـه وکـتـل چې حيـران وو او پـه يـو طرف يـې هم فـيصلـه نـشواى کـولـى حضرت عبد الله بـن عبـاس ❽ ورڅخه پـوښتـنه وکـولـه چې ستـا څه گـمـان دى چې د قـيـامـت پـه ورځ کـلـه حق او بـاطل سره بېل شي مـوسيقـي بـه د حق پـه لـوري کې وي او کـه د بـاطل؟ هغه کس ورتـه وويـل د بـاطل پـه لـوري کې بـه وي .. حضرت عبد الله بـن عبـاس ❽ ورتـه ويـل : بـس ځـه خـپـل ځـان تـه دې فـتـوى ورکـړه .

هوښيار سپين ږيرى

يو سپين ږيرى سړى د امام شافعي رحمه الله مجلس ته را ننوت ورڅخه يې وپوښتل د الله په دين کې دليل څه شى دى؟

امام صاحب رحمه الله ورته ويل قران کريم .

هغه کس ورته ويل بل؟

امام شافعي رحمه الله ورته ويل: د رسول الله ﷺ سنت .

هغه کس ورته ويل بل؟

امام شافعي رحمه الله ورته ويل: اتفاق د امامانو (اجماع)

هغه کس ورته ويل : دا اجماع تا له کومه ځايه را معلومه کړه ؟

امام شافعي رحمه الله پرې غلى شو .

هغه کس ورته وويل : زه درته ددې ځواب د پيدا کولو لپاره درى ورځې مهلت درکوم پيدا يې کړه .


امام شافعي رحمه ا لله راغلو لټون يې شروع کړو په کتابونو کې يې پدې اړه مطالعه کوله چې څه ځواب پيدا کړي .

په دريمه ورځ هغه کس مجلس ته راغلو او سلام يې وکولو پوښتنه يې وکوله چې څه وشول؟

امام شافعي رحمه الله ورته ويل په هرو ٢٤ ساعتونو کې مې قران کريم درى ځله تلاوت کړى دى آخر الله ① راته هدايت وکولو چې په اجماع د ا مت باندې دليل دا آيت دى .

وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءتْ مَصِيرًا

نو ددې آيت نه معلوميږي چې الله ① فرمايي چې څوک له هغه څه څخه مخالفت وکوي چې ټولو مسلمانانو وربانديې اتفاق کړی وي او دده سره کوم صحيح دليل نه وي نو الله ① به يې اور ته واچوي .



رښتوني مينه

کله چې حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ مسلمان شو مور يې ورته راغله ورته ويل يې : سعده پدې دين کې څه داسې شى دي چې تا قبول کړو او د خپل مور پلار او نيکونو د ين دې ورته پرېښودو ته به بېرته له خپل دين څخه ګرځې او يا به زه بالکل خوراک او څښاک نه کوم چې مړه شم بيا به پښېمانه وي او ټول خلک به هم پيغور درکوي چې مور دې ستا له لاسه مړه شوه حضرت سعد بن ابي وقاص ورته ويل مورې داسې مه کوه دا بې ځايه تکليف دى زه ستا سره ډېره زياته مينه کوم لکن بيا هم زه دا خپل قبول کړى دين د هېڅ شي لپاره نشم پرېښودلى .

مور يې خوراک بند کړو او پدې کې څو ورځې تېرې شوې او د مور بدن يې کمزور شو هغه د خوراک نه منع کړې وه او بدن يې ورو ورو کمزورى کېدو حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ ورته راغلو ورته ويل يې : مورې زه ستا سره ډېره مينه کوم لکن لتا څخه زياته مينه زه د الله ① او دهغه د رسول ☸ سره کوم قسم مې دې په خداى وي چې ستا زر دمې وي او يوه په بله پسې وزي او زه يې وينم بيا هم زه خپل دين ستا د مرګ لپاره هم نشم پرېښودلى .

کله يې چې مور دا سخته خبره واورېده نو خوراک يې شروع کړو او پدې اړه وحى راغله :

سورة لقمان آية ١٤-١٥

وَوَصّيْنَا الإنْسانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أمُّهُ وَهْناً على وَهْن وفِصَاله في عامَيْن أن اشْكُر لي ولوالدَيْكَ إليّ المَصير وأن جاهَدَاك على أن تُشْرِك بِي ما ليْسَ لك بِهِ عِلم فلا تُطِعْهما وصَاحِبْهُما في الدنيا مَعْروفا واتّبِع سَبيل مَنْ أنابَ اليّ ثُمّ إليّ مَرْجِعكم فَأنَبّئكم بما كُنْتُم تعملون

ترجمه : مونږ انسان ته نصحيت کړی دی چې د مور پلار سره ښه رويه کوه مور يې دی بار کړو په سستي کې وروسته د بلې سستي او دده بېلتون له شودو څخه په دوو کلونو کې دی مونږ ورته نصيحت کړی دی چې زما او د خپل مور پلار شکر وباسه او ستاسې راتلل زما خوا ته دي که مور پلاردې په تا باندې ټينګار کاوه چې ته مشرک شه اطاعت يې مه کوه او په دنيا کې ورسره ښه رويه کوه د هغه چا په لاره ځه چې ماته را جع شوي دي بيا ستاسې د ټولو رجوع زما لور ته ده بيا به زه تاسې په هغه ټولو کارونو باندې خبر درکړم چې تاسې کول .

مجاهد ته نصيحت

د حضرت ابو بكر صديق ❽ په زمانه كې كله چې د شام لوري ته د مسلمانانو فوځونه ور وتل شروع شول او په لويه پيمانه د فتوحاتو لړی شروع شوه نو حضرت ابو بكر صديق ❽ حضرت خالد بن وليد، سفيان، يزيد بن سفيان، ابو عبيدة بن الجراح، حضرت عمر د لښكر د مشرانو په صفت رخصت كول نو دوی ته يې په خدای په اماني كې خبرې كولې ورته ويل يې .

تاسې د يو داسې قوم خوا ته ورځئ چې په هغو كې ځينې داسې خلك وي چې هغوی ځان د الله ① عبادت ته وقف كړی وي د هغوی سره به كار نه لرئ زه تاسې ته يو څو نصيحتونه كوم .

- ماشوم ، زنانه او سپين ږيری به نه وژنئ .
- د مېوې ونې به نه پرې كوئ .
- آبادي به نه ړنګوئ .
- د ضرورت نه بغير به حيوانات نه حلالوئ .
- باغونو ته به اور نه اچوئ .
- په غنيمت كې به خيانت نه كوئ .
- له جنګ څخه به نه ډارېږئ .

په حيره نومي ځای كې بيا د حضرت ابو بكر صديق ❽ په وخت كې د مسلمانانو او عيسايانو تر

مينځ تړون وشو او په لاندې خبرو باندې پرېکړه وشوه .

- د عيسايانو عبادتگاه گانې به نه ړنگول کيږي .
- د هغوی قلاگانې چې دوی د ضرورت په وخت کې له دښمن څخه پکې پټيږي نه به ورانول کيږي .
- هغوی د خپلې عبادتگاه نغاره غږولی شي .
- هغوی خپلې رواجي او مذهبي ورځې لمانځلی شي .



رښتونی اطاعت

حضرت حذيفه بن يمان رضی الله تعالی عنهما فرمايي چې د خندق په غزوة کې حالات ډېر سخت وو له يوې خوا نه د مکې او د ټولو عربو کفار را ټول شوي وو او په مسلمانانو يې د راختلو کوښښ کولو او تر خندق يې را تېرېدل غوښتل او مسلمانان په ډېر کم تعداد سره د هغوی دفاع ته ولاړ وو او ټول صحابه د خندق په شاوخوا کې د کومې يو دمې سختې حملې په انتظار کې وو له بله پلوه د ټولو سره دا غم وو هسې نه چې بني قريظه يهود د موقع نه په استفادې سره په مدينه منوره حمله و کوي هلته د مسلمانانو مالونه او اولادونه په داسې حالت کې چور کړي چې ټول مسلمانان دلته د کفارو سره په جنګ بوخت دي منافقين به راغلل څه بهانه به يې جوړه کړه چې کور ته ځم او اجازه به يې وغوښته او رسول الله ﷺ هر اجازه غوښتونکې ته د تلو اجازه ورکوله پدې وخت کې يوه شپه د نيمې شپې داسې تېزه سيلۍ راغله چې اواز يې په غوږونو کې کړنګېدلو او داسې تياره وه چې بل انسان څه خپل اندامونه هم نه ښکاره کېدل او په همداسې تياره کې رسول الله ﷺ را روان وو او دملګرو پوښتنې يې کولې او د صحابه وو ﷡ د حال نه يې ځان خبرولو آخر چې زما خواته را ورسېدو زه په داسې حال کې وم چې نه مې د دښمن د مقابلې څه شی له ځان سره درلودل او نه مې د يخني څخه

د ځان پټولو څه لرل صرف يو وړوکی څادر را سره وو هغه هم زما خپل نه وو د بي بي مبارکې وو چې ما به پکې ځان پټ کړو تر ګونډو پکې پټېدلم هغه مې آغوسی وو ناست وم رسول الله ﷺ پوښتنه وکوله څوک يې؟

ما ورته وويل : حذيفه

زه پدې وخت کې يخنۍ ډېر زيات خراب کړی ومه رسول الله ﷺ راته وويل پاڅېږه د کفارو لور ته ورشه او خبر راوړه چې هلته څه حال دی زه له يوې خوا يخنۍ ډېر زيات وارخطا کړی وم او له بله پلوه به زه اوس يوازې ځم د دښمن لور ته له خندق ور تېرېږم او د دوی مرکز ته به نېږدې ورځم چې وګورم د دوی څه حال دی نو رسول الله ﷺ راته دعا وکوله ويل يې :

ای الله ① دده حفاظت وکوه د مخې ، د شا ، د ښي ، چپ ، د زمکې او هوا ټولو اړخونو څخه .

کله چې زه روان شوم زما نه يخني داسې لرې شوه لکه بالکل چې يخني نه وه او وېره مې هم له زړه څخه ووتله رسول الله ﷺ ما ته وويل چې کله ورشې څه حرکت به نه کوې صرف وګوره چې هغه خلک څه کوي او حرکتونه يې وڅاره بېرته راشه .

زه ورغلم له لرې نه مې خلکو ته وکتل چې دوی اورونه بل کړي دي او ځانونه وربانديې ګرموي بېرته راغلم رسول الله ﷺ ته مې وويل.


د مومن فراست

يو مجوسي پداسې حالت کې چې زينار يې په غاړه کې پروت وو د پاسه يې وربانده اسلامي جامې واغوستلې او د حضرت جنيد بغدادي رحمه الله په مجلس کې د مسلمان په ډول حاضر شو او بغدادي رحمه الله ته يې وويل :

يوه پوښتنه کول غواړم چې ددې حديث څه مطلب دی (د مسلمان له فراست نه وډار شه ځکه هغه د ايمان په نور سره ويني)

بغدادي رحمه الله ورته ويل ددې دا مطلب دی چې ته تر جامو لاندې خپل زينار له ځان څخه لرې کړه مسلمان شه او ايمان قبول کړه .

يعني بغدادي رحمه الله په خپل فراست سره پدې باندې پوه شو چې دا مسلمان نه دی هسې يې ځان د مسلمانانو په شکل سره جوړ کړی دی .



د حضرت حاتم اصم رحمه الله مونځ

د حضرت حاتم اصم رحمه الله څخه چا پوښتنه وکوله : ته مونځ څنګه کوې؟

ده رحمه الله ورته وويل :

کله چې د مانځه وخت راشي زه د ظاهر اودس وکوم اود باطن اودس هم کوم ښکاره اودس زه په اوبو سره کوم او باطني اودس زه په خپله توبه سره کوم بيا په خپل ذهن کې مقام ابراهيم او کعبه مبارکه خپلې مخې ته ايږدم پل صراط تر خپلو پښو لاندې متصور کوم ښې طرف ته مې جنت او چپ طرف ته مې دوزخ ايږدم او د ملک الموت او ما ته د هغه راتلل را په ياد کړم او پدې وخت کې په پوره تعظيم سره الله اکبر وايم او د تعظيم سره په مانځه درېږم او د پوره هيبت او ډار سره قران کريم تلاوت شروع کوم د پوره عاجزي سره د الله ① په دربار کې د رکوع او بيا د سجدې سر ښکته کوم او د پوره تحمل سره د الله ① په وړاندې د التحيات لپاره کېنم او د پوره شکر سره چې الله ① ما ته د مانځه کولو توفيق راکړو دواړو طرفونو ته سلام ګرځوم .

هارون رشيد ته نصيحت

حضرت شفيق بلخي رحمه الله د هارون رشيد په مجلس کې حاضر شو هارونه رشيد ورته وويل :
ای بلخي ما ته څه نصحيت وکوه هغه ورته وويل :

ای هارونه الله ① ته د حضرت ابو بکر صديق ❽ پر ځای کېنولی يې نو ته بايد په رښتيا سره کار وکوي او له هرچا سره د رښتيا معامله وکوې او ته يې د حضرت عمر ❽ پر ځای کېنولی يې ته بايد د حق او نا حق رښتيا او درواغو په مينځ کې فرق وکوې او څرنګه يې چې ته د حضرت عثمان ❽ په ځای کېنولی يې ته بايد له حيا نه ډک وې او څرنګه چې دا ستا ځای د حضرت علي ❽ د کېناستلو ځای دی نو ته بايد علم او عمل ښکاره کړې .
هارون رشيد ورته وويل : يو څه نور هم راته وو ايه
ده ورته وويل :
د الله ① يو ځای دی دوزخ ورته وايي هغه ځای ته الله ① کسان پيدا کړي دي چې په دنيا کې خلک هغه ځای ته له ورتلو څخه وساتي او خلکو ته وواي چې هلته ورنشي خلک بايد فکر وکوي چې په هغه لاره لاړ نشي کومه لاره چې دوزخ ته تللې وي .
ای هارونه ستا مثال داسې دی لکه د لوی سيند او خلک واړه واړه ويالې دي که په تا کې ګندګي

پيدا شي نو په ټولو خلكو كې پيدا كيږي ته ځان له ګندګي نه وساته چې ټول خلک پاک پاتې شي .

د حضرت عمر ❽ تقوی

د حضرت عمر ❽ د خلافت په زمانه كې دده ❽ ژوند ډېر ساده وو حضرت عثمان ، حضرت علي، حضرت طلحة مشوره وكوله چې دده تنخوا يو څه ورته زياته كړي دوى دا خبره پخپله عمر ❽ ته نه بلكه دهغه لور او د رسول الله ☸ بي بي حضرت ام المومنين حفصه رضى الله تعالى عنها ته يې وكوله لكن كله چې حضرت حفصې رضى الله تعالى عنها دا خبره خپل جليل القدر پلار ته وكوله نو هغه ډېر زيات پرې خفه شو چې تاسې داسې فكر ولې كوئ او هغې ته يې د رسول الله ☸ او د حضرت ابو بكر صديق ❽ زندګي وريادة كړه چې هغوى څه ډول ژوند كولو او ورته يې وويل زما د حضرت ابو بكر صديق ❽ او رسول الله ☸ مثال داسې دى لكه درى كسان چې په يوه لاره باندې روان وي اول كس په سمه لاره لاړو او هدف ته ورسېدو دويم هم دهغه په قدمونو باندې پښې كېښودلې او په هغه پسې په سمه لار لاړو اوس د دريم كس وار دى چې هغه كه د دوى په قدمونو باندې پښې كېږدي نو په دوى پسې به ور ورسيږي او كه له لارې نه كوږ شو كله به هم د هغوى سره ونه ويني .

دحضرت عمر ❽ د فقر ژوند

حضرت عمر ❽ چې يو ځل مانځه ته پداسې حالت کې راغلو چې تر خپل وخت څخه يو څه نا وخته وه او صحابه ﷺ يې په انتظار کې وو وروسته بيا ښکاره شوه چې هغه ددې امله وروسته شوی وو چې جامې يې وينځلې وې او د هغې د وچېدلو انتظار يې کاوه .

د حضرت عمر ❽ د خطبې په دوران کې چې چا وشمارل د حضرت عمر ❽ په جامه کې ۱۲ پيوندونه لګېدلي وو او يو پيوند پکې د چرم وو .

د مسلمانانو امير حضرت نعمان بن مقرن

د حضرت عمر ❽ په زمانه کې د مسلمانانو او ايرانيانو په مينځ کې سختې جګړې شوي دي په هغه جګړو کې د قادسيې او نهاوند جنګونه زيات شهرت لري د نهاوند په جنګ کې ايرانيان د سخت لښکر سره جنګ ته را روان شوي وو او د دوی مشري د ايران د فوځيانو مشهور مشر مردان شا کوله کله چې حضرت عمر ❽ پدې حالاتو باندې خبر شو نو ويې ويل چې دې جنګ ته به د مسلمانانو په مشري زه پخپله ځم حضرت علي ❽ دده ددې ارادې مخالفت وکولو او ده ته يې وويل

چې ته دې جنګ ته مه ورځه بل څوک د مسلمانانو په مشري باندې ولېږه بيا اتفاق پدې وشو چې حضرت نعمان بن مقرن ❽ به دې جنګ ته دمسلمانانو په مشري لاړ شي .

حضرت نعمان بن مقرن ❽ جنګ ته وړاندې شو جنګ په ډېره سختي سره شروع شو او حضرت نعمان ❽ سخت سخت زخمي شو او په ميدان کې و غورځېدو مسلمانانو چې دده پورته کول غوښتل ده ورته وويل : نه .... ترڅو چې د جنګ فيصله نه ده شوې زما خوا ته به هېڅوک نه راځي او ز ه به همدلته په ميدان کې پروت وم ددې په ځای چې کوم مسلمان مجاهد ما پورته کوي هغه دې جهاد وکوي او دده ورور حضرت نعيم بن مقرن ❽ را وړاندې شو د اسلامي لښکرو قيادت يې په لاس کې واخيستو بيرغ يې پورته کړو او له سختې جذبې سره يې په ايرانيانو باندې حمله وکوله د تورو داسې اواز پورته شو چې ټول اوازونه پکې ورک وو او د يوې لحظې سخت جنګ نه وروسته کفارو منده کړه او ماتې يې وخوړه جنګ پای ته ورسېدو .

مسلمانان راغلل چې د خپل امير پوښتنه وکوي پداسې حالت کې ده ته راغلل چې تر اوسه پورې يې نفس په ځان کې وو د هرڅه نه وړاندې مهربان امير ❽ پوښتنه وکوله چې د مسلمانانو څه حال شو؟

دوی ورته وويل کفارو ماتې وخوړه او فتح د مسلمانانو په نصيب شوه .

ده وويل: الحمد لله .... حضرت عمر ❽ ته د فتح خبر ورکړئ .

صرف همدا خبره يې وکوله او د اجل داعي ته يې لبيک وويل .

د خالد بن وليد موثر پيغام

حضرت خالد بن وليد ❽ د شام او اردن له فتوحاتو څخه وروسته مهم ښار قنسرين محاصره کړو په داسې حال کې چې تردې ښار لويه قلا تاو وه نو هغوی د قلا د ننه تلونکې ټولې لارې بندې کړې او خپله د ننه په قلا کې کېناستل د مسلمانانو له لوري د قلا محاصره پداسې حالت کې وه چې د ننه له کفارو سره هر ډول د ژوند ضروريات او سهوليات موجود وو ځکه د مسلمانانو له لوري نه دا محاصره اوږده شوه بله ورځ حضرت خالد بن وليد ❽ پخپله لاړو او دروازه يې وټکوله پوښتنه ترې وشوه چې څوک يې او څه ويل غواړې؟

حضرت خالد بن وليد وويل : زه ستاسې د مشر او يا دهغه د نماينده سره خبرې کول غواړم .

هغه د دروازې برج ته ورته راغلو ورته يې اواز کړو : زه د قنسرين د حاکم نماينده يم څه ويل غواړې؟

حضرت خالد بن وليد ❽ ورته وويل: ستاسې دا
كار بيكاره دى چې تاسې په قلعه كې ناست ياست
او په ځان پسې مو دروازې بندې كړې دي د الله په
نوم د قسم وي مونږ نه د مال او نه غنيمت
لپاره جنګېږو مونږ ددې ښار فتح كول صرف د الله
① د نوم او دهغه د دين د سرلوړي لپاره كوو
له مونږ سره زمونږ پيغمبر وعده كړېده چې مونږ
به دا ښار فتح كوو زما د قسم وي كه تاسې
وريځې ته هم وخېږئ مونږ به تاسې بېرته را
ښكته كوو ستاسې په خوښه او يا په زور به تاسې
زمونږ اطاعت خامخا كوئ .
كله چې د دوى مشر ته دا خبرې ور ورسول شوې
هغه ډېر زيات وډار شو او يو مجلس يې جوړ كړو
مشوره يې كوله چې څه وكوو؟
يو سپين ږيرى پادري وو هغه مشر ته وويل دا
خبرې دده نه دي پدې خبرو كې ماته د نبوت بوى
راځي زما دا رايه ده چې دروازې ورته خلاصې كړئ
او له مسلمانانو سره صلح وكوئ او يا ورته
تسليم شئ .
په همدې خبر باندې فيصله وشوه او په اسانه
سره پدې ښار د مسلمانانو واكمني راغله .

د کاميابي راز

کله چې په شام کې د مسلمانانو فتوحات يو پر بله پسې په تيزي سره روان وو ډېر روميان له خپلو جذباتو سره هِرَقل ته را ټول شول او ورته ويل يې دا مسلمانان خو زمونږ د کورونو خوا ته را روان دي له دوی سره به څه کوو؟

هِرقل خپل د ملک ملکي او نظامي مشران را ټول کړل او دوی ته يې خبرې کولې ويل يې:

عرب ستاسې نه په شمار کې ډېر دي ؟

دوی ورته يل : نه

ستاسې نه په سلاح کې ښه دي؟

دوی ويل : نه

نو بيا څه وجه ده چې هغوی تاسې ته ماتې درکولی شي او تاسې له هغوی سره جنګ نشئ کولئ؟

ددې سوال په ځواب کې ټول خلک غلي وو او ټولو خلکو ښکته کتل .

يو تجربه لرونکی کس ورته را پورته شو ورته ويل يې :

هغه خلک مونږ ته ځکه ماتې راکوي چې هغوی د شپې مونځ کوي او د ورځې روژې نيسي .

په چا باندې ظلم نه کوي .

په خپل مينځ کې يو شان ژوند کوي.

په وعدو باندې وفا کوي خيانت نه کوي .

د دوی په مقابل کې زمونږ دا حال دی چې مونږ شراب څښو، بد عمليانې کوو، په خلکو ظلمونه


کوو دا وجه ده چې زمونږ په حرکتونه کې جذبه نه وي او دهغوی په حرکتونو کې جذبه وي .

د قيادت رښتوني حقدار

د مسلمانانو د فتوحاتو د لړی د فراخه کېدو سره څه عيسايان را ټول شول او قيصر روم ته په فرياد ورغلل چې دا به څه کيږي مسلمانان خو ډير په تېزۍ سره زمونږ په ساحو باندې را روان دي زمونږ خو ستاسې نه بغير بل څوک نشته چې دفاع مو وکوي تاسې څه وکوئ کنه نو ټول به د مسلمانانو تر لاس لاندې شو هغه هم ددې خلکو خبرو په غيرت کې راوستلو او اراده يې وکوله چې د يو لوی لښکر تياري وکوي او په پوره قوت سره د مسلمانانو د قوتونو سره مخامخ شي او فيصله کونکی جنګ ورسره وکوي او خپل ټول قوتونه يې را ټول کړل او د يو لوی جنګ تياري يې وکوله او خپل فوځ يې انطاکيه سيمې ته را ورسولو حضرت عبيدة بن الجراح ❽ چې د مسلمانانو د فاتحينو د لښکر امير وو هغه ته ددې فوځ په اړه خبر ورغلو هغه خپل د مشورې کسان را ټول کړل او پدې اړه يې ترې مشوره و غوښته چې څه وکوو؟

د ډيرو خبرو نه وروسته پدې مشوره وشوه چې د شام په علاقو کې دې خپاره فوځونه ټول يو ځای ته را ټول کړل شي کله چې اسلامي فوځونه د شام د فتح شويو ساحو نه را ټولېدل نو ددې امله چې

اوس مسلمانان فوځونه ددې وس نه لري چې د هغه فتح شويو ځايونو ساتنه وكوي نو ددوى نه يې چې كومه جزيه اخستې وه هغه يې ټوله بېرته ور تقسيم كړه په هغه كسانو باندې يې ډېر زيات تاثير وكولو او ټولو خلكو به ويل چې رښتيا هم دېته عدل او انصاف وايي او چې كله اسلامي فوځونه ترې روانېدل ځينې خلكو وړپسې ژړل او ورته ويل به يې الله مو بيرته له كاميابۍ سره راستانه كړه په زمكه باندې رښتيا هم صرف تاسې مسلمانان د قيادت رښتوني حقدار ياست .



رښتوني قرباني

د اسلام په تاريخ کې يرموک دهغه واقعې نوم دى چې په کومه واقعه کې شام د تل لپاره د قيصر روم د واکمني څخه ووتلو او يرموک په اصل کې دهغه ميدان نوم دى چې په اردن کې واقع دى او په دى ځاى باندې د يرموک جګړه شوې وه دا هغه جګړه وه چې دوه لکه روميانو او ډېرش زرو مسلمانانو يو بل ته سره په خپلو اسلحو مخامخ شوي وو د حضرت عمر ❽ په زمانه کې وه ددې امله چې مهربان قائد امير المومنين حضرت عمر فاروق ❽ د خپل فوځ په اړه ډېر فکرمن وو تر دريو شپو پورې يې خوب ونشواى کولى او ټول ا هل مدينه به د هر مانځه نه وروسته له الله ① څخه غوښتل چې يا الله ① خپلو مسلمانو بندګانو ته په يرموک کې فتح ورکړې د مسلمانانو له لوري نه پکې په ډېرشو زرو کسانو کې ۱۱۰۰ کسان صحابه وو چې سل پکې بدريان (هغه کسان چې په بدر کې هم شريک شوي وو) موجود وو د اسلام په تاريخ کې ډېره سخته جګړه وه درى زره کسان پکې د شهادت لوړ مقام ته رسېدلي وو چې د روميانو لخوا نيم لښکر له مينځه لاړو حضرت حذيفه بن يمان رضى الله تعالى عنهما فرمايي چې زما د تره زوى زخمي وو ما چې لږ موقع پيدا کړه نو په هغه پسې پداسې وخت کې ورغلم چې د ابو پتک (په سفر د ابو وړلو لوښى) مې په لاس کې وو کله چې ورته ورسېدم هغه د زنکدن په

حالت کې او ډېر زيات تږى وچې شونډې پروت وو ما چې اوبه ورکول غوښتل هغه د اوبو څښلو نه انکار وکولو او چې په خوا کې يې بل ملګرى هم د تږې په سخت حالت کې زخمي پروت وو ماته يې اشاره وکوله چې هغه ته ابه ورکړم هغه ته چې ورغلم هغه حضرت هشام بن ابي العاص ❽ وو ما هغه ته اوبه ورکولې چې له هغې خوا نه مې يو آه اواز واورېدو حضرت هشام ❽ ماته اشاره وکوله چې اول يې هغه ته ورکړه او خپله يې اوبه ونه څښلې زه چې هغه دريم کس ته ورغلم هغه په شهادت رسېدلى وو چې بېرته په منډه د حضرت هشام ❽ لور ته راغلم هغه هم په شهادت رسېدلى وو بېرته چې په منډه د خپل تره د زوى خوا ته راغلم نو هغه هم د هماغه تندې او وچو شونډو په حالت کې شهيد شوى وو .



مسلمانه او مجاهده مور

د قادسيې جنګ د اسلام په تاريخ کې يو ځانګړی نوم لري کله چې حضرت عمر ❽ عام اعلان وکولو چې ټول مجاهدين د را ټول شي د روميانو جنګ ته ور وتل دي نو هرڅوک په خپله جذبه سره راغلل او د امير المومنين په خدمت کې حاضر شول چې جنګ ته لاړ شي حضرت خنساء رضی الله تعالی عنها هغه ښځه وه چې په جاهليت کې او هم په اسلام کې يې په شعر ويلو کې يو خاص مقام درلود پدې وخت کې ددې څلور زامن وو د جنګ قادسيې نه يې وړاندې څلور واړه را ټول کړل او ورته ويل يې: زما د زړه ټوټو ! تاسې پخپله خوښه اسلام قبول کړی دی او پخپله خوښه مو هجرت کړی دی زما د په الله ① قسم وي چې ما نه ستاسې د پلار سره خيانت کړی دی او نه مې ستاسې ميندې رسوا کړې دي (بد کار مې نه دی کړی) والله ستاسې په رښتيا سره د خپل پلار اولاد ياست الله ① تاسې ته په خپل نوم د جنګېدلو حکم کړی دی او اصلي نېکبختي خو داده چې ددې دنيا فاني ژوند د آخرت د ابدي ژوند نه قربان کړل شي سبا چې کله د جنګ ميدان ګرم شي تاسې به هم پاڅېږئ او په پوره مېړانه به د الله ① د نصرت سره و جنګېږئ د کفارو مقابله وکوئ که الله ① غوښتي وي په جنت کې ستاسې مېلمستيا به تياره وي .

چې د قادسیې په ورځ جنګ ګرم شو نو ددې مبارکې رضی الله تعالی عنها زامن یو په بل پسې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل کله چې دې رضی الله تعالی عنها ته د خپلو زامنو د شهادت په اړه وویل شول دې رضی الله تعالی عنها و فرمایل:

د الله ① ډېره شکرېه چې زه یې د دوی په شهادت باندې سرلوړې کړمه زما امید دی چې د الله ① د رحمت په سیوري کې به زه هم له دوی سره ومه .

رښتونی امیر

د حضرت عمر ❽ په زمانه کې د بیت المقدس په ساحه باندې د فتح د راوستلو او هلته د جنګ کولو ذمه واري ټوله حضرت عمرو ابن العاص ❽ ته حواله کړل شوې وه او کله چې رومیانو په یرموک کې ماتې وخوړه نو د کفارو ټوله توجه اوس بیت المقدس ته وه او دوی پوهېدل چې اوس به د مسلمانانو دوهم قدم بیت المقدس وي د دوی فکر رښتیا وو حضرت عمرو ابن العاص ❽ د خپلو زړورو مسلمانو مجاهدینو سره ورغلو او بیت المقدس یې محاصره کړو پدې وخت کې د مسلمانانو بل جنګي امیر حضرت ابو عبیده ابن الجراح ❽ هم راغلو ا و د حضرت عمرو ابن العاص ❽ سره یو ځای شو عیسایانو د جنګ دا طریقه خپله کړه چې هغوی به له قلا څخه جنګ کولو او میدان ته یې د راوتلو زړه نشوای کولی د قلا نه یو څه

وخت جنګ کېدلو لکن بالآخره هغوی پوه شول چې صرف په قلا کې پاتې کېدل او له ځان څخه دفاع کول د هېڅ بيماري علاج نه دی نو صلح ته يې غاړه کېښوده لکن شرط به يې دا وي چې امير المومنين ❽ به خپله راځي او له موږ سره به د صلح تړون کوي بيا به مسلمانانو ته اجازه ورکول کيږي چې بيت المقدس ته ننوزي کله چې حضرت عمر ❽ ته دا خبر ورسېدو نو هغه د هجرت په ١٦ کال د بيت المقدس په سفر باندې روان شو لکن څنګه روان شو؟ صرف لکه يو عام انسان داسې .. يو څه عامه خوراکه يو يې غلام او يو يې ا وښ چې په لاره کې به کله وربانديې غلام سپرېدو او کله به دی سپرېدو او له خپل غلام سره به يې په سمه توګه خپل د پښو د تللو نمبر تېرولو کله چې پداسې وخت کې ځای ته ورسېدو چې ټول مسلمانان او عيسائيان ورته انتظار وو پدې وخت کې په اوښ باندې د غلام د سپرېدلو نمبر وو نو هغه په اوښ سپور وو نو چې عيسايانو وليدو نو هغوی فکر کاوه چې امير المومنين هغه کس دی چې په اوښ سپور دی بيا ورته مسلمانانو وويل نه .. امير المومنين هغه کس دی چې په پښو ورسره را روان دی .


هغه راغلو او د عيسايانو سره يې د صلح تړون وکولو چې عيسايانو ته يې پکې د پوره امن اطمنان ډاډ ورکړو ا و هغوی ته يې د هغوی د مذهبي کارونو پوره ا زادي ورکړه او بيا يې اراده وکوله چې بيت المقدس ته ننوزي د

مسلمانانو مشرانو ورته يو آس او يوه ښه جامه ددې امله وړاندې کړه چې هغوی نه غوښتل چې کفار په زړګونو ددې په انتظار دي چې د مسلمانانو بادشاه ووينې او هغه يې اوس په داسې معمولي جامه کې چې د سفر په دوران کې نوره هم خيرنه شوېده ووينې .

لکن ده هغه آس او هغه قيمتي جامه رد کړه او ورته يې وويل :

مونږ ته الله ① په اسلام سره عزت راکړی دی او زمونږ لپاره هماغه عزت کافي دی پدې نقلي او جعلي شيانو باندې مونږ ځان ته عزت نه ورکوو او نه مو دا عزت په کار دی .

په ښار کې چې کله د عيسايانو مشر او پادريانو د مسلمانانو بادشاه ، دهغه جامه او له خپل رعيت سره دهغه ❽ رويه وليده نو ډير ورته حيران وو او دوی پخپله اعتراف کولو چې په رښتيا سره زمونږ د کتابونو څخه ښکاره کيږي چې همدا کس ددې وړ دی چې د بيت المقدس کلياني ورته ورکړل شي.



د امارت سره مينه نه كول

هغه كسان چې په اخلاص سره د الله ① ددين خدمت كوي هغوى يې په هرحال كې كوي كه هغه ته ښه وظيفه ور په غاړه شي هم خپل خدمت روان ساتي او كه د يو عام انسان په صفت ورڅخه كار واخستل شي نو هم خدمت كوي حضرت خالد بن وليد ❽ ددې خبرې يو رښتونى ګواه وو كله چې يو ځل حضرت عمر ❽ پداسې وخت كې چې دى د يو لښكر د امير په توګه لېږل شوى وو احوال پسې ور ولېږلو چې ته ما د لښكر د امارت نه لرې كړى يې ده ته چې كله دا خبر را ورسېدو ده صرف دومره وويل :

الحمد لله اوس زه تر امارت نه د يو عام جنګيالي په شكل كې د اسلام خدمت په ښه ډول سره كولى شم .

مهربان قائد امير المومنين حضرت عمر ❽ هم دده په اړه دخلكو له زړونو څخه د شك پورته كولو لپاره يوه ډله كسان ولېږل چې خلكو ته يې په هرځاى كې ويل :

ما حضرت خالد بن وليد ❽ ددې لپاره نه دى له امارت نه لرې كړى چې هغه كوم خيانت كړى دى بلكه صرف ددې لپاره مې لرې كړى دى چې هغه هرې خوا ته لاړ شي نو فاتح بېرته را ستنيږي هسې نه چې ځينې مسلمانان د فتح لامل صرف دى و ګڼي زه د بل چا په امارت سره دا خبره د ضعيفو او

د عامو مسلمانانو په زړونو کې ور په ځای کول غواړم چې مونږ صرف د الله ① په نصرت سره کاميابي ګټو نه د کوم شخص په مرسته .

اسلام، جزيه او يا جنګ

کله چې په ۲۰ کال د هجرت د حضرت عمرو بن العاص❽ په مشری کې مجاهدينو په مصر کې د بابليانو مشهوره قلعه محاصره کړه هغه قلعه ډيره سخته وه او د ور ختلو پرې هيڅ لاره نه وه او پدې وخت کې له مسلمانانو سره هم داسې آلات نه وو چې قلا وربانډې ماته کړي نو ځکه دا محاصره تر يو څه وخته پورې اوږده شوه حتی چې تر اوو مياشتو پورې مسلمانانو هغوی په محاصره کې وساتل بادشاه مقوقس چې پوه شو چې تر اوسه پورې د مسلمانانو په حوصله کې هيڅ فرق نه دی راغلی او د قلا د محاصرې لپاره لکه ټک وهل شوي ميخونه داسې ولاړ دي نو يې د صلح هلې ځلې شروع کړې او حضرت عمرو بن العاص ❽ ته يې يو ليک وليږلو چې لاندې ټکي پکې ليکلي وو.

تاسې زمونږ زمکې ته راغلي ياست او له ډيره وخته دلته پراته ياست ماته ښکاره کيږي چې تاسې کم ياست که چيرته اهل الروم په تاسې پسې را ووتل د چا تر حکم لاندې چې زه دلته پروت يم نو زه پوهيږم چې د ستاسې سره به د پښېمانې څخه بغير نور هيڅ هم پاتې نه شي زما رايه

داده چې تاسې ماته خپل يو سفير را وليږئ مونږ به له يو بل سره خبرې وكوو كېداى شي مونږ يوه حل ته سره ورسيږو او چې جنګ ونشي نو ښه خبره ده .

د حضرت عمر فاروق ❽ تر مشورې وروسته حضرت عمرو بن العاص ❽ ورته په ځواب كې وليكل :
زمونږ او ستاسې تر مينځه درى شروطونه دي كوم يو چې منلى شي ويې منه .

١. اسلام قبول كړه زمونږ ورور شه زمونږ او ستا په مينځ كې به مساوات راشي زمونږ او ستاسو حقونه به يو شان شي .

٢. كه دا نه وي نو بيا جزيه قبوله كړه زمونږ تر حمايت څخه به لاندې راشي اومونږ به ستا د ځان ، مال او هرڅه ساتونكي يو .

٣. كه دا د هم خوښه نه وي نو د جنګ ميدان ته را ووزئ چې الله ① زمونږ او ستاسې په مينځ كې صحيح فيصله وكوي .

دا ليک يې هغه چا ته په لاس وركړو چا چې مسلمانانو ته د مقوقس ليک راوړى وو كله چې بيرته ور ستون شو مقوقس د مسلمانانو په اړه دده څخه پوښتنې كولې او ده ورته ويل چې داسې كسان مې وليدل چې مرګ ته له ژوند څخه ډېر خوشحاليږي عاجزي يې له تكبر نه زياته خوښه ده ، نه د دنيا لوري ته حرص كوي او نه له بل ورور نه د ګټې ځاى ته ځان ور وړاندې كوي، بې تكليفه په خاورو باندې كيني او امير يې هم د دوى په مينځ كې يو عام انسان دى، د هغوى په

مينځ کې د غلام او د سردار په مينځ کې کوم توفير نشته ، کله چې د مانځه وخت شي ټول پاڅيږي مانځه ته او هيڅوک هم شا ته نه پاتې کيږي ، د مانځه څخه وړاندې ټول خلک مخ او لاسونه وينځي او په مانځه کې ډېر په عاجزي سره دريږي او داسې نورې خبرې يې د مسلمانانو د لښکر په اړه ورته وکولې کله چې مقوقس دا خبرې واوريدې نو په زړه کې يې وېره راغله او مسلمانانو ته تسليم شو .

خپل مجاهدين امتحان کول

د يرموک په جنګ کې په يوه صحنه کې د حضرت خالد بن وليد ❽ تر مشري لاندې د شپېتو کسانو مجاهدينو مقابله د بني غسان د شپېتو زرو کفارو سره راغله کله چې د صحابه وو ﷺ په مينځ کې پدې اړه مشوره روانه وه نو اکثر صحابه کرام ﷺ دې جنګ ته د فوځيانو د وړاندې کولو څخه مخالف وو لکن حضرت خالد بن وليد ❽ ورته وويل : زه دا يو مجاهد د زرو کسانو سره په مقابله کې صرف ددې لپاره وړاندې کوم چې زه اوس کتل غواړم آيا مونږ هماغه د حقې لارې مجاهدين يو کنه د کومو مرسته چې الله ① پخپله کوي؟ دا بني غسان خلک هم عيسائيان لکن عرب وو روميانو دوی ورته را مخې ته کړل چې دواړه عرب ډلې سره وجنګيږي کېدای شي مسلمانانو ته

ماتې وركړي لكن دوى ته معلومه نه وه چې كاميابي د عربو په قسمت كې نه بلكه د مسلمانانو په قسمت كې ليكل شوې ده حضرت خالد بن وليد ❽ چې كله د خپلو زړورو فوځيانو سره جنګ ته وړاندې شو په ښه مېړانه و جنګېدل او رښتيا يې هم الله ① مل شو او د دوى مرسته يې وكوله صرف لس كسان مجاهدين شهيدان شول (الله ① يې دې په جنتونو كې مرتبې لوړې كړي) او پنځه كسان دښمن ژوندي ځكه ونيول چې دهغوى په لاس كې تورې ماتې شوې او بيا ورسره د جنګېدلو څه پاتې نه شول او په ميدان كې ٥٠٠٠ پنځه زره عيسايان مړه پاتې وو اود زرګونو زخميانو له خولو نه يې فريادونه وتل په ميدان كې پراته وو .

رسول الله ❁ ته پيغام

د يرموك په تاريخي جنګ كې چې كله عيسائيان په داسې حالت كې وارخطا شول چې صرف د يوڅو محدودو مجاهدينو سره جنګ ته را وتلي وو بيا يې هم د شرم احساس ونه كولو او له شا نه يې په ځان پسې نور كمك وغوښت نو د اسلامي لښكر امير حضرت ابو عبيدة ابن الجراح ❽ هم د حضرت امير المومنين عمر ❽ څخه مرسته وغوښته ځكه معلومه نه وه چې په عيسائيانو پسې به نور څومره كسان راځي هسې نه چې په هغوى پسې كسان ډېر زيات شي او د مسلمانانو لپاره نقصاني شي

نو د مدينې منورې نه پسې نور کسان ورغلل پداسې حالت کې هلته ورسېدل چې په عيسائيانو پسې هم نور کسان راغلل او پدې وخت کې جنګ بغير د کوم تعهد نه درېدلی وو ځکه چې عيسائيانو ددې لپاره درولی وو چې هغوی صبر کولو چې نوي فوځيان راشي او مسلمانانو حمله نه کول غوښتل بلکه غوښتل يې چې دښمن دې ميدان ته را ښکته شي بيا به مونږ ورشو په همدې انتظار کې پراته وو چې عيسائيانو په مسلمانانو باندې د شپې په تياره کې حمله کول غوښتل او د شپې يې مسلمانانو ته ځان ښه نيږدې کړو چې څنګه د سحر رڼا خپره شوه پداسې حالت کې چې مسلمانان لا جنګ ته بالکل تيار نه وو يو دم ئې حمله وکوله حضرت خالد بن وليد ❽ په ډېره چالاکي سره د پنځو سوو کسانو په آسونو د سپرو مجاهدينو ډله له ځان سره کړه او جنګ ته ور وړاندې شول ترڅو چې نور مجاهدين جنګ ته تيارېدل هغوی د دښمن مخه ګرځولې وه او اجازه يې ورنه کړه چې د مسلمانانو په مرکز باندې حمله وکوي او زر زر ټول مسلمانان جنګ ته تيار شول او د يو صف په شکل کې دښمن ته ودرېدل پداسې وخت کې چې صفونه يو بل ته سره مخامخ شول د ازد د قبيلې يو ځان راغلو او قائد محترم ❽ ته يې ويل :


ای محترمه اميره ! ماته د جنګ کولو اجازه راکړه نور صبر مې په زړه باندې بوج کيږي او صبر نشم کولی ماته مې زړه وايي چې زر به زه د

رسول الله ﷺ سره يوځای شم که ستا څه پيغام وي راته ووايه چې ورته يې ورسوم.

❽ د قائد محترم حضرت ابو عبيدة ابن الجراح په سترګو کې اوښکې ورته را پيدا شوې ورته يې وويل:

څه الله ① د ستا ارمان پوره کړي کله چې د رسول الله ﷺ سره يو ځای شوې زمونږ سلام ورته ووايه او ورته ووايه چې ستا په حقه لار مونږ تر اوسه پورې روان يو او تا چې کومې د فتوحاتو وعدې له مونږ سره کړې وې هغه رښتيا شوې.

دا ازدي ځوان د روميانو لښکر ته ور ننوتی شو او هغوی ته يې اواز وروکولو زما مقابلې ته کوم پهلوان را ولېږئ يو په بل پسې ورته څلور کسان را ووتل او دی وربانديې غالب شو او قتل يې کړل بالآخره پنځم کس چې ورته را ووتلو د هغه د لاسه دی شهيد شو او دده د شهادت سره د تورو د شرنګ سره جنګ شروع شو.



اسلام ___ جزيه ____ يا جنګ

حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ د قادسيې د جنګ څخه وړاندې خپل يود استازيو ګروپ د شاه ايران دربار ته ددې لپاره ور ولېږلو چې د هغوی سره خبرې وکوې او د جنګ نه وړاندې ور باندې غاړه خلاصه کړي هغه چې د دوی د ورتلو نه خبر شول نو خپل فوځي مشران يې خپل دربار ته را وغوښتل او په لاره کې يې هم ورته د فوځيانو صفونه و درول ترڅو د دوی په زړونو کې خپل قوت ور په ځای کړي او دوی چې بېرته خپل قوم ته لاړشي نو د دې ترتيباتو او د زياتو فوځيانو او د شاه د دبدبې قصې به خپلو کسانو ته وکوي او دوی به وډار شي لکن دا معززين حضرات په ډېره بې پرواهي سره دربار ته ننوتل او له شاه سره يې په عادي توګه خبرې شروع کړې شهنشاه پدې وخت کې د عربو د جاهليت د زمانې څو خبرې وکولې چې دوی داسې قوم وو او داسې کارونه به يې کول او بيا يې دوی ته وويل چې تاسې څنګه زمونږ د طاقت سره ټکر کول غواړئ په تعداد کې ډېر کم او جنګي اسباب مو هم کمزوري دي .

حضرت قيس بن زراره ❽ ورته وويل :

هو د جاهليت په زمانه کې مونږ همداسې وو لکه تاسې چې په خپلو قصو کې وويل لکن کله چې رسول الله ☸ راغلو د جهالت دا قصې ختمې شوې او الله ①

مونږ ته په اسلام باندې عزت راکړو ددې امله دادي مونږ را روان يو يو په بله پسې ستاسې علاقې فتح کوو اوس مونږ راغلي يو تاسې ته دا ويل غواړو چې ستاسې سره هم صرف درې لارې دي پخپله يې پکې خوښه کړئ .

اسلام ___ جزيه _____ او يا جنګ

چې کوم يو مو خوښ وي قبول يې کړئ .

د شهنشاه په دربار کې داسې په جرئت سره غږيدل هم د شهنشاه په آند جرم وو اوپدې خبرو زيات غصه شو او په غصه کې يې ويل :

که چېرته د استازيو مرګ روا وی نو يقيناً چې تاسې ما ژوندي نه پرېښوئ .

بيا يې خپلو کسانو ته وويل ورشئ دوی ته په يوه ټوکری کې څه خاوره راوړئ او دوی ته يې ورکړئ چې زمونږ له لوري يې خپل امير ته ورکړي او ورته ووايي چې جنګ ته دې را وړاندې شي په وړوکې ټوکری کې خاوره مجاهدينو ته ورکړل شوه او دوی روان شول .

بيا يې په غصه کې وويل : زما جنګي قوماندان رستم به تاسې ډېر زر په قادسيه کې خښ کړي .

حضرت مغيرة بن شعبة ❽ په خدای په اماني کې ورته وويل :

مننه دومره خاوره تاسې راکړه پاتې به مونږ د توري په زور لتاسې څخه اخلو .

دا د خاورې ټوکری چې کله حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ ته ورسېده هغه فوراً خپلو ملګرو ته وويل :

فتح مو مبارک شه ﷲ ① له اوس نه د دوی د ملک دا خاوره مونږ ته راکړه انشاء ﷲ مونږ به په دوی باندې کامیاب کیږو .

د حضرت ربعي ❽ استازي توب

د قادسیې د جنګ نه وړاندې د ایرانیانو جنګي مشر رستم حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ ته احوال را ولیږلو چې یو استازی مونږ ته را ولیږه کېدای شي څه خبرې ته سره ورسیږو او جنګ ته ضرورت پېښ نه شي نو حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ حضرت ربعي بن عامر ❽ د خپل استازي په ډول ور ولیږلو دی چې کله هلته ورغلو ویې لیدل چې دده د دربار نه تر ډېره ځایه پورې قالینې ده ته هموارې شوې وې او وریښمي پردې ځوړندې وې او د پهلوانانو فوځیانو صفونه ورته ولاړ وو دا هرڅه صرف ددې لپاره وو چې د مسلمانانو د استازي په زړه کې رعب ور واچوي لکن د مسلمانانو استازی په ډېره بې پرواهي سره د هغه دربار ته ورغلو هغه په یو تخت باندې ناست وو چې قیمتي بالښتونه یې شاوخوا ته ایښي وو چې ملغلرې پکې ځلېدلې او قیمتي جامه یې په ځان وه حضرت ربعي ❽ راساً لاړو او د رستم سره په تخت کېناستو خلکو په دربار کې شور شروع کړو او چیغې یې وهلې او غوښتل یې چې د مسلمانانو استازی دې زمونږ د جنګي مشر سره په یو برابر

ځای کې نه کيني بلکه هغه د ښکته کيني حضرت ربعي بن عامر ❽ ورته ويل زه پخپله نه يم راغلی تاسې را غوښتی يم که ستاسې د خبرو زړه نه وي زه به بېرته لاړ شم زمونږ په دين کې دا نشته چې يو کس دې په تخت لکه خدای داسې ورته ناست وي او نور خلک دې لکه غلامان په ادب ورته ولاړ وي .

رستم خپلو خلکو ته وويل چې چپ شي او بيا يې له ربعي ❽ سره خبرې شروع کړې او په ټوکه ټوکه کې يې ربعي بن عامر ته وويل ستا د تورې پوښ هم زوړ شوی دی.

حضرت ربعي بن عامر ❽ ورته وويل : هو لکن د ننه پکې توره تازه او ځلانده ده تاسې صرف د تورې پوښ ته ولې ګورئ بلکه هغه کس ته وګورئ چې څوک توره چلوي چې مټ يې له طاقت نه ډکه ده او دهغه د تورې وار په هماغه ځای لګيږي کوم ځای چې هغه وهل غواړي .

او يوځه نورې خبرې يې ورسره وکولې چې له ځوابونو څخه يې رستم پخپله او د هغه ټول کسان ډير متاثر شول او اوس يې د نورو مشورو او خبرو لپاره وخت و غوښت لکن بالآخره خبرې ټولې ناکامې شوې جنګ وشو الله ① مسلمانانو ته فتح ورکړه او رسم د هلال نومي مجاهد په لاس ووژل شو .

د مسلمان امير قبوله دعا

د نهاوند په جګړه کې د مسلمانانو امارت د حضرت نعمان بن مقرن ❽ په لاس کې وو د جنګ په وخت کې يې درى دعا ګانې وکولې او درى واړه په هماغه ځاى قبولې شوې ده په خپله دعا کې ويل :

اى زمونږ ربه !

مونږ ته صبر او استقامت نصيب کړه .

پر دښمنانو باندې فتح راکړه .

ماته شهادت نصيب کړه .

دده د وصيت له مخې دده د شهادت نه وروسته امارت د حضرت حذيفه بن اليمان رضى الله تعالى عنهما په لاس کې شو فتح د مسلمانانو په نصيب شوه هغه د فتح نه وروسته د غنيمت پنځمه برخه د حضرت سائب بن اقرع په لاس باندې امير المومنين ته ور ولېږله حضرت عمر ❽ دده غزوې د خبر په اړه دومره نا قراره وو چې له مدينې منورې نه راوتلى وو په لاره کې يې انتظار ويسته که څوک راشي چې احوال راوړي کله چې حضرت سائب بن اقرع ❽ ورته را ورسېدو هغه ورته د فتح زيرى او د حضرت نعمان بن مقرن ❽ او د نورو څه کسانو د شهادت خبر ورکړو حضرت عمر ❽ ډېر نا قراره شو او ژړل يې حضرت سائب ❽ دده لپاره چې حضرت عمر ❽ ته يو ډول تسلي ورکړي ورته وويل :

امير المومنين ❽ پدې جنګ کې د حضرت نعمان بن مقرن ❽ نه علاوه بل داسې مشهور څوک شهيدان نه شول چې تاسې يې پېژنئ .

حضرت امير المومنين ❽ ورته و فرمايل:

دا چې زه يې نه پېژنم مهمه نه ده دا هرڅوک چې د الله ① د رضا لپاره شهيدان شوي دي الله ① د شهادت له نعمت نه برخه من کړي دي الله ① يې پېژني که زه يې پېژنم او يا يې نه پېژنم دا څه فرق نه غورځوي .

پټه خزانه

د نهاوند په جګړه کې مسلمانانو مجاهدينو ته ډېر زيات غنيمت په لاس ورغلو کله چې د فتح نه وروسته دا مال په مجاهدينو باندې تقسيم کېدلو نو يو کس پداسې حالت کې د امير حذيفه بن اليمان رضی الله تعالی عنهما په خدمت کې حاضر شو او ويل يې که تاسې ماته امان راکوئ نو زه دلته درته يوه حکومتي خزانه در په ګوته کولی شم دوی ورته د امان وعده وکوله هغه يو ځای مجاهدينو ته ور وښودو چې کله مجاهدينو را لوڅ کړو د قيمتي جواهرو يوه خزانه را ووتله چې يو لوی صندق د قيمتو کانو څخه ډک وو دا صندق کله چې را وويستل شو حضرت حذيفه بن اليمان رضی الله تعالی عنهما د ملګرو په مشوره دا صندق مکمل د امير المومنين حضرت عمر ❽ خدمت ته را ولېږلو

کله چې امير المومنين ❽ ته دا صندق راوړل شو ده وويل ددې کانو زما په وړاندې هيڅ قدر نشته او نه زه دا په بيت ا لمال کې اېښودل غواړم دا په حقيقت کې دهغه مجاهدينو حق دی چې لتاسې سره د نهاوند په جنګ کې شريکان وو دا بېرته حضرت حذيفه ❽ ته ور وړه او ورته ووايه دا په کوفه کې خرڅ کړئ او پيسې يې د لښکر په شا زلميانو باندې وويشئ دا ډېر زيات قيمتي مال وو چې د کوفې په بازار کې خرڅ کړل شو نو هر مجاهد ته ٤٠٠٠ څلور زره درهمه ور ورسېدل .

د خور غيرت

کوم وخت چې حضرت خالد بن وليد ❽ دمشق محاصره کړی وو وليدل شول چې له مسلمانانو څخه په پناه ځای کې خلک ګډېږي مسلمانانو پدې ا ړه تحقيقات وکول نو ښکاره شوه چې دوی خوشحال دي د مرستې لپاره يې يو لوی لښکر را روان دی حضرت خالد بن وليد ❽ د پنځه سوه آسونو سپاره کسان را غونډ کړل او دوی ته يې وظيفه ورکړه چې د نوي لښکر مخه ونيسي او هغوی پرې نه ږدي چې په دمشق کې د محاصره کسانو سره مرسته وکوي د دوی په مشري کې يې حضرت ضرار بن ازور❽ مقرر کړو او دا کسان يې مخې ته ور ولېږل حضرت ضرار ❽ خپل کسان د هغوی د راتلو په لاره کې ورته پټ کړل او کمين يې ورته ونيولو چې کله

روميان د دوی مينځ ته شول پنځه سوه کسانو وربانې په يو دم حمله وکوله ډېر زيات روميان ووژل شول او حضرت ضرار هم په ز خمي حالت کې ژوندی اسير شو .

کله چې حضرت خالد بن وليد ❽ ته خبر راغلو چې حضرت ضرار يې ژوندی ونيولو نو په خپل ځای باندې يې حضرت ميسره بن مسروق ❽ خليفه پرېښودو او پخپله د هغه لښکر مخې ته ورغلو چې کوم په دمشق کې د محاصره کسانو مرستې ته را روان وو او همدې کسانو حضرت ضرار اسير کړی وو پدې ډله کې چې دوی ور روان وو يو جنګيالی ښکاره کېدو چې په حجاب کې وو مخ يې نه ښکاره کېدو په جنګي لباس باندې پوښلی وو صرف دوه سترګې يې ښکاره کېدلې او په يوه لوړ او تکړه آس سپور وو حضرت خالد بن وليد ❽ چې څومره د کسانو څخه پوښتنه وکوله چاته ددې جنګيالي په اړه معلومات نه وو خو په جنګ کې يې داسې حرکت کولو چې فکر کېدو دا خالد بن وليد ❽ دی په ډېره مېړانه سره يې حمله کوله او په ډېره مېړانه سره يې د دښمن سر پرې کولو او دا دواړه د خالد بن وليد ❽ خصوصيتونه وو جنګ په سختي سره روان وو لکن د خالد بن وليد ❽ پدې جنګيالي باندې نظر وو چې د جنګ سختې لحظې لږ په قرار شوې نو حضرت خالد بن وليد ددې کس سره مخامخ شو چې دواړه په آسونو باندې سپاره وو

او پوښتنه يې تري وکوله چې نوم دې څه دی او د کوم ځای يې څوک يې؟ هغه جنګيالی د حضرت خالد بن وليد په ځواب کې پټه خوله وو خلکو ورته وويل چې امير لتا څخه ستا په اړه پوښتنه کوي او ته چپ يې؟

جنګيالي بيا سر ښکته کړو او ويې ويل زه خوله بنت ازور د حضرت ضرار ❽ خور يمه کله چې ماته معلومه شوه چې هغه ژوندی نيول شوی دی نو مې صبر ونشو او د خپل ورور د خلاصولو لپاره د جنګ ميدان ته را غلم .

حضرت خالد بن وليد ❽ ورته ويل : خوله خورې ته لاړه شه خپلې خيمې ته ترڅو چې مونږ ضرار د دوی له لاسه را خلاص کړی نه وي مونږ په ارام نه کينو هغه خو د اسلامي لښکر يوه قيمتي سرمايه ده ته بېغمه شه او ورته ټينګ شو تردې چې هغه يې ولېږله هغه خپلې خېمې ته لاړه هلته نورې خويندې هم وې چې د اسلامي لښکر سره د زخميانو د درملنې او خدمت لپاره راغلې وې .
او د پوره کوښښ نه وروسته حضرت ضرار د کفارو له لاس نه را خلاص شو .

د مسلمانو ښځو غيرت

د د مشق د محاصرې په وخت کې يو رومي مشر پطروس مسلمانانو ته دوکه ورکړه او څو زنانه يې په دوکه سره ونيولې چې په دوی کې په پورتنۍ قصه کې ياده کړل شوې حضرت خوله رضی الله تعالی عنها هم وه دا يې د نهر استرياق په لوري رواني کړې له بله پلوه د مسلمانانو فوځونو سالار حضرت خالد بن وليد ❽ ته چې دا خبره معلومه شوه په ډېره تادي سره يې دوه زره کسان له ځان سره ملګري کړل او د نهر استرياق په لوريې حرکت وکولو نهر ته له رسېدلو سره لښکر دمه وکوله پدې ځای کې يې مسلمانانو ښځو ته وويل تاسې به زمونږ سره واده وکوئ او دهغې نه وروسته به د دنيا هر نعمت ستاسې په وړاندې وي او حضرت خوله رضی الله تعالی عنها ته پطروس چې ډېر مالدار وو او د ډېرو روميانو په سر مشر وو د خپل ځان لپاره رغبت ورکولو چې له ده سره واده وکوي او هر ډول ترغيب يې ورکولو د پطروس د ډېرو ترغيبي خبرو په ځواب کې حضرت خوله رضی الله تعالی عنها ورته وويل :

زما چې وس شي پدې لرګي باندې زه ستا سر ماتوم زه تا د خپلو مېږو د څرولو لپاره هم نه نيسم ته خو لا دا وايې چې زه لتا سره واده وکوم .

پدې وخت کې حضرت خوله رضی الله تعالی عنها نورو ښځو ته وويل چې که بل څه نشته ددې خيمي لرګي

خو شته راځئ چې دا ټول را وباسو او ددې رومیانو سپیو سرونه وربانديٍ مات کړو لکن په خپلو ځانونو او په خپل قوم باندې خو د بیغیرتي داغ پرې نه ږدو .

دوی لرګي را وویستل او د رومیانو سره یې وهل وربانديٍ شروع کړل او پدې کې دری رومیان د لرګیو په وهلو وهلو سره ووژل شول ترڅو چې د نور لښکر د دوی خوا ته مخه کېدله او دوی یې بیا نیولې د حضرت خالد بن ولید ❽ د کسانو د تکبیر اوازونه د فوځیانو تر غوږونو را ورسېدل په داسې حالت کې چې د خالد بن ولید ❽ سره موجود ۲۰۰۰ مومنان د غیرت نه دغصې آخري حد ته رسېدلي وو په دشمن یې داسې حمله وکوله چې یو یې هم د خطر په نوم په دنیا کې کوم شی نه پېژندل سخت جنګ وشو هېڅ هم نه ښکاره کېدل صرف یو ګرد وو چې له زمکې نه پورته کېدو تردې چې ډېر زیات رومیان ووژل شول او پاتې یې له میدان څخه په تېښته بریالي شول او مسلماني خویندې په امان ددوی له لاسه را خلاصې کړل شوې .

رښتوني قيادت

د يرموک جنګ هم د اسلام په تاريخ کې يو له لويو جنګونو څخه دی پدې جنګ کې د کفارو او مسلمانانو لښکر بالکل د مقايسې وړ نه وو کفار ډير زيات او د هغوی په نسبت مسلمانان ډير کم وو لکن د حضرت خالد بن وليد قيادت وو چې مسلمانان يې ډير ښه منظم کړي وو او په ګروپونو يې تقسيم کړي وو په ميمنه (د فوځيانو په ښي طرف ډله) باندې يې حضرت عمرو بن العاص او شرحبيل بن حسنه رضی الله تعالی عنهما مقرر کړل په ميسره (د فوځيانو په چپ طرف ډله) يې يزيد بن ابي سفيان په قلب يې حضرت ابي عبيدة بن الجراح مقرر کړو او په خپله په مقدمة الجيش کې وړاندې شو حضرت ابو هريره ❽ د لښکر د قاضي په توګه او حضرت ابو سفيان ❽ يې د لښکر د مقرر په توګه و ټاکلو چې مجاهدينو ته خبرې وکوي او په هغوی کې د صبر او استقامت حوصله زياته کړي .

حضرت ابو سفيان ❽ غازيانو ته په خپلو خبرو کې ويل :

الله الله ای مجاهدينو ورونو ځوانانو تاسې معزز خلک عرب ځوانان ياست او د اسلام د مرستې لپاره راوتلي ياست لکن ستاسې دښمن روميان دي او د شرک د مرستې لپاره راوتلي دي په پوره ميړانه يې مقاومت وکوئ او بيا به يې دعا کوله ای الله

ننۍ ورځ يوه مهمه ورځ ده په خپل فضل سره د خپلو بندګانو د د دين د حاميانو مرسته وفرمايه .

کله چې کفارو حمله وکوله ددې امله چې کفار ډير زيات وو نو د مسلمانانو په صفونو کې ننېږدې وه چې بې نظمي جوړه شي او په کوم ځای باندې چې سخت جنګ وو د مسلمانانو د هغه برخې امير حضرت عکرمه ❽ وو پدې وخت کې حضرت عکرمه ❽ وويل :

ما تر اسلام وړاندې په هر ميدان کې د رسول الله ☸ مقابله کړېده نن دهغه ګناهونو پر ځای د نيکو کارونو کولو وخت راغلی دی نن څنګه کېدلی شي چې د کفارو په مقابل کې زما پښې په شا لاړې شي بيا يې په زوره سره چيغه وکوله راشي مسلمانانو لما سره په مرګ باندې بيعت وکوئ څوک داسې شته چې لما سره د مرګ بيعت وکوي (تر مرګه پورې له جنګ نه شا ته نشي) ؟

پدې وخت کې ٤٠٠ کسان دده سره را وړا ندې شول چې ځينې هغه صحابه هم پکې وو چې په زړورتيا او جنګي تجربه کې ښه مشهور وو دوی راغلل او د حضرت خالد بن وليد ❽ د خيمې مخې ته چې د کفارو زيات زور پدې ځای وو په جنګ بوخت شول تردې چې جنګ پای ته ورسېدو د حضرت عکرمه ❽ زوی حضرت عمر❽ او دی پخپله دواړه سخت زخميان شوي وو بيا دوی چې حضرت خالد بن وليد ❽ وليدل په سترګو کې يې اوښکې ورته راغلې د

دواړو سرونه يې په خپله غېږه کې کېښودل او په مينه مينه يې دواړو ته اوبه ورکولې تردې چې دواړه د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل .

د مسلمانو خويندو غيرت

د يرموک جنګ چې په اسلامي تاريخ کې يو ځانګړی نوم لري پدې جنګ کې مسلمانانو تر عقل لوړه کاميابي ګټلې وه داسې کاميابي وه چې هېچا يې هم تصور نه کولو لکن کله چې په يو طرف د روميانو لخوا ډېر فشار راغلو نو په هغه طرف کې جنګېدونکو مسلمانانو يو څه شاته تګ شروع کړو داسې ښکاره کېده لکه مسلمانانو چې ماتې خوړلې وي د مسلمانانو سره يوه ډله خويندې هم ددې لپاره تللې وې چې د زخميانو په مرهمونو پټې ولګوي هغوی ته اوبه ورکړي او د هغوی خدمت وکوي چې کله هغوی وکتلې چې مسلمانان د شاته کېدو په حالت کې دي مخې ته يې را ووتلې او چيغې يې ورته وهلې چې که نور په شا راغلئ بيا زمونږ مخونو ته ونه ګورئ مه راځي وروسته هر چا خپل عزيز ته اواز کولو چې فلانيه ور وړاندې شه په شا مه راځه او چې ډېر حالت سخت شو نو کانې يې په لاسونو کې واخستل غازيانو ته يې ښکاره کوله که دوی نور هم شاته راشي دوی به يې په کانو ولي ددې سره غازيان په جذباتو کې راغلل او په روميانو يې داسې ځوابي حمله وکوله چې هغوی يې شاته تګ ته اړ ايستل او هغوی دې سختې ته تېنګ نه شول او لږ وخت نه وو

تېر چې هغوی تر مخ شول او مسلمانانو پسې شاته منډه اخستې وه او وژل يې .

د شهادت ارمان

حضرت خالد بن وليد ❽ د شام او عراق د لويو جنګونو فاتح وو او ډېره زياته ساحه دده د توري په واسطه په اسلم مشرفه شوېده او د اسلام رڼا ور ورسېدلې ده او چې کله يې پدې ساحه کې پوره امن قائم کړو نو د يو څه وخت لپاره د قنسرين حاکم پاتې شو او پدې ځای کې په تنګ شو او استعفی يې وړاندې کړه ا و مدينې منورې ته يې تشريف راوړو د هجرت په ١٩ کال بېمار شو او د يو څه وخت بيماري نه وروسته وفات شو د ژوند په آخري لحظاتو کې يې ډېره بې قراري ښکاره کوله او په بستره باندې د نا قرار او وارخطا بېمار په څېر يو بل طرف ته آوړېدو چا ورڅخه پوښتنه وکوله چې داسې لوی جنګي امير د مرګ نه ډاريږي؟

ده ورته وويل نه زما د بې قراري وجه دا نه ده بلکه له څه وخت نه چې ما خپل لاس د رسول الله ﷺ په مبارک لاس کې ايښی دی په مختلفو جنګونو کې مې شرکت کړی دی او په هرجنګ کې مې دا آرزو وه چې کاش ماته د شهادت مرګ ورسيږي لکن افسوس چې راته ونه رسېدو ما په هرميدان کې د مرګ لټون

کـولـو او هغـه لـمـا څخه تـښـتـېـدو آخـر راغـلـو زه يـې پـه بـسـتـر بـانـدې ګـيـر کـړم زمـا بـدن تـاسـې وګـورئ زمـا پـه بـدن د يـوې څـپـړې ځـای داسـې نـشـتـه چـې هـلـتـه د تـورې يـا خـنـجـر زخـم لـګـېـدلـی نـه وي افـسـوس دی د هغـه ډارنـو پـه حـال چـې هغـه هـره ورځ مـړه کـيـږي او غـيـرتـمـن خـلـک صرف يـو ځـل مـړه کـيـږي .

پـه همدې حـالـت کـې پـه بـسـتـر بـانـدې وفـات شو (الله ① يـې دې لـه مـونـږ سره پـه شـهـيـدانـو کـې حشر وکـوي) .

جنـازه يـې حضرت عمر ❽ اداء کـولـه د جنـازي پـه مـهال يـې امـيـر الـمـومـنـين ❽ فـرمـايـل : مـورانـې د داسـې زامـنـو د زېـږولـو نـه عـاجـزې دي لـکـه خـالـد د خـالـد بـن ولـيـد مـرګ داسـې نـقـصـان دی چـې عـوض يـې هېڅ کـلـه نـشي پـيـدا کـېـدلـی ای سـلـيـمـان (خـالـد بـن ولـيـد❽) الله ① د تـاتـه د مـحـمـد ☸ د امـت لـه لـوري نـه ښـه اجر درکـړي .

د جرجير په قتل انعام د هغه لور

د حضرت عثمان ❽ په زمانه کې د هجرت په ۲۷ کال د مصر والي حضرت عبد الله بن ابي سرج وو هغه د امير المومنين څخه اجازه وغوښته چې مونږ په افريقا باندې حمله کوو او خپل ملګري يې هلته په ميشتو کافرانو پسې ور وويستل او جنګ شروع شو او د جنګ طريقه دا وه چې تر غرمې پورې به هره ورځ دوی جنګ کولو او بيا به جنګ بس شو او دواړو طرفونو به د سبا ورځې لپاره د جنګ تياري شروع کړه پدې وخت کې له مدينې منورې څخه حضرت عثمان ❽ نور مسلمانان د کمک لپاره په هغوی پسې ور ولېږل او ددې نوې ډلې مشري يې د حضرت عبد الله بن زبير په لاس کې ورکړه کله چې عبد الله بن زبير ❽ د جنګ ميدان ته له نويو فوځونو سره ورسېدو د جنګ طريقه يې بدله کړه او مسلمانان جنګيالي يې په دوه برخو وويشل يوه ډله به تر غرمې پورې جنګېدل او بيا به هغه ډله وروسته شول او دوهمه ډله به ميدان ته ورانديې شوه او تر ماښام پورې به وجنګېدل چې په دوهمه ورځ هم په همدې ډول سره جنګ وشو دښمن وارخطا شو پدې وخت کې د کفارو مشري جرجير کوله د جنګ په وخت يې اعلان وکولو چې

هرڅوک د مسلمانانو جنګي مشر عبد الله بن زبير قتل کړي زه به هغه ته خپله لور په نکاح ورکوم دې خبرې روميان کفار تر يو څه وخت پورې نور هم په جذباتو کې را وستل لدې طرف نه عبد الله بن زبير ورته اعلان وکولو چې هرڅوک جر جير قتل کړي زه د جرجير د لور نکاح له هماغه کس سره ترم پدې وخت کې حضرت عبد الله بن زبير ❽ يو لوړ ځای ته وختلو ويې کتل چې د کفارو د لښکر مشر د لښکر شا ته ولاړ دی او خپل جنګيالي په جنګ ور تيزوي او دوه غلامان ورسره ولاړ دي او کوم شی يې وربانده نيولي دي په ده باندې يې سيوری جوړ کړی دی حضرت عبد الله بن زبير ❽ لکه باز داسې ورغلو او حمله يې وربانده وکوله او د هغه سر يې له تن څخه بېل کړو په کفارو کې چې دا خبر خپور شو ماتې پکې ګډه شوه په څو لحظو کې د جنګ له ميدان څخه و تښتېدل او ډېر زيات مالونه يې مسلمانانو ته په غنيمت کې پاتې شول دا په افريقا کې د مسلمانانو لمړی فتح وه پدې سره د فتوحاتو دروازه خلاصه شوه او د وليد بن عبد الملک اموي خليفه په زمانه کې ټوله افريقا فتح شوه .

په الله ① باندې باور او تکيه

يو وخت حضرت علي ❽ ته ځينو مسلمانانو وويل چې خوارج ستاسې سره ډېره زياته دښمني کوي ښه خبره به دا وي چې تاسې هروخت بيدار اوسئ هسې نه هغوی په تاسې باندې په بې خبري کې حمله وکوي او تاسې شهيد کړي ددې په ځای چې وډار شي ده ❽ ورته په ډېر اطمنان سره وويل :
ترڅو چې زما د مرګ خپل وخت نه وي راغلی څوک هم ما نشي وژلی الله ① ما تر يو ډال لاندې په خپل حفاظت کې محفوظ ساتي او کله چې زما د مرګ وخت راشي دا ډال به زما څخه لرې شي او ما به مرګ ته حواله کړي په هغه وخت کې به نه د مرګ غيشی خطا ځي او نه به د مرګ د زخم علاج ممکن وي .

د حضرت علي ❽ شهادت

ابن ملجم په حضرت علي ❽ باندې قاتلانه حمله وکوله او هغه يې په داسې توره باندې ووهلو چې په هغه باندې زهر لګول شوي وو او په هغه وخت کې به چې په داسې توره څوک ولګېدل نو بيا يې د جوړېدو صورتونه ډېر کم وو دی مبارک چې څنګه

پدې توره باندې ولګېدو اواز يې وکولو الله اکبر يا ربه زه کامياب شوم دا سړی درڅخه ونه تښتي .

کله چې د خپل ژوند څخه نا اميده شو نو يې وصيت شروع کړو او ويل يې :

ای خلکو د الله ① سره شريک مه نيسئ او د رسول الله ☸ طريقې مه ضائع کوئ دا دواړه چراغونه لګېدلي ساتئ بيا تاسې په حقه ياست او هېڅ شی به تاسې ته تاوان نه کوي تاسې په حقه ياست زه پرون ستاسې ملګری وم ، نن ستاسې لپاره يو عبرت يم او سبا به لتاسې څخه جدا شم که زه ژوندی پاتې شوم نو د خپل مجرم سره به خپله څه معامله وکوم او که چېرته وفات شوم نو زما قبر به ورک کړئ که چېرته زه خپل قاتل معاف کړم نو دا زما لپاره ثواب دی .. تاسې يې معاف کړئ آيا تاسې نه غواړئ چې الله ① د تاسې معاف کړي؟ زما د قسم وي زه نه د مرګ نه کرکه کوم او نه راته کوم نوی شی معلوميږي زما مثال د هغه تږي دی چې اوبه يې پيدا کړې وي او د هغه تالاش کونکي دی چې خپل مقصد ته رسېدلی وي هغه څه چې د الله① سره دي د نيکي کونکو لپاره هغه ډېر غوره دي .

د ارادې عجيب بدلون

قريشو ددې لپاره مشوره كوله چې هره ورځ د محمد ﷺ د خبرو له امله په مكه كې يوه نوې مشكله ورځ وي نو ښه داده چې محمد ﷺ قتل كړل شي او ددې ټولو خبرو بنياد به ختم كړل شي ددې كار لپاره عمر ابن الخطاب انتخاب شو او دا كار يې په غاړه واخستو ځرنګه چې هغه يو تكړه ځوان وو نو كوم كار به يې چې په غاړه واخيستو په هغه كې به بريالى راتلو نو ټولو كفارو فكر كاوه چې ښكاري محمد ﷺ به تر سبا پورې ژوندى پاتې نه شي عمر ابن الخطاب د لوڅې تورې سره په رسول الله ① پسې ور روان وو چې په لاره كې چا ورځخه دده د قصد او عزم پوښتنه وكوله ده ورته وويل ځم د محمد ﷺ په قتل پسې .

ورته وويل شول چې ته دهغه په دعوت دومره غصه يې او ستا خپل آوښي حضرت سعيد او ستا خور فاطمې رضى الله تعالى عنهما چې اسلام قبول كړى دى په هغه باندې هيڅ غصه نه درځي؟ ددې خبرې په آورېدو سره يې رايه بدله شوه او سيده د خپلې خور كور ته لاړو د كور نه بهر يې غوږ ونيولو چې د قران كريم تلاوت كېدو او قران زده كول كېدو پدې سره نور هم غصه شو چې دوى ورته دروازه خلاصه كړه په خپل آوښي يې د وهلو شروع وكوله او سخت سخت يې ووهلو كله يې چې خپل خاوند په داسې حالت كې وليدو نو فاطمه بنت

الخطاب رضی الله تعالی عنها هم په جذباتو کې راغله ورته يې وويل :
ای عمره ای زما وروره څه چې کول غواړي وکوه مونږ اوس اسلام قبول کړی دی او کله به هم بېرته د کفر خوا ته ور ونه ګرځو .... دې يوې جملې د عمر ابن الخطاب ټول ژوند بدل کړو او پخواني يې هرڅه د زړه څخه ووتل د اسلام په ابتدايي خبرو يې ځان له خپلې خور څخه پوه کړو او د اسلام د قبلولو په نيت د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او په اسلام مشرف شو .

رښتونی صبر

حضرت خباب بن ارت ❽ چې کله په اسلام مشرف شو نو کفارو وربانديې ډېرې خوارۍ وکولې چې له اسلام نه يې بېرته واړوي لکن الله ① هغه ته بې مثاله استقامت ورکړو ده ته به په سکرو باندې اور بل کړل شو بيا به وربانديې دی ور څملول شو تر هغه وخته به وربانديې پروت وو چې دده د بدن څخه به چربي لاړه او هغه اور به يې ګل کړو او په شا کې يې داسې داغونه جوړ شوي وو چې دده يو ماشوم زوی به پکې ګوتې ورکولې او کله چې په ده باندې د کفارو ظلمونه ډېر زيات شول نو رسول الله ﷺ په خپله دعا کې بې اختياره وويل :
ای الله د خباب مرسته وکوه .

رښتوني استقامت

ابو فکيهه ❽ د قريشو د يوې کورنۍ عبد الدار غلام وو د اسلام په اول وخت کې په ايمان مشرف شوی وو کفارو او خپلو مالکانو وربانديې تر حد زيات کوښښ وکولو او له هېڅ ډول ظلم ئې وربانديې له کولو نه مخ وا نه اړولو لکن بيا هم دی په خپل اسلام بانديې کلک ولاړ وو په سره غرمه کې به چې په سخته ګرمه شګه بانديې څملول شو دديې لپاره چې ونه ښوريږي په سينه به يې لوی کاڼی کېښودل شو او د مکې سخته ګرمه غرمه به يې هلته تېرولــه يوه ورځ چې اميه ده ته تعذيب ورکولو صفوان بن اميه ورته راغلو او په مسخرو کې يې ورته ويل ولې ستا رب امية نه دی؟ ده ورته فرمايل زما رب خو الله دی صفوان ته پرې غصه ورغله او په مرئ يې زور ورته وکولو تردې چې سترګې يې بهر ته را ووتلې او دوی ګمان کاوه چې ووژل شو بيا يې پرېښودو لکن بيا هم ژوندی وو پدې ټولو سختيو يې صبر کړی وو تردې چې حضرت ابو بکر صديق ❽ واخستو او ازاد يې کړو لکن تر آخر پورې يې له خپل اسلام او ايمان څخه ونشوای ګرځولی.

فايده من تجارت

کله به چې مهاجرين له مکې مکرمې نه مدينې منورې ته تلل د اکثرو نه به مالونه په خالي ميدان پاتې کېدل په داسې کسانو کې يو حضرت صهيب رومي وو دا يو لوی سوداګر وو چې کله مکې مکرمې ته راغلو نو هيڅ مال ورسره نه وو تجارت يې شروع کړو او د ښو پيسو مالک شو کله چې د هجرت وخت شو ده هم ځان تيار کړو چې مهاجر شي د مکې کفار ورته په لاره کې ودريدل او ورته ويل يې صهيبه ته چې کله مکې ته راغلې خالي لاس وې دلته دې زمونږ سره سودا ګانې وکولې او د پيسو مالک شوې اوس دا ټولې پيسې ته له ځان سره وړل غواړې دا نشي کېدلی .

ده ❽ ورته وويل : که زه خپل مال تاسې ته پرېږدم بيا ماته د تلو اجازه شته؟

دوی ډېر زيات خوشحال شول او ټولو ورته وويل هو بيا ته تلی شې .

حضرت صهيب ❽ خپل ټول مال دوی ته پرېښودو او خپله خالي لاس لکن د ايمان د سرمايې سره مدينې منورې ته روان شو په ښکاره سره ډېر لوی تاوان وو لکن چې کله د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضر شو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : صهيب پدې سودا کې فايده کړېده .

د جنت معامله

د بدر په جنګ کې لکه ددې سلسلې په دريم کتاب کې په تفصيل سره تېر شول د حضرت سعد بن خيثمه ❽ پلار ده ته وويل: ته په کور کې پاتې شه او زه به د رسول الله ☸ سره لاړ شم لکن سعد ❽ بيا هم پدې خبره ټينګار کولو چې نه زه پخپله ځم او ته په کور کې پاتې شه خبره نه حل کېده او دواړو ويل چې زه ځم لکن په کور کې هم د يوه پاتې کېدل ضروري وو نو دوی دواړو پدې اتفاق وکولو چې پچه به واچوي (قرعه اندازي به وکوي) چې کله پچه واچول شوه نو زوی وګټله پلار يې بيا هم ورته ويل زويه ! خير دی ته پاتې شه ماته اجازه راکړه چې د رسول الله ☸ سره لاړ شم زوی يې ورته ويل پلاره ! که د دنيا متعلق هر ډول خبره وای نو قسم دی چې خپل حق مې تاته درکړی وای لکن دا د جنت معامله ده پدې کې زه خپل حق تاته نشم درکولی زما اميد دی چې الله ① به ماته شهادت راکوي حضرت سعد ❽ لاړو او د هغه ١٤ بختورو کسانو له جملې نه وو چې الله ① يې په بدر کې شهادت نصيب کړو او پلار يې د احد د جنګ نه وړاندې رسول الله ☸ ته ويل ما خوب ليدو زوی مې راته ويل راځه پلاره په جنت کې

زمونږ ملګرتيا وکوه هغه ❽ هم په احد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو .

د الله په لاره کې د جنګېدلو ارمان

حضرت انس بن نضر جليل القدر صحابي وو لکن د څه مشکلاتو له مخې يې ونشواى کولى چې د بدر په جنګ کې برخه واخلي ددې امله به هغه ❽ ډېر زيات ارمان کولو او رسول الله ☸ ته يې ويل چې زه پدې ډېر زيات خفه يم چې د اسلام او کفر په مينځ کې په لمړي جنګ کې زه ولې حاضر نه وم او په زړه کې به يې ويل که دا ځل د اسلام او کفر په مينځ کې زما په ژوند کې جنګ وشو زه به خپل ارمان د دوى په وژلو باندې پوره کړم دا ارمان يې په زړه پاتې وو تردې چې د احد د غزا وخت راغلو او کله چې په لوى تعداد کې کفار له مسلمانانو سره په يو دم مخامخ شول نو حالات ډېر سخت شول په هغه وخت کې چې رسول الله ☸ زخمي شو اوازه خپره شوه چې رسول الله ☸ شهيد شو حالت ډېر نازک وو پدې وخت کې د حضرت انس بن نضر سره حضرت سعد بن معاذ ❽ مخامخ شو حضرت انس ❽ ورته وويل اى سعد راځه چې جنت ته لاړ شو زما د قسم وي د احد له درې څخه ماته د جنت بوى راځي او ددې اواز سره يې د کفارو په يو ټولي حمله وکوله ډېر زيات سخت و جنګېدو تردې چې الله ① يې شهادت نصيب کړو کله چې جنګ پاى ته

ورسېدو دده بدن مبارک چې وکتل شو د زخمونو څخه ډک شوی وو او شکل يې هم خراب کړل شوی وو او هېچا نه پېژندلو چې دا څوک دی آخر يې خور مبارکه رضی الله تعالی عنها راغله او هغې د گوتو له سرونو څخه و پېژندلو .

د خور صبر

ددې سلسلې په څلورم کتاب کې تېره شوه چې کله د رسول الله ﷺ مبارک تره حضرت حمزة ❽ په شهادت ورسېدو نو هند راغلې وه دهغه يې شکل مبارک هم ور خراب کړی وو او د هغه گېډه مبارکه يې هم څېرلې وه نو رسول الله ﷺ امر وکولو چې زما د تره جسد مبارک زما عمه حضرت صفيه ته مه ور ښکاره کوئ ځکه دهغې ورور دی په کار نه ده چې هغه يې په داسې حالت کې ووينې حضرت صفيه رضی الله تعالی عنها چې دا ټولې خبرې او د خپل ورور د شهادت نه وروسته د هغه د شکل د خرابولو په اړه يې آورېدلي وو ټينگار يې کاوه چې ماته دې د خپل ورور جسد مبارک را ښکاره کړل شي رسول الله ﷺ ته يې فرمايل : ای رسول الله ﷺ ما دخپل ورور حمزه ❽ په اړه هرڅه آورېدلي دي تاسې ماته د هغه د جسد مبارک د کتلو اجازه راکړئ زه يوه مسلمانه ښځه يم زه به صبر وکوم بې

صبري نه کوم بيا يې چې وکتلو صرف انا لله و انا اليه راجعون يې وويل بېرته ترې لاړه .

حضرت اُحيرم ❽

د احد په جنګ کې پداسې حالت کې چې دواړه ډلې (مسلمانان او کفار) سره مخامخ شوې وې ډېر سخت حالت وو د تورو د شرنګهار له امله د انسانانو بل څه اواز نه آورېدل کېدو صرف د الله اکبر نعرې وې چې د تورې د شرنګهار سره په يوځاى آورېدل کېدلې پداسې حالت کې يو کس راغلو رسول الله ﷺ ته يې وويل زه ايمان راوړم او که جنګ وکوم رسول الله ﷺ په ټول امت مهربان پيغمبر ورته وويل اول ايمان راوړه بيا جنګ وکوه هغه په ايمان مشرف شو او د اوس نه وروسته د مسلمانانو په صف کې ودرېدو له کفارو سره يې جنګ کول شروع کړل تردې چې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو کله چې د اويا کسانو صحابه وو ﷺ مبارک جسدونه پورته کېدل نو دده بختور جسد هم پکې وو رسول الله ﷺ دده په اړه وويل ده کم عمل وکولو او د زيات اجر مستحق شو او د اسلام په تاريخ کې يوازينى داسې مسلمان شهيد وو چې يو مونځ يې نه وو کړى او نه يې يوه روژه نيولې وه او جنت ته لاړو دا بختور حضرت اُحيرم ❽ وو .

د رسول الله ﷺ سره رښتوني مينه

حضرت زيد بن دثنه انصاري ❽ له هغه لسو صحابه وو څخه وو چې رسول الله ﷺ هذيل قبيلې ته د قران كريم او اسلام د درس وركولو لپاره لېږلي وو لكن هغوى ورسره خيانت وكولو او آته كسان يې تري شهيدان كړل دوه يې په مكه كې په قريشو باندې ددې لپاره خرڅ كړل چې هغوى به يې شهيدان كړي او په بدر كې د وژل شويو خپلوانو بدل به ترې واخلي په هغو كې يو حضرت خبيب وو او بل همدا مبارك ❽ وو دا چې كله په مكه مكرمه كې هغه ځاى ته راوستل شو چې دده د اعدام لپاره تيار شوى وو نو كفارو دى په ورو ورو سره وژل غوښتل لكن ده د پوره صبر او استقامت نه كار واخيستو او د دوى ظلمونو ته يې سينه سپر كړې وه په ثبات سره ولاړ وو پدې وخت كې ابو سفيان په نيزه ووهلو او ورته يې وويل چې اې ته دا نه غواړې چې ته دې خلاص كړل شې او ستا په ځاى دې محمد ووژل شي؟

ده ورته وويل ستاسې په تورو او نيزو سره ماته دومره تكليف نه رسيږي لكه تاسې چې د محمد ﷺ په اړه بد الفاظ واياست چې د هغو نه كوم تكليف ماته رسيږي زما د قسم په خداى وي چې زما بدن د ټوټې ټوټې كړل شي بيا هم زه په خپل حالت خوشحال يم لكن د رسول الله ﷺ په تكليف نه خوشحال كيږم .

ابو سفيان وويل : د محمد ﷺ سره چې د هغه ملګري څومره مينه کوي بيا ما دومره مينه د هيڅ شي سره نه ده ليدلې .

د ځانګدن د وخت پيغام

حضرت سعد بن ربيع الانصاري هغه جليل القدر صحابي وو چې کله د احد جنګ پاى ته ورسېدو رسول الله ﷺ صحابه وو ته وويل څوک به ماته حال راوړي چې سعد بن الربيع په څه حال کې دى شهيد شوى دى او که ژوندى دى؟ که ژوندى وي زما سلام ورته ووايا‌ست او پوښتنه يې وکوئ چې څنګه دى؟ حضرت محمد بن مسلمة ؓ د يو قول له مخې زيد بن ثابت ؓ وويل زه به يې ا حوال درته راوړم هغه لاړو او سعد بن الربيع يې په داسې حالت کې پيدا کړو چې زخمي وو لکن تراوسه پورې ژوندى وو ورته يې وويل رسول الله ﷺ درته سلام ويل او پوښتنه يې دې کوله چې څنګه يې؟ هغه ورته وويل زما د لوري نه ورته سلام ووايه او ورته ووايه چې ماته د جنت بوى را رسيږي او ټول قوم ته زما له لوري نه سلام ووايه او ورته ووايه چې د الله ؓ په وړاندې به بيا ستاسې هيڅ عذر نه وي که تاسې ژوندي وئ او رسول الله ﷺ څه تکليف وليدو .

غلی کونکی ځواب

کله چې د امويانو د حکومت دوره پای ته ورسېده نو د خليفة المسلمين منصور العباسي د خلافت زمانه شوه د کوم کس په اړه ورته وويل شول چې له ده سره ډېر زيات مال دی چې د امويانو له حکومت څخه ورسره پاتې شوی دی چې ده ته د امانت په ډول کېښودل شوی وو منصور حکم وکولو چې دا کس د راوستل شي او فوراً يې د قيد کولو حکم ورباندې وکولو منصور ورته وويل مونږ آورېدلي دي چې لتا سره د اموي دولت څه مال دی چې لتا سره د امانت په ډول کېښودل شوی وو هغه مونږ ته حواله کړه .

هغه کس ورته وويل : ای امير ا لمومنين ولې ته د امويانو ميراث خور يې؟

منصور ورته وويل : نه

هغه کس ورته وويل : نو بيا ولې هغوی تاته څه وصيت کړی دی چې د هغوی مال د تاته حواله کړل شي؟

منصور ورته وويل: نه

هغه کس ورته وويل: چې تاسې نه د هغه وارث ياست او نه هغه ستاسې په حق کې څه وصيت کړی دی بيا ستا څه حق دی چې د هغه د امانت مالونو په اړه پوښتنې کوې؟

منصور د يو څه وخت لپاره فکر وکاوه بيا يې وويل : خبره داده چې امويانو په ډېرو خلکو باندې ظلمونه کړي دي هغه ظالمان وو او د ډېرو

خلکو په مالونو يې قبضې کړې دي اوس زه د هغه کسانو وکيل يم زه غواړم چې د هغوی حقونه له امويانو ظالمانو څخه واخيستل شي او خپلو څښتنانو ته ورکړل شي .

هغه کس ورته وويل : ای اميرالمومنين! ستا خبره هغه وخت صحيح ده چې ته څه شرعي ګواهي وړاندې کړې او دا ثابته کړې چې لما سره د امويانو کوم مال دی دا هغه مال دی چې دوی له خلکو څخه قبض کړي دي ځکه ښکاره خبره ده چې له امويانو سره داسې مالونه هم وو چې هغه د دوی شخصي وو او په هغو کې د ظلم او غصب هېڅ شبهه نه وه .

منصور بيا خپل وزير ته وکتل او ورته يې وويل دا کس رښتيا وايي زمونږ فی الحال دده سره څه کار نشته .

بيا يې هغه کس ته وکتل او ورته يې په خندا کې وويل : ستا څه خدمت شته چې زه يې درته وکوم ؟

هغه ورته وويل هو !

اول خدمت دا چې زما کور ته يو قاصد ولېږه چې هغوی ته ووايي چې زه په خير يم ځکه تاسې چې زه دلته را وغوښتم هغوی ډېر پرېشان شوي وو او سخت وارخطا وو نو د هغوی د تسلي لپاره يو ليک ليکل په کار دي .

دوهم داچې هغه کس را وغواړه چې تاسې ته يې زما شيطانت کړی دی زما د قسم وي د امويانو لما سره يو درهم يو دينار نشته لکن ما ويل که زه تاسې ته اوس وايم چې لما سره نشته نو ددې دليل نه د خلاصون لپاره دا ښه دليل دی چې ما

تاسې ته وويل نو ما په سر کې انکار ځکه ونه کولو .

منصور خپل وزير ته امر وکولو : هغه کس را حاضر کړئ .

هغه شيطانت کونکی کس چې را حاضر کړل شو نو بندي کس ورته وويل جناب دا خو زما غلام دی چې لما څخه يې درى زره درهمه پټ کړي او تښتېدلی وو .

منصور په غصه کې د غلام طرف ته وکتل او ورته يې وويل : ووايه رښتيا څه دي؟

غلام وويل : هو جناب دی چې څه وايي هغه رښتيا دي .

بيا منصور بندي ته مخ ور واړولو چې خير دی اوس يې معاف کړه

بندي ورته وويل : دده جرم ما معاف کړی دی او کومې پيسې يې چې تښتولې دي هغه مې هم ورته بښلې دي او په کور کې مې درى زره درهمه نور دي هغه هم ورکوم .

منصور به دا کس هروخت يادولو چې څه عجيب کس وو او څومره مهربان وو

د الله ① لټون

وايي چې حضرت ابراهيم بن ادهم په اول کې زيات مالدار وو او د هماغه مالداري له وخت نه د الله تعالی يو پرهيزګار عابد وو يوه شپه چې په قيمتي تعمير کې په قيمتي کوټه کې په ذکر باندې مصروف وو نو په بام يې د پښو اواز شو ده وربانديې ا واز وکولو څوک يې؟ ځواب ورته راغلو يو کس يم اوښ مې ورک شوی دی اوښ لټوم؟ ده رحمه الله ورته وويل عجيبه ده د داسې تعمير په سر اوښ لټول ..

له هغې خوا ورته ځواب راغلو ترديې لا زياته عجيبه ده په داسې تعمير کې الله ① لټول ....

دې ځواب دی ډېر ژور فکر ته ور وغورځاوه چې بله ورځ يو کس بغير ددې چې په دروازه کې ودريږي او د ننوتلو اجازه وغواړي سيده دده کوټې ته راغلو ده ورڅخه پوښتنه وکوله چې څوک يې او دلته څه کوې؟

ده وويل مسافر يم د څه مودې لپاره دلته پاتې کېدل غواړم .

حضرت ابراهم بن ا دهم رحمة الله عليه ورته ويل دا خو څه مسافر خانه نه ده چې مسافر به راځي او دلته به څه دمه کوي دا خو زما کور دی او زما د هستوګنې ځای دی .

مسافر ورته وويل : سمه ده لتا نه وړانديې دلته څوک اوسېدل؟

ده ورته وويل : زما والد صاحب

مسافر ورته وويل : د هغه څخه وېراندې ؟
ده ورته وويل زما نيکه
مسافر ورته وويل نو دا مسافر خانه نه ده نو څه شی دي ؟ يو ځل پکې ستا نيکه وو بيا ستا پلار وو او اوس پکې ته اوسېږي هغه هم د يو څه وخت لپاره نو پدې خبره بيا ابراهيم بن ادهم رحمه لله پوه شو او هرڅه يې پرېښودل د غريبي ژوند يې شروع کړو تر مرګه پورې يې د فقر او غربت ژوند کولو او د الله ➀ په عبادت به مصروف وو.

د جهاد جذبه

حضرت عبدالله بن ام مکتوم ❽ په سترګو باندې ړوند وو د جهاد نه مستثنی وو لکن په زړه کې يې د جهاد سره ډېره زياته مينه وه او کله کله به يې ددې خواهش چې سترګو مې کار کولی ددې لپاره کولو چې غوښتل به يې جهاد کې يې شرکت کړی وای چې نورو صحابه وو به ورته ويل چې ته جهاد ته نشې تلی او رسول الله ☸ به دی ❽ په مدينه منوره کې د خپل خليفه په توګه پرېښودو چې د خلکو امامت وکوي نو ده به ويل چې ما له ځان سره جهاد ته بوزئ که نور څه نشم کولی نو دا خو کولی شم چې تاسې مې د اسلامي فوځ مخې ته ودروئ او بيرغ په لاس کې راکړئ نو دا خو درسره وعده کوم چې ترڅو ژوندی يم په هماغه ځای به

ولاړ وم او بيرغ به مې پورته نيولى وي انشاء الله چې تښتم خو به هېڅکله نه .
آخر يې صحابه وو دا ارمان ور پوره کړو دهجرت په پنځلسم کال قادسيې په جګړه کې يې په زغره باندې پوښلى په ميدان کې و درولو او اسلامي بيرغ يې په لاس کې ورکړو او تر هغه وخته پورې يې پورته نيولى وو چې الله ① يې شهادت نصيب کړو .

تر شهادت وړاندې د حضرت حسين ❽ تقرير

کله چې په کربلا کې د حضرت حسين ❽ په شهادت پسې د يزيد خلک را ورسېدل نو دى پوه شو چې اوس به دوى د يزيد سره بيعت کولو ته ما په زور سره بلا قيد او شرط نه مجبور کوي او يا به مې وژني نو د محرم په لسم د يزيد د لښکر مخې ته په اوښ باندې سپور را ووتلو او هغوى ته يې خبرې شروع کړې ورته ويل يې .
اى د کوفې خلکو زه ښه پوهېږم چې زما دا خبرې کول څه نتيجه نه ورکوي او تاسې چې کومه اراده کړېده هغه به تاسې پرې نه بږدئ لکن زه دا غواړم چې د الله ① په وړاندې زما سره دومره دليل وي چې لتاسې سره د جنګ نه وړاندې ما تاسې ته د خير لور ته غوښتنه درکړې وه او تاسې ته مې نصيحت کړى وو اى خلکو په تاسې کې

چې ما څوک پېژني هغه خو مې پېژني او هغه کسان چې ما نه پېژني هغه مې دې نن په ښه توګه و پېژني زه د رسول الله ﷺ لمسی د حضرت علي او حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنهما زوی يم حضرت جعفر طيار ❽ زما تره وو ما په ټول ژوند کې له چا سره وعده نه ده ماته کړې ، نه مې لمونځ پريښی دی ، نه مې کوم مومن قتل کړی دی او نه مې ورته ضرر رسولی دی که چېرته په دنيا کې د حضرت عيسی ⌛ خر هم پاتې وی نو تر قيامت پورې به عيسايانو د هغه ساتنه او پالنه کوله تاسې څنګه د رسول الله ﷺ امتيان او مسلمانان ياست چې ما په ناحقه سره وژل غواړئ تاسې نه له الله ① څخه ډارېږئ او نه د رسول الله ﷺ نه تاسې ته شرم درځي ما څوک وژلي نه دي چې په بدل کې يې زما قتل ضروري وي تاسې ماته وواياست تاسې په کوم دليل زما وينه ځان ته حلاله ګڼئ زه خو په مدينه منوره کې خاموش او غلی د رسول الله ﷺ په قدمونو مبارکو کې پروت وم تاسې به راته مسلسل د دعوت خطونه را لېږل چې دلته راشه کله چې زه ستاسې ځای ته د درتللو په نيت را ووتلم تاسې اوس له خپلو وعدو څخه و ګرځېدئ نو لږ تر لږه ما خو وژنئ مه بېرته مې تلو ته پرېږدئ .

پدې سره ټول لښکريان پټه خوله ولاړ وو او هېچا اواز ونه کولو .

په آخر کې حضرت حسين ❽ ورته وويل : د الله ① شکر دی چې زما لپاره ستاسې په مقابل کې په قيامت کې دليل پيدا شو تاسې به دا عذر ونشئ ويلئ چې مونږ نه پوهيدو چې څه وکوو او يا مو نه پېژندلو چې دا څوک مو قتل کړی ...

مسلمان فاتح قائد

حضرت عقبه بن نافع رحمه الله د افريقا د فتح نه وروسته هلته د اسلامي دولت له لوري نه والي وو د يو څه وخت ولايت څخه وروسته شام ته لاړو او دده په ځای باندې ورته ابو المهاجر د والي په توګه ور ولېږل شو څرنګه چې د ابو المهاجر له ورتلو څخه وروسته بېرته په افريقا کې د بغاوتونو لړی شروع شوه نو عقبه رحمه الله بېرته هلته د والي په توګه مامور کړل شو هغه رحمه الله چې کله افريقا ته د هلته را پيدا شويو بغاوتونو د قرار کولو لپاره روان شو نو قسم يې وکړو ترڅو چې شهيد شوی نه وم يا مې ټوله افريقا فتح کړې نه وي تر هغه وخته به زه به د افريقا د خلکو سره جنګ کوم .
کله چې هلته ورسېدو تر ټولو وړاندې يې د هغه لښکر سره جنګ واقع شو چې د باغه په ځای کې د بربريانو او روميانو له اتحاد څخه تشکيل شوی وو او هغوی ته يې ماتې ورکړه بيا يې په افريقا کې سر په بله پسې ځايونه فتح کول تردې چې يو داسې ځای ته ورسېدو چې ټوله افريقا يې

تر اسلامي حکومت لاندې کړه او په مخه کې ورته سمندر راغلو د سمندر په غاړه ودرېدو او ويې ويل :

اى الله ! كه چېرته دا سمندر په مخه کې نه واى تر کومه ځايه پورې به چې ستا زمکه پيدا کېده زه به ورباندې تلم او د کفارو سره به مې ترهغه وخته پورې جنګ کولو چې ترڅو يې اسلام قبول کړى نه وي اى الله ① تاته ښه معلومه ده چې زه هغه څه غواړم کوم شى چې ستا دوست ذى القرنين غوښتي وو چې ستا نه بغير دې دهېچا عبادت نه کيږي .

له خلافت نه ګوښه کېدل

يزيد بن معاويه چې کله د هجرت په ٦٤ کال کې مړ شو د هغه په ځاى يې زوى معاويه بن يزيد د ٢١ کالو په عمر کې حاکم شو د پلار په نسبت دا ډېر دين دار او تقوى دار انسان وو د يو څو مياشتو حکومت څخه وروسته يې خلک را ټول کړل او تقرير يې ورته و کولو ورته ويل يې :

په ما کې د حکومت د بار د پورته کولو طاقت نشته ما غوښتل چې لکه د ابو بکر صديق ❽ داسې په خپل ځاى باندې بل څوک مقرر کړم لکن افسوس چې ما د عمر ❽ په ډول څوک پيدا نه کړل بيا مې غوښتل چې داسې وکوم لکه حضرت عمر ❽ چې کړي وو چې شپږ غوره د امانت او ديانت کسان

غوره كړم او دوی ته د راتلونكي په اړه د فيصلې واك وسپارم لكن په هغه ډول شپږ كسان اوس ما پيدا نشوای كړلی ددې امله زه د خلافت او حكومت څخه اوس خپل ځان خلاصوم تاسو چې څنګه غواړئ په هماغه ډول د ځان لپاره امير او خليفه پيدا كړئ .

پدې سره يې ځان له حكومت څخه ګوښه كړو .

د يو څه وخت د تېرېدلو څخه وروسته هغه وفات شو .

مسلمانه مور

د عبد الملک بن مروان په وخت كې دده په حكم باندې حجاج بن يوسف مكه مكرمه پداسې حالت كې محاصره كړه چې عبد الله بن زبير ❽ پكې وو او عبد الله بن زبير پدې وخت كې د څه كسانو سره وو او دا د حضرت اسماء بنت ابي بكر صديق رضی الله تعالی عنهما زوی وو حجاج په ده ❽ باندې محاصره اوږده كړه ددې محاصرې له امله په مكه مكرمه كې د خوراكي توكيو كمي راغله او خلک د آسونو حلالولو او خوړلو ته مجبور شول نو چې كله حالات په سختي كې دې حد ته ورسېدل نو د عبد الله بن زبير ❽ ډېر كسان حجاج ته تسليم شول او اوس يو څو محدود او خاص كسان د عبد الله بن زبير ❽ سره پاتې وو او څرنګه چې حالات نور هم

په سختېدو وو نو په دوی باندې هم څه ډېر اعتبار نه وو .

د حالاتو دې نازکتوب ته په کتلو سره حضرت عبد الله بن زبير ❽ لاړو د خپلې مور حضرت اسماء رضى الله تعالى عنها سره يې مشوره وکوله او هغې ته يې ټول حالات وويل بيا يې ورته وويل په داسې حالاتو کې ستاسې مشوره څه ده مورې مونږ څه وکوو سره ددې چې اوس مونږ ته د تسليم کېدلو په بدل کې زمونږ سره د ښې رويې وعده هم راکړل شوېده ؟

مور مبارکې يې ورته وويل :

بچيه ته پخپله خپل حالت ته وګوره که ته چېرته په حق سره جنګېږې نو خپل جنګ روان وساته او بالکل دښمن ته د تسليم سر مه ښکته کوه ځکه ستا ډېرو ملګرو ددې حق لپاره خپل ځانونه قربان کړي دي او که چېرته ته د کوم دنياوي مقصد لپاره جنګ کوې نو په زمکه به د الله په بندګانو کې تر تا بد بخت بنده کوم يو وي چې په خپله دې ځان په هلاکت کې واچولو او نور ملګري دې هم هلاک کړل او يا دې هلاکت ته نېږدې کړل او اوس که ستا دا عذر وي چې زه د الله ① لپاره جنګېدم لکن اوس مې ملګرو پرېښودم يوازې شوم نو ياد لره چې د الله ① مخلصو بندګانو هېڅکله داسې نه دي کړي چې په هغوی مشکلات راغلي وي نو دوی د ښمن ته تسليم شوي وي ته تر څه وخته پورې په دنيا کې ژوند کول غواړې؟ مرګ خو خامخا يوه ورځ راځي ځه لاړ شه په حق باندې

ځان قربان کړه په دنيا کې له ژوند څخه په حق قربانېدل غوره دي .

چې د مور دا ځواب يې واورېدو حضرت عبد الله بن زبير ❽ ورته وويل :

زه صرف په دې ډارېږم که دښمن ما مړ کړي زما شکل به خراب کړي او په دار به يې وځړوي .

مور يې ورته وويل کله چې کوم حيوان قتل کړل شي بيا دهغه نه چې څرمن ويستل کيږي مړه حيوان ته ورڅخه هېڅ ډول تکليف نه رسيږي ځه لاړ شه د الله ① نه مرسته وغواړه او په پوره طريقې سره خپل کار وکوه زه به په هر حالت کې صبر کوم که ته چېرته زما څخه وړاندې له دنيا څخه رخصت شوې نو زه به صبر کوم او که ته چېرته کامياب شوې نو په کاميابي به دې خوشحالي کوم .

دا خبرې يې ورته وکولې او خپل زوی يې رخصت کړو .

د مرګ څخه نه ډارېږو

د وليد بن عبدالملک په زمانه کې د قتيبه بن مسلم تر مشري لاندې د چين لوري ته اسلام په زياته پيمانه خپور شو او ډېرې علاقې په هماغه وخت کې پدې ساحه کې فتح شوې کله چې د فتوحاتو لړۍ مخکې په وړاندې روانه وه د چين خلکو وغوښتل چې مخکې ددېنه چې له مونږ سره هم د مسلمانانو سره جنګ ته د وړاندې کېدلو ضرورت کيږي نو ښه به دا وي چې څه د صلح لار ولټوو نو

په همدې غرض يې د قتيبة بن مسلم نه غوښتل چې مونږ ته خپل وفد را ولېږي چې مونږ ورسره خبرې وکوو قتيبة بن مسلم رحمه الله د هبيره بن مشرح ❽ په مشرۍ کې د لسو کسانو وفد ده ته ور ولېږلو هغه د مسلمانانو له وفد سره بيا بيا خبرې وکولې لکن څه داسې نتيجه يې نه ورکوله چې دده زړه ورباندې ښه شي په آخري ملاقات کې يې اسلامي وفد ته خبرې کولې او د دوی ډارول يې شروع کړل او ورته ويل يې :

ښه به دا وي چې تاسې قتيبه ته ووايې چې ددې ځای نه لاړ شي ماته ستاسې د لښکر تعداد معلوم دی يو څو کسان ياست محدود کسان ياست زه به داسې فوځ درپسې در ولېږم چې له بېخ نه مو ختم کړي .

د اسلامي وفد مشر ورته وويل :

ته داسې فوځ ته کم فوځ ويلی شې چې يو سر يې ستا په ملک او بل سر يې لا په شام کې وي مونږ له مرګ څخه بالکل نه ډارېږو مرګ هر چا ته په خپل وخت راځي او چا ته چې په داسې حالت کې راشي چې هغه خپل ځان قربان کوي دا د عزت مرګ وي ددې امله مونږ نه له مرګ څخه ډارېږو او نه مو بد ايسيږي زمونږ سردار قسم خوړلی دی چې ترڅو ستاسې علاقه فتح نه کړي او لتاسې نه جزيه وانخلي هغه بېرته نه ځي .

ددې خبرو سره د کفارو د مشر خاقان دماغ په ځای شول ددېنه وړاندې هغه ليدلي وو چې تر ده څخه لوړ لوړ طاقتونه د مسلمانانو په وړاندې

خم شوي وو نو يې جزيې قبلولو ته غاړه کېښوده او په يوه بوجۍ کې يې دوی ته څه خاوره ددې لپاره ورکړه چې حضرت قتيبة د مسلمانانو جنګي امير ددې قسم کړی وو چې دی به په خپلو پښو باندې د چين خاوره پايمال کوي او له هغوی نه به جزيه اخلي نو هغه به دا خاوره پايمال کړي او جزيه به مونږ ورکړو دهغه قسم به پوره شي .

لا الــه الا الله

حجاج بن يوسف د بني امية په دور کې د عراق هغه والي وو چې په اسلامي واليانو کې د ظلم يوازينی نوم لوري څو ځله خلک را تول شول چې دده په خلاف بغاوت وکوي او ددې کوښښ وکوي چې دی له خپلې ساحې څخه لرې کړي لکن کله به چې بغاوت کېدو ددې په ځای چې دده په رويه کې ښه بدلون راشي هغه به ظلم نور هم زيات کړو نو هغه پاڅون به ناکام شو پدې پاڅونونو کې يو هغه پاڅون وو چې عبد الرحمن بن اشعث يې مشري کوله د وخت لويو علماوو او فقهاوو يې ملاتړ وکولو له بده مرغه پاڅون ناکام شو ډېر زيات کسان يې شهيدان کړل او ځينې يې ونيول او زيات يې په عذاب کړل او ډول ډول تکليفونه يې ورکړل بيا يې خوشې کړل په وژل شويو کسانو کې محترم تابعي حضرت سعيد بن جبير رحمه الله هم وو د اشعث د ناکام پاڅون څخه وروسته حضرت سعيد رحمه الله د اصفهان او هغه سره نېږدې مختلفو

ځايونو کې خپل ځان پټ وساتلو بالاخره يې مکې مکرمې ته پناه راوړه .
پدې وخت کې د حجاز په ټوله سيمه باندې والي حضرت عمر بن عبد العزيز وو چې دده د ښې رويې او نيکو خويونو له امله به ډېر کسان له عراق څخه راتلل او دلته به يې د امن او سکون ژوند تېرول غوښتل حجاج په عالي مقام کې د عمر بن عبد العزيز په خلاف شکايت وکولو او وليد بن عبد الملک را پاڅېدو حضرت عمر بن عبد العزيز يې له ولايت څخه لرې کړو او د مکې والي يې خالد بن عبد الله قسري کړو خالد بن عبد الله القسري چې څنګه خپله وظيفه په لاس کې واخيسته نو په مکه مکرمه او حجاز کې يې په عراقيانو پسې شروع وکوله يو يو به يې نيولو او حجاج ته به يې سپارلو پدې سلسله کې حضرت سعيد بن جبير رحمه الله هم کوفې ته بېرته راوستل شو او د زنځيرونو او هتکړو سره يې دده په خپل کور کې بندي کړو دده اهل او اولاد چې دده په لاسونو او پښو کې هتکړۍ وليدې نو زيات ورته نا قرار او پرېشان شول حضرت سعيد رحمه الله به چې خپل ماشوم زوی په غېږه کې کېنولو هغه به چې دده په لاسونو کې ځنځېرونه وليدل نو په چغو چغو يې ورته ژړل سبا بوتلل شو او د حجاج په مجلس کې حاضر کړل شو سره ددې چې حجاج ته د چا وژل څه کار نه ښکاره کېدو او ډېر ظالم انسان وو خو حضرت سعيد رحمه الله دده په وړاندې ډېرې بې پروا او له وېرې نه پاکې خبرې وکولې ځينې به د حجاج داسې خبرې وې چې ده به يې ځواب نه ورکول

غوښتل لكن د ځينو به يې داسې خواب وركولو چې ډېر د اطمنان او بې پرواهي نه به ډک وو .
د خبرو په آخر كې حجاج وويل : زما د قسم وي زه به تا خامخا وژنم .
حضرت سعيد رحمه الله ورته وويل كه ته داسې وكوې نو څنګه چې په ما باندې زما مور سعيد (نېک بخت) نوم ايښى دى زه به رښتيا نېک بخت وم ستا په شقي (بد بخت) كېدلو كې به هېڅ شک پاتې نه شي .
حجاج پدې سره ډېر زيات غصه شو او د يو څه وخت لپاره غلى شو بيا يې له ده څخه پوښتنه وكوله ښه ده ته راته ووايه څه ډول مرګ دې خوښ دى؟
حضرت سعيد رحمه الله ډېر په بې پروايي سره ورته وويل تا چې الله زما په بدل كې وژني تاته په څه ډول مرګ خوښ دى زما هم هماغه ډول خوښ دى .
پدې وخت كې حجاج بن يوسف جلاد ته حكم وكولو چې قتل يې كړه .
كله چې د جلاد توره د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله غاړې ته ور ورسېده دهغه سر يې له تن څخه بېل كړو .
كله چې د حضرت سعيد رحمه الله سر په زمكه باندې ولوېدو يو ځل په زوره اواز سره يې وويل لا اله الا الله او دوه ځلې يې بيا ورو ورو وويل
حجاج چې كله دا هرڅه په خپلو سترګو وليدل دده په دماغو يې بد تاثير وكولو او تر مرګه پورې به يې بيا كله كله يادوله او ويل به يې :
زما او د سعيد معامله خطرناكه ده .

د نجات لار جهاد كول دي

د وليد بن عبد الملك په زمانه كې هسپانيه د مسلمانانو په لاس فتح شوه تر فتح وړاندې هلته د يو ظالم بادشاه اډرک واكمني وه هغه په په زور سره په خپلو خلكو كې ښائسته جينكۍ را ټولولې او استعمالولې خلك ټول ترپنه په تنګ وو لكن خلک نه پوهېدل چې څه ورسره وكوي دده تر حكم لاندې ډېر داسې خلک وو چې د هغوی لوراني او خوراني له هغوی څخه په زور بېول شوې وې او بې عزته شوې وې هغوی دېته تيار وو چې كه د دوی سره هرڅوک جنګ كوي نو هغوی تر آخري وس پورې د هغوی مرسته وكوي او داسې خلكو به مسلمانانو ته ليكونه رالېږل چې د دوی لپاره څه وكوي او زمونږ ساحې ته د فتح لپاره راشي دوی يې مرسته كولى شي دا خطونه به حضرت موسى بن نصير رحمه الله ته راتلل ددې لپاره چې حالات ښه معلوم كړي چې آيا دا ليكونه چې راځي رښتيا به هم څوک د دوی مرسته وكوي او كه نه صرف خبرې دي؟ يو غلام يې ولېږلو چې ا حوال ورته راوړي او بيا يې د حضرت طارق بن زياد رحمه الله په واک كې اوه زره كسان جنګيالي وركړل او د هسپانيې د فتح او هلته د جنګ كار يې په غاړه وركړو هلته چې كوم كسان وو چې خپل حكمران ته په غصه وو هغوی يې لارښونه كوله او طارق بن زياد تر لوی سمندر هسپانيې ته د افريقا له لورې ور ننوتلو او چې كله تر ابو

پورې وتل نو کومې کښتۍ چې دوی پکې د افريقا نه را پورې وتلي وو هغه يې ټولې همدلته وسوزلې چې د مجاهدينو په زړونو کې د بېرته تللو اميد ختم شي راډرک د هسپانيې بد عمله حکمران چې د طارق بن زياد رحمه الله نه خبر شو نو يو لک کسان يې د دوی مخې ته را ولېږل او د دوی مخې ته يې مرکز جوړ کړو حضرت موسی بن نصير په فوري توګه پنځه زره مجاهدين نور د طارق بن زياد د مرستې لپاره ولېږل په وادي لکه کې ميدان د جنګ کولو لپاره غوره کړل شو د جنګ نه وړاندې حضرت طارق بن زياد رحمه الله خپلو کسانو ته تقرير شروع کړ او داسې يې ورته وويل :

زما ملګرو له جنګ څخه د تېښتې هېڅ صورت نشته مخکې دښمن دی او شا ته سمندر په الله د قسم وي نجات صرف په استقلال او ازادي کې دی زمونږ فوځونه هغه فاتح فوځونه دي چې ماتې نه خوري د عدد کموالی دې فوځ ته هېڅ نقصان نشي ورکولی لکن د ډارېدلو ، سستي کولو، نا ځواني کولو ، بې غيرتي کولو ، اختلاف کولو او کبر کولو سره که څومره زيات لښکر هم وړاندې کړل شي هغه نشي کامياب کېدلی ملګرو په ما پسې به راځئ کله چې زه حمله وکوم تاسې به هم حمله کوئ او کله چې زه درېږم تاسې به هم درېږئ د جنګ په وخت کې به د يوه بدن په ډول سره کار کوئ زه به پدې ظالم حکمران راډرک باندې حمله کوم او لاس په لاس ورسره جنګ کوم که زه پدې جنګ کې شهيد شوم تاسې به غم او فرياد نه کوئ او مه زما

څخه وروسته اختلاف کوئ که تاسې داسې وکوئ ستاسې زور له مينځه ځي او تاسې به برباد شئ خبردار په ذلت به نه رضا کېږئ او نه به خپل ځان دښمن ته حواله کوئ په دنيا کې چې الله ① تاسې ته په دنيا کې کوم عزت او يا شهادت اېښى دى صرف دهغه خواته به ورځئ .
د مهربان قائد رحمه الله ددې زړه را ښکونکي تقرير نه وروسته دولس زره کسانو د يوه جسم په شکل باندې په کفارو باندې حمله وکوله او جنګ پيل شو د مقابل لوري نه يولک کسان وو لکن صرف د يوڅو لحظو لپاره ټينګ شول دوى چې د مسلمانانو بې دريغه ګذارونه وليدل چې يو وار يې هم د يو سر پرې کولو نه بغير نه ځي نو يې د مقاومت حوصله له لاسه ورکړه او ډېر وخت نه وو تېر شوى چې په دومره لوى لکن بې ايمانه لښکر کې ماتې ګډه شوه او په منډو سر شول فتح د مسلمانانو په نصيب شوه مسلمانان چې د خپل قائد په تقرير او د خپل قائد په جذباتو باندې مجهز وو ښکاره فتح نور هم خوشحال کړل او سره را ټول شول د هسپانيې په زمکه يې د اول ځل لپاره الله ته سجده کېښوده او د شکر مونځ يې په هماغه ميدان کې اداء کړو .

په جومات کې صرف د الله ① تعظيم

حضرت سعيد ابن مسيب رحمه الله جليل القدر تابعي هغه وخت په مسجد نبوي کې ناست وو چې وليد بن عبد الملک پدې وخت کې د مسلمانانو بادشاه د مسجد نبوي کتلو ته راغلو او د مديني منورې په ساحه باندې والي عمر بن عبد العزيز هم ورسره وو پوليس راغلل ددې لپاره چې بادشاه په ښه توګه د جومات د هرې اړخې په کتلو باندې وتوانيږي نو ټول خلک يې له جومات څخه وويستل کله يې چې د حضرت سعيد رحمه الله نه وغوښتل چې تاسې هم پدې وخت کې له جومات نه لاړ شئ هغه ورته وويل ترڅو چې زما د جومات نه خپل معمول وخت نه وي شوی زه نه وزم د پوليسو د بيا بيا ټينګار نه وروسته هم دده همدا ځواب وو تردې چې وليد بن عبد الملک د عمر بن عبد العزيز سره را ننوت او په جومات کې يې کتل څوک راغلل حضرت سعيد بن مسيب رحمة الله عليه ته يې وويل : پا څېږه د امير المومنين احترام وکوه .

حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله ورته وفرمايل : جومات د الله ① کور دی او پدې وخت کې زه د الله ① په عبادت باندې مصروف يم زه نشم کولی چې د الله ① عبادت و دروم او د يو انسان د تعظيم لپاره پاڅېږم .

په ګرځېدو ګرځېدو کې د وليد بن عبد الملک نظر په حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله باندې پرېوتو

پوښتنه يې وکوله دا بزرګ څوک دی؟ بيا يې پخپله وويل آيا دا حضرت سعيد بن مسيب دی؟
عمر بن عبد العزيز ورته وويل : هو هماغه دی .
او عمر بن عبد العزيز ورته زياته کړه : هغه په نظر باندې کمزوری دی هغه نه دی خبر چې تاسې تشريف راوړی دی که هغه خبر وای چې تاسې ياست بيا به هغه خامخا ستاسې مخې ته پاڅېدلی وو او ستاسې تعظيم به يې کړی وو لکن هغه معذور دی .
وليد بن عبد الملک ورته وويل :
هېڅ خبره نه ده زه به ورشم او دهغه د حال پوښتنه به وکوم .
د جومات په کتلو مصروف وو ترڅو هغه ساحې ته هم ور ورسېدو چېرته چې دی مبارک ناست وو وليد بن عبد الملک وربانديې سلام واچولو او بيا يې د حال پوښتنه ورڅخه وکوله څه حال مو دی ؟
حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله چې په ذکر باندې مصروف وو بالکل ورته ونه ښوريدو صرف په خوله يې ورته وويل زه په خير يم ستاسې څه حال دی؟
يو څه خبري يې په همداسې حالت کې ورسره وکولې او بيا تري پاڅېدو او ويې ويل چې زمونږ په پخوانيو بزرګانو او د قدر په وړ خلکو کې دا يوه نښه پاتې ده (يعني حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله)

رښتونی ولی العهد

سليمان بن عبد الملک اموي د مسلمانانو يو خليفه وو ده د يو مشهور محدث حضرت رجاء بن حيوة په مشوره وصيت وکولو چې زما نه وروسته به خليفه عمر بن عبد العزيز وي او پدې وصيت باندې يې ټاپه ووهله او د وصيت په اړه يې وصيت وکولو چې زه مړ شم او د بل خليفه د ټاکلو او يا دهغه د نوم د تعين کولو نه وړاندې به دا رساله خلاصه کړل شي او وبه کتل شي حضرت رجاء بن حيوة په وېره کې وو چې سليمان بن عبد ا لملک کله مړ شي نو مخکې ددې چې چا ته وصيت ور په ياد شي هسې نه چې د سليمان بن عبد الملک د کورنۍ غړي د خپل ځان لپاره د خلکو نه بيعت و خلي نو چې کله سليمان بن عبد الملک مړ شو نو ده کوښښ وکول چې دهغه د مرګ خبر د خپرېدو څخه وساتي ترڅو يې دېته موقع برابره کړه چې د ټولو خلکو په وړاندې اول وصيت نامه ښکاره کړل شي او بيا يې همداسې وکولو د ټولو خلکو په وړاندې يې وصيت نامه خلاصه کړه او په لوړ اواز سره يې ولوستله .

هشام بن عبد الملک د سليمان بن عبدالملک ورور چې د عمر بن عبد العزيز نوم واورېدو چې دا به نور امير وي له بيعت کولو نه يې انکار وکولو رجاء بن حيوة ورته ووېل : بيعت وکوه او کنه نو سر به دې قلم کړم .

او عمر بن عبد العزيز يې راوستلو ا و په ممبر يې کېنولو کله چې عمر بن عبد العزيز ته خلافت حواله شو د عمر بن عبد العزيز ژوند ورسره مکمل بدل شو ددېنه مخکې دی ډېر نازولی وو او

كومې جامې به يې چې يو ځل واغوستلې هغه به يې بيا نه آغوستلې چې په كومه لاره به تېر شو تر ډېره ځنډه به په هغه كوڅه كې دده د عطرو بوى محسوس كېدو لنډه دا چې په هغه وخت كې د بادشاه د زامنو ناز او قدر په ده پسې نه رسېدو .

كله چې د سليمان بن عبد الملك تجهيز او تكفين وشو نو ددې وخت راغلو چې د عامو خلكو څخه دده لپاره بيعت واخستل شي او په هغه وخت كې به رواج وو پدې صحنه كې به د آسونو سپرو كسانو يوه ډله روانه وه او د نوي امير استقبال او بدرگه به يې كوله د ښار په كوڅو كې به گرځېدو ده ته چې دا هرڅه را حاضر شول نو ده وويل نه ددې ضرورت نشته زما دا خپله قچره كافي ده زه په همدې باندې گرځم .

دده په كور كې خوشحالى وې ټول خلك خوشحال وو چې زمونږ د كور چراغ اوس بادشاه شو دى چې كور ته لاړو ددې لوى مسئوليت په اړه يې فكر كاوه يوې خادمې ورڅخه پوښتنه وكوله :

خيرت خو دى تاسې دومره غمجن ولې ياست؟

ده رحمه الله ورته وويل :

ددېنه زياته د فكر او تشويش خبره بله كومه ده چې په مشرق او مغرب كې د رسول الله ﷺ چې يو امتي وي دده به په ما حق وي او بغير ددې چې هغه يې راڅخه وغواړي په ما يې وركول فرض او ضروري وي ؟

پدې خبره کې ده په ښه ډول ښکاره کړه چې د مسلمانانو بادشاه کېدل دده په وړاندې څه معنی .....

يو څه وخت چې تېر شو نو يې فکر وکاوه چې د مسلمانانو خلافت ډېر زيات سخت کار دی او بل زه خو داسې شوم لکه چې په مسلمانانو باندې تحميل شوی وم دوی خو زه پخپله خوښه امير نه کړم .
ددې امله يې ټول خلک را ټول کړل او اعلان يې ورته وکولو ورته ويل يې :
ای خلکو په ما باندې د خلافت بوج اچول شوی دی نه پکې زما رايه اخستل شوې ده او نه ما ددې خواهش کړی وو او نه زما د امارت په اړه د عامو مسلمانانو سره مشوره کړل شوې ده ددې امله زه تاسې ته اعلان کوم په ښه توګه واورئ ستاسې په غاړو کې چې زما د بيعت کوم طوق پروت دی زه پخپله هغه لتاسې څخه لرې کوم او زه تاسې ته له خپل بيعت نه ازادي ورکوم تاسې ته چې څوک ښه ښکاره کيږي هغه خپل خليفه جوړ کړئ .

ټولو خلکو په يوه اواز ورته وويل :
مونږ ته د خپل خليفه په توګه خوښ کړی يې او زمونږ همدا ته خوښ يې .
چې کله دی پوه شو چې په رښتيا هم د خلافت لپاره د خلکو زه خوښ يم نو يې ددې ذمه واري د اخستلو لپاره ځان تيار کړو او خلکو ته يې د مسلمانانو د حقونو او مسئوليتونو په اړه يو تقرير وکولو او په هغه تقرير کې يې خلکو ته وويل :

د رسول الله ﷺ نه وروسته هيڅ نبي نه راځي او نه د قران کريم نه وروسته دنيا ته کوم اسماني کتاب راځي کوم شی چې اوس حلال دي تر قيامته پورې به حلال وي او کوم شی چې ا وس حرام ته تر قيامته پورې به حرام وي زه د حل ا و حرمت په اړه له خپله ځانه هيڅ ډول فيصله نشم کولی ، زه صرف د الله ① د احکامو چلونکی يم ، زه کومه نوې خبر نشم را پيدا کولی او هيڅا ته دومره حق نشته چې خلک د هغه اطاعت پداسې حالت کې وکوي چې دده په اطاعت کې د الله ① نا فرماني کيږي او هغه امير چې د الله ① اطاعت کوي دهغه امير اطاعت کول په خلکو واجب دي او هغه امير چې پخپله د الله ① نا فرماني کوي دهغه نا فرماني کول روا دي او دهغه اطاعت کول روا نه دي ترڅو چې زه د الله ① د احکامو لپاره مطيع وم تاسې زما اطاعت وکوئ او کله چې خدای مه کړه زه بې لارې شوم بيا زما تابعداري په تاسې لازمه نه ده ستاسې په وړاندې زما هيڅ امتيازي حيثيت نشته ستاسې په شان زه هم يو عام شخص يم صرف دومره فرق دی چې الله ① لتاسې نه زما په غاړه زيات مسئوليتونه را اچولي دي .

له مسلمانانو څخه جزيه اخستل

حجاج بن يوسف يو قانون جوړ کړی وو ددې لپاره چې د حکومت کارونه په سمه توګه په پوره پيمانه سره پر مخ ولاړ شي نو د مسلمانانو څخه به يې په يو نوم په بل نوم پيسې اخيستې چې د جزيې په ډول وې کله د ټېکس په نوم کله دې ماليې و غيره په نوم ددې بد تاثير دا وو چې هغه کسان چې غير مسلم دي هغوی فکر کاوه چې بيا د مسلمان کېدو څه فايده ؟ د رسول الله ﷺ په زمانه کې او له هغه نه وروسته دا دستور وو چې کافر ته به يې ويل : يا اسلام قبول کړه، يا جزيه ورکړه او يا جنګ ته تياره شه نو اوس د حجاج بن يوسف د قانون له مخې که مسلمان وې او که کافر چې ژندی وې نو جزيه به حکومت ته ورکوې نو کفارو به فکر کاوه چې اوس د دين د بدلولو څه ضرورت هغه کسان چې عيسايان او يا يهوديان دي هغوی به ويل چې د يهوديت يا عيسائيت او اسلام دواړو په حالت کې جزيه ورکول دي نو بيا خپل يهوديت يا عيسائيت ولې پرېږدو؟ ددې سره په اسلام کې د داخلېدونکو خلکو سلسله ډېره ورو او په ځينې ځايونو کې بالکل ودرېده کله چې د حضرت عمر بن عبدالعزيز دور شو هغه اعلان وکولو څوک چې اسلام قبول کړي د دوی نه به هېڅ ډول شی نه اخستل کيږي او په هېڅ نوم به هغوی نه مجبور کول کيږي چې حکومت ته څه ورکړي .

پدې اعلان سره يو ځل بيا خلکو د اسلام لور ته مخه کړه او په زرګونو کسان په اسلام کې داخليدل او له جزيې نه يې ځان خلاصولو تردې چې د مصر والي حضرت عمر بن عبد العزيز ته ليک ور وليږلو چې دا خو ټول خلک مسلمانان شول او ډير لږ خلک پاتې شول چې زه به اوس د دوی نه جزيه را ټولوم زما اوس دېته ضرورت کيږي چې زه قرض وکوم او د حکومت مصرف پوره کړم .

حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله په لنډو ټکو کې ورته ځواب وليکلو :

د مسلمانانو څخه جزيه په هر حالت کې بنده کړه په مسلمانانو جزيه نشته او هر وخت ياد ساته رسول الله ﷺ دنيا ته ددې لپاره راغلی وو چې خلکو ته هدايت وکووي ددې لپاره نه وو راغلی چې د خلکو څخه محصول ماليه او نور شيان را ټول کړي .

د جرم په شبهه کې چا ته سزا ورکول

د حضرت عمر بن عبد العزيز څخه وړاندې دا قانون عام شوی وو چې په چا باندې به صرف د کوم جرم ګمان کېدو نو را وبه نيول شو او سخته سزا به ورکړل شوه کله چې د حضرت عمر بن عبد العزيز وخت شو ده اعلان وکولو چې صرف هغه کس ته به سزا ورکول کيږي چې شرعي ثبوت وربانديې

پيدا شي په شک اوشبه او ګمان سره به هېچا ته هم سزا نه ورکوله کيږي .
د موصل په علاقه کې به ا کثر غلا ګانې کېدلې او هلته به جرمونه زيات وو د هغه ځای والي غساني حضرت عمر بن عبد العزيز ته و ليکل : که چېرته مونږ هغه کسان ونه نيسو په چا باندې چې زمونږ د جرم شک او هغوی ته مونږ سزا ورنه کړو نو دا خلک مونږ نشو سمولی او که مونږ شرعي ثبوت ته صبر وکوو هغه خو ډېر مشکل جوړيږي او مونږ نشو کولی چې رښتوني مجرمان د ثبوت سره ونيسو .
حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله ورته وليکل : کله چې قطعي شرعي ثبوت په لاس درشي نو خلک نيسه او سزا ورکوه که چېرته دا خلک په حق سره اصلاح نشي نو بيا به د دوی لپاره اصلاح نه وي .
په همدې ډول جراح بن عبد الله د خراسان حاکم هم حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله ته لېک واستولو چې پکې ليکلي يې وو:
دلته د خلکو رويه ډېره زياته خرابه ده دوی د دُرې او تورې نه بيغير نه سميږي که تاسې ته مناسبه ښکاره کيږي دوی ته د د سزا ورکولو اجازه وکوله شي .
حضرت عمر بن عبد العزيز ورته وليکل :
ستاسې دا وينا چې د خراسان خلک د دُرې او تورې نه بيغير نه سميږي بالکل غلطه ده دوی په عدل او انصاف سره هم سميږي ترڅو پورې چې کېدلی شي په دوی کې عدل او انصاف حاکم کړه دوی به پخپله سم شي.

يو وخت يو والي حضرت عمر بن عبد العزيز ته وليکل:
زمونږ د علاقې حکومتي ځايونه او لارې ترميم غواړي که ستاسې اجازه وي د بيت المال څخه به يې ترميم او اصلاح وکوو .
حضرت عمر بن عبد العزيز ورته وليکل :
ستاسې په ليک پوه شوم لکن د ختې ، خاورې او خښتې مينه بيا وروسته هم کېدلی شي چې زما دا خط تاته ورسيږي نو له هغه وخت نه په خپله ساحه کې د عدل او انصاف تعمير او قلا جوړه کړه او خپلې لارې د ظلم او ستم نه خلاصې کړه چې هموارې شي او خلک پکې هروخت له سکون او اطمنان سره سفر وکولی شي ځکه د خلکو خوشحالي د ښائسته تميرونو سره نه بلکه د عدل او انصاف د ژوند سره ممکنه ده .

د خپل قاتل سره رويه

د بني امية خلک د عمر بن عبد العزيز له عدالت او انصاف نه ډير زيات په تنګ شول او د دوی ټولې مزې اوس بندې شوې وې نو يې پدې اړه فکر کاوه چې دده څخه ځان څنګه خلاص کړي نو يې يو غلام ته زر ديناره ورکړل چې ده رحمه الله ته زهر ورکړي هغه دې کار ته تيار شو او په خوراک کې يې ورته زهر واچول چې هغه خپل کار وکولو نو دی رحمه الله ورباندې پوه شو غلام يې ونيولو او ورته يې وويل چې ولې؟

هغه ورته وويل ماته زر دیناره راکړل شوي دي .
حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله ورته وويل :
هغه زر دیناره ماته راوړه .
غلام هغه ورته راوړل حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله هغه ورڅخه واخیستل او په بیت المال کې یې جمع کړل او غلام ته یې وويل پټ و تښته چې څوک دې هم ونه ویني بس څه چې وشول هغه خو هسې هم وشول اوس زما له امله ته د مرګ په خوله کې ځان مه ورکوه بس و تښته .

رښتونی مفتي

حضرت یزید بن حبیب رحمه الله رښتونی دیني عالم وو په دینې مسائلو کې یې د هیڅ پرواه نه کوله حضرت عمر بن عبدالعزيز په خپل وخت کې د مصر مفتي مقرر کړو د عزت خاوند او درونـد شخصیت وو د حق په وینا کې یې شهرت درلود او له چا څخه یې هم د حق په ویلو کې شرم نه کولو اکثر مشرانو بادشاهانو به چې خپل ځای ته ور وغوښت نه به ورتلو د مشرانو له مجلسونو څخه یې کرکه کوله او کله به چې چا وغوښتو نو ده به ورته وويل که ستاسې لما سره څه کار وي نو راشئ د فقیر دروازه ستاسې په مخ خلاصه ده یوه ورځ چې دی بیمار شو پدې وخت کې د مصر والي حوثره بن سهیل دده پوښتنې ته راغلو او دده د حال د پوښتنې څخه وروسته یې ورسره خبرې کولې

بيا يې ترې وپوښتل : د چا په جامو باندې چې د مياسې وينه پاتې شي مونځ ورسره کيږي؟
حضرت زيد بن حبيب رحمه الله مخ ترې بلې خوا ته واړولو او دده د پوښتنې ځواب يې ورته ونه ويلو .
حوثره بن سهيل حيران شو هغه هم نور څه ونه ويل .
کله چې دی پاڅېدو د تللو رخصت يې اخستلو حضرت زيد بن حبيب رحمه الله ورته په رعب کې وويل :
ای د الله ① بنده ته هره ورځ د الله د مخلوق نا روا وينې تويوې او اوس زما نه د مياسې د وينې په اړه پوښتنه کوې؟
حوثره بن سهيل دا خبره واورېده او هېڅ يې هم ونه ويل سر يې ښکته واچولو او دده له کوټې څخه ووتلو .

حضرت ابراهيم بن ميمون رحمه الله

کله چې د امويانو له کورنۍ څخه خلافت عباسيانو ته نقل کېدلو پدې مينځ کې د ابو مسلم خراساني کوښښ د يو پل حيثيت لري او ددې خلافت له يوې کورنۍ نه بلې ته ډېر په تکليف سره وشو او ډېرې زياتې وينې يې په قېمت کې مصرف شوې هغه کسان چې ابو مسلم خراساني پخپله قتل کړي دي او يا دده په مخ کې قتل شوي دي تعداد يې شپږو لکو کسانو ته رسيږي په جنګ کې وژل شوي ، ترور شوي او يا په زهرو سره پټ وژل شوي کسان به نور څومره وي اندازه معلومول يې مشکل وو په

هغه وخت کې يو لوی عالم وو حضرت ابراهيم بن ميمون رحمه الله د ښه علميت او ښه جرئت خاوند عالم وو دا يوازې هغه کس وو چې ابو مسلم خراساني ته يې راساً يوه خبره ښکاره کولی شول او هغه ته يې مخامخ ويلای شول چې دا قتلونه بند کړه يو ځل چې هغه د ابو مسلم خراساني مجلس ته ورغلو هغه ته يې خبرې وکولې او په داسې جوش کې يې هغه ته خبرې کولې چې ابو مسلم خراساني صرف آورېدلې او هېڅ يې هم ويل نه غوښتل .

چې کله دده خبرې ختمې شوې ابو مسلم خراساني ورته وويل :

صحيح ده زه ستا په مطلب اوس پوه شوم اوس تاته د تللو اجازه ده .

آخر دا چې ابو مسلم خراساني دده له خبرو څخه په تنګ شو او دی يې بندي کړو لکن څرنګه چې حضرت ابراهيم بن ميمون رحمه الله د هر چا په زړه کې ځای درلود او هر چا د يو ښه عالم په نوم پېژندلو نو په خراسان کې ټولو علماوو او ديني خلکو قيام وکولو او دی يې بېرته له بنديخانې څخه را خلاص کړو .

ابو مسلم خراساني پوه شو چې په راساً سره خو هغه نيول مشکل کار دی نو ښه به دا وي چې څه چل ورته جوړ کړو او قتل يې کړو پخپله يې يوه استفتاء وليکله چې ابو مسلم خراساني د زرګونو مسلمانانو قاتل دی او په ظلم کې يې مثال نشته که داسې څوک پيدا شي چې دا قتل کړي دده مرګ ورته روا دی کنه؟

پدې استفتاء کې د ابراهيم بن ميمون څخه د حق خبرې غوښتنه شوې وه ده هم وربانديې د هيڅ خطر پروا ونه کوله او وربانديې ويې ليکل هو ! دده مرګ روا دی .
دا فتوی چې لاړه ابو مسلم خراساني ته ورسيده دی يې را وغوښتلو دی پوه شو چې دا ټول کوم پروګرام وو لکن بيا هم پښېمانه شوی نه وو پوهيدو چې کوم غلط کار مې نه دی کړی لکن د ښه بوی لرونکي شيان يې په کفن بانديې ولګول او تر جامو لانديې يې کفن واغوست او دده مجلس ته حاضر شو پدې وخت کې يې هم ده ته نصحيت وکولو او خبرې يې ورته وکولې چې دا ظلمونه او قتلونه پريږدي .
بيا ابو مسلم خراساني امر وکولو چې قتل يې کړئ او په کوهي کې يې واچوئ .

حق ويونکي علماء انعام نه اخلي

په عباسيانو خلفاوو کې يو ابو جعفر منصور هم وو اصلي نوم يې عبد الله وو دی هم ډير ظالم انسان وو دده په مخ کې به يو يو زړور کس خبرې کولی شوې يو وخت ورته د علماوو او نيکانو يو وفد راغلو دی يې په ليدلو ددې امله خوشحال شو چې د دوی به څه دنيوي مشکل وي زه به يې ورته حل کړم او پدې سره به په خلکو کې زما ښه مخ پيدا شي او دا خو هغه خلک دي چې دوی خوشحال شي خلک ورسره خوشحال کيږي لکن دی هغه وخت

حيران شو چې په هغه وفد کې يو کس پاڅېدو او ده ته يې په خپل نوم ډېر بې تکليفه اواز وکولو او ورته ويل يې :

اى عبد الله ! تولـه ① دنيا تاته درکړيده څه برخه په دنيا کې مصرف کړه او د څه په بدل کې د ځان لپاره د آخرت غم هم وکوه هغه شپه هم در ياد کړه چې ته به په قبر کې کېښودل کېږې او هغه ورځ هم درته مخې ته کېږده چې شپه ورپسې نه راځي او ډېره اوږده ورځ به وي چې د قيامت ورځ ده .

داسې نورې ډېرې خبرې يې ورته کولې او ښه پوره نصيحت يې ورته وکولو او په هر اړخ يې خبرې ورته وکولې او ابو جعفر منصور پټه خوله ورته ناست وو او ددوى خبرې يې آورېدلې کله چې دده خبرې ختمې شوې ابو جعفر منصور امر وکولو دوى ته دې څه انعام ورکړل شي .

هغه کس ورته وويل څوک چې انعامونه غواړي يا يې انعام ته زړه کيږي هغه کسان د خليفه په وړاندې داسې د جرئت خبرې نشي کولى .

او د همدې خبرې سره د وفد ټول ملګري پاڅېدل او بهر ته روان شول ترې لاړل .

صرف په حقه فيصله كول

د ابو جعفر منصور عباسي د خلافت په زمانه كې په بصره كې د زمكې دعوه وه په فريقينو كې يو تاجر وو او بل يو غريب كس يې په مقابل كې وو پدې وخت كې د بصرې قاضي سوار بن عبدالله رحمه الله وو دا يو تقوى دار او پاك قاضي وو يوڅه وخت دا دعوه روانه وه له دواړو اړخونو څخه ګواهان او شواهدې وړاندې كېدل چې د فيصلې وخت شو نو ابو جعفر منصور قاضي سوار بن عبد الله رحمه الله ته احوال ور ولېږه چې دا فيصله به د تاجر په حق كې كوې .

قاضي سوار بن عبد الله ته چې دا احوال راغلو نو يې ورته په ځواب كې وليكل ماته چې كوم شواهد په لاس راغلي دي دهغې له مخې چې زه دا فيصله كوم نو دا د هغه غريب كس په حق كې كيږي او زه د هغه رښتينو ګواهيو خلاف فيصله نشم كولى .

منصور بېرته احوال ور ولېږلو چې فيصله به د تاجر په حق كې كيږي .

قاضي ورته بېرته په سخته لهجه كې ځواب ور ولېږلو چې زه په هغه څه فيصله كوم چې كوم ماته حق ښكاره كيږي زه د تاجر په حق كې ددې زمكې فيصله نشم كولى .

ابو جعفر منصور چې پوه شو په قاضي باندې زما رعب هېڅ تاثير نه كوي نو يې خلكو ته وويل :

د الله ① شكر چې زما په بادشاهي كې داسې عدل او انصاف دى چې زما مقرر كړى قاضي د حق فيصلې د كولو په وخت كې زما پروا هم نه كوي .

د قاضي په اړه شكايت

د قاضي سوار بن عبد الله په اړه ابو جعفر منصور ته شكايت راغلو چې ده په يوه دعوه كې د يوې ډلې رعايت كړى دى او فيصله يې د هغوى په حق كې كړېده ابو جعفر نومړى قاضي خپل دربار ته ور غوښت چې پدې اړه ورسره خبرې وكوي هغه په مجلس كې ناست وو چې خليفه ابو جعفر منصور و پرنجېدو قاضي صاحب پټه خوله ناست وو خليفه ترې په غصه كې پوښتنه وكوله چې تا زما په پرنجېدو باندې يرحمك الله ولې ونه ويل ؟

قاضي صاحب ورته وويل : ځكه چې تا پخپله الحمد لله ونه ويل.

ابو جعفر منصور وويل : ما په زړه كې الحمد لله وويل .

قاضي صاحب ورته وويل : نو بيا به زه هم ووايم چې ما په زړه كې يرحمك الله وويل .

ابو جعفر منصور ورته وويل : ما ته د ځينې خلكو له خوا ستاسې شكايت شوى وو چې ده په فيصله كې د يوې ډلې رعايت كړى دى او فيصله يې د هغوى لوري ته كړېده بس اوس زه پوه شوم چې ته زما رعايت نه كوې نو د عامو خلكو رعايت به څنګه وكوې.

خليفه په محکمه کې

ابو جعفر منصور يو ځل د حج نه په بېرته ستنېدو کې په مدينه منوره کې پاتې شو يو څو غريبو اوښانو چلوونکو وربانديې دعوه وکوله چې څه حق يې وربانديې دی قاضي احوال ور ولېږلو او ابو جعفر منصور خليفه يې خپل د قضاوت دربار ته د يو مدعی عليه په شکل کې را وغوښت او کله چې دربار د قضاوت ته را ننوت قاضي ورته دومره اهميت ورکړو لکه يو عام مدعی عليه ته يې چې ورکوي او هېڅ ډول تعظيم يې ونه کړو .

له دواړو طرفونو څخه دليلونه وړانديې کول شروع شول بالآخره دهغه خلکو په مقابل کې د ابو جعفر منصور دلائل ډېر کمزوري وو نو د مدينې منورې قاضي فيصله د هغه کسانو په حق کې وکوله او ابو جعفر منصور ته يې حکم وکولو چې د دوی مال او د دوی حق ورکړه .

ابو جعفر منصور چې فيصله واورېده بې اختياره يې وويل جزاک الله .

او چې کله خپل دار الخلافة ته ورسېدو نو يې لس زره ديناره قاضي ته د انعام په شکل کې را ولېږل .

د خلكو سره د دوی د مرګ تعهد کول

د ابو جعفر منصور په زمانه کې د موصل خلكو تكراراً بغاوت كولو او حكومت به ورتلو هغوی به يې بېرته په زور سره ارام كول او د صلح تړون به يې ورسره كولو بل ځل چې د صلح تړون مات شو او هغوی بغاوت وكولو نو منصور ورسره په تړون كې وويل كه دا ځل تاسې بغاوت وكولو نو ستاسې وينه به ماته روا وي بيا به ماته روا وي چې زه ستاسې قتل وكوم صحيح ده؟ دوی چې اوس بند راغلي وو او د اتفاق نه بغير يې بله لاره نه ليده ورسره يې ومنله چې هو صحيح ده .

بل ځل چې هغوی بيا بغاوت وكولو منصور غوښتل چې په هغوی پسې ورشي او ټول هلاک كړي نو يې مخكې ددې كار څخه دېته ضرورت وو چې دهغوی د مرګ لپاره څه شرعي جواز پيدا كړي نو يې علماء او فقهاء را غونډ كړل او دوی ته يې په داسې طريقه سره خبره وكوله چې دهغوی له خولې نه وربانديې هغه ځواب را وباسي چې كوم دده خوښ دی او د وی ته يې ډېرې خبرې وكولې او په آخري خلاصه كې يې ورته وويل :

آيا رسول الله ﷺ نه دي ويلي چې د ايمان خاوندان خلک د خپل شرط پابند وي او د خپل كړي تړون متابعت كوي؟ د موصل خلكو لما سره تعهد كړی وو كه دا ځل دوی بغاوت وكوي نو د هغوی مرګ ماته روا دی او اوس دوی بغاوت كړی دی نو ددوی د

منلي شرط له امله اوس دهغوی وينه تويول ماته روا دي .
د فقهاوو په ټولي کې يو کس پاڅېدو او ويې ويل :
تاسې چې ددې خپلې معاهدې له مخې هرڅه وکوئ تاسې ته روا دي او اوس ددې ترون څخه وروسته د موصل د خلکو په اړه ستاسې اختيار دی .
په مجلس کې امام ابو حنيفه رحمه الله هم ناست وو لکن چپ وو او ابو جعفر منصور غوښتل چې دده نه داسې رايه واخلي چې دده ښه وربانډې وشي نو يې له ده څخه پوښتنه وکوله چې پدې اړه ستاسې څه رايه ده ؟
امام ابو حنيفه رحمه الله ورته وفرمايل :
د موصل خلکو چې کوم شرط منلی وو دا د هغوی په اختيار کې نه وو چې تاسې ته د خپل مرګ اجازه درکړي او تا هم چې کوم شرط له دوی نه غوښتی وو دا کار ستا په اختيار کې نه دی ځکه د مومن مرګ صرف په دريو ځايونو کې روا کېدلی شي (چې مرتد شي، څوک قتل کړي، د احصان نه وروسته زنا وکوي) او دلته په هغه دريو صورتونو کې يو هم موجود نه دی نو ځکه دا شرط له اصل نه بې ځايه وو او ته هغه وژلی نه شې .
د ابو جعفر منصور پروګرام خراب شو او ټول خلک په حق پوه شول چې امام صاحب صحيح خبره وکوله نو ابو جعفر منصور خلکو ته وويل چې ځئ تاسې اوس تللی شئ او امام ابو حنيفه رحمه الله ته يې وويل چې تاسې به پاتې شئ .

يو څه وخت وروسته يې هغه په داسې حالت کې چې يوازې وو خپل مجلس ته ور وغوښت ورته يې وويل :
فتوى ستاسې صحيح ده لکن داسې فتوى ورکول نه وو په کار په کومه کې چې د خليفه توهين وشي او د باغيانو تائيد وي ته له کوم ځاى نه چې راغلى يې نور هلته خپل ملک ته لاړ شه ....

د بدلون څخه عبرت واخلئ

د امويانو د آخري خليفه مروان مېرمن مزنه يو ځل په ډېر خراب حالت کې د مهدي د خلافت په دروان کې دربار ته راغله پهره دارانو د ننه له تللو څخه منع کړه لکن د مهدې ميرمن خيزران ته چې معلومه شوه يوه ښځه داسې ښکاره کيږي چې د کومې شريفې کورنۍ څخه ده بهر په دروازه کې ولاړه ده نو يې خپل دربار ته ور وغوښته .
مزنه پدې وخت کې په ډېرو زړو جامو کې وه چې پيوندونه پکې لګېدلې وو او ډېره د فقر په حالت کې ولاړه وه خيزران ورڅخه پوښتنه وکوله څوک يې؟
دې ورته وويل :
د بنو اميه د آخري حکمران مروان بن محمد مېرمن يم د زمانې بدلون مې دا حال کړى دى زما په ځان چې کومې جامې ښکاره کيږي دا مې هم خپلې نه دي له بل چا څخه مې په سوال را اخستې دي حالاتو دې حد ته را وستلي يو لکن اوس مو هم

خپل شرافت ساتلى دى او د خلكو په ستركو كې مو خپل وقار دېته نه پرېږدي چې د عامو خلكو په وړاندې خپل د سوال لاس اوږد كړو ددې لپاره ستاسې خدمت ته راغلم چې تاسې هم زمونږ د حال نه عبرت واخلئ او زمونږ سره څه مرسته وكوئ .
د مزنه تقرير په خېزران باندې داسې تاثير وكولو چې د هغې له ستركو نه يې اوښكې روانې كړې او ډېر زيات تاثير يې وربانډې وكولو لكن په دربار كې چې يوه بله زړه ښځه وه زينب نوم يې وو مزنه ته يې خبرې شروع كړې او په تېر وخت كې د ژوند د څرنګوالي په اړه يې پېغورونه وركول او د دوى مزې يې ور په زړه كولې
مزنه په ډېره نا اميدي كې ورته وويل :
زمونږ دا اوسنى ژوند د هماغه وخت نتيجه ده لكن تاسې اوس د الله نه وډار شئ زمونږ د حال نه عبرت واخلئ او داسې رويه مه كوئ د كومې رويې له امله چې مونږ دې حالت ته را ورسېدو .
پدې خبرو كې مزنه سخت وژړل او په ژړا كې ولاړه وه .
خيزران خدمت ګارانو ته حكم وكولو چې مزنه ته ښكلې جامې راوړي او جامې يې وربدلې كړي .
د شپې يې چې مهدي ته دا واقعه واوروله هغه ورته سخت وژل او بيا يې مزنه ته وويل راځه مونږ به درته د محل په يو طرف كې ځاى دركړو همدلته ژوند كوه هغه بيا هماغلته اوسېده او د هارون رشيد په وخت كې په حق ورسېده .

د قضاوت د وظيفې څخه تېښته کول

حضرت سفيان ثوري رحمه الله هغه فقيه او عالم وو چې د بادشاهانو له محفلونو او دهغوی له مجلسونو څخه يې کرکه کوله او عاجزي او فقيري يې خوښوله دده په وخت کې خليفه مهدي بن منصور ډېر کوښښ کولو چې دده سره ووينې لکن دده په طبيعت کې د مشرانو خلکو او حاکمانو څخه کرکه موجوده وه او نه يې غوښتل چې دهغوی په مجلسونو کې خپل وخت ضائع کړي يو ځل چې د مهدي بن منصور کسانو چېرته ګير کړو او مجبور يې کړو چې د دوی سره دربار ته لاړ شي دربار ته خو راغلو لکن د دربار ادبونه يې هېڅ هم په ځای نه کړل صرف سلام يې واچولو او په يو طرف کې غلی کېناستو .

مهدي بن منصور خليفه ورته ويل :

ته هسې زما څخه لرې لرې ګرځې سره ددې چې ته پدې پوهېږې چې زه تاته هېڅ ډول ضرر نه رسوم اوس وګوره زما په دربار کې يې که زه څه حکم وکوم هماغه به په ځای کيږي .

سفيان ثوري رحمه الله ورته وويل :

که ته زما په اړه هر څه حکم وکوې همداسې حکم به الله ستا په اړه کوي کوم چې د حق او باطل فيصله کوي .

ددې خبرې په آورېدو سره د شاهي دربار د محافظينو مشر ربيع د سفيان ثوري رحمه الله په

اړه څه ګستاخي وکوله او بد الفاظ يې وويل او د تورې را وېستلو اجازه يې و غوښته .
مهدي بن منصور هغه تحديد کړو .
بيا يې ده ته ليک ورکړو چې په هغه ليک کې دا حکم وو چې د نن نه وروسته حضرت سفيان ثوري رحمه الله د کوفې قاضي دی او داسې قاضي به وي چې دده په فيصلو کې به د هېچا د خبرې ځای نه وي او نه به څوک دده په کار کې مداخله کوي ده خو په دربار کې دا ليک واخيستو چې بهر ته را ووتلو هغه ليک يې را وويستلو او ويې شکولو ټوټې يې د دجلې په سيند کې خوشې کړې او ځان يې داسې پټ کړ چې د مهدي بن منصور د خلافت تر پای پورې بيا چا پيدا نه کړو .

ای الله ① د محمد ☸ د امت ساتنه وکوې

مهدي چې عباسي خليفه وو دده د خلافت په دوران کې يوځل سخت طوفان راغلو چې خلک ډېر زيات وډار شول او هرچا دا فکر کاوه چې قيامت شو او خلکو ټولو چيغې وهلې د خليفه مهدي يو غلام چې حسن نوميده ويل زه پدې وخت کې په خليفه پسې ګرځېدم چې هغه به اوس چېرته وي آخر مې د محل په يو طرف کې پيدا کړو چې سر يې په سجده ايښی وو او ويل يې :
ای الله ① ! د محمد ☸ د امت ساتنه وکوه ...

اى الله ① زمونږ دښمنان زمونږ په هلاکت باندې مه خوشحال کوه . . .
اى الله ① که چېرته دا عذاب زما د ګناهونو له امله را پورته شوى وي زما توبه ده دادى تندى مې ستا په وړاندې ايښى دى .

د بادشاهي قيمت صرف يو ګېلاس اوبه

هارون رشيد يو ځل د څښلو اوبه وغوښتي پدې وخت کې دده په دربار کې مشهور عالم ابن سماک رحمه الله هم موجود وو هارون رشيد چې اوبه څښلې حضرت ابن سماک رحمه الله ورته وويل :
و درېږه که دا اوبه لتا څخه منع کړل شي ددې په بدل کې ته څه ورکولو ته تيار يې؟
هارون رشيد ورته وويل : کله چې انسان سخت تږى شي نو د تندې د ختمولو لپاره که په يوه پياله اوبو باندې نيمه بادشاهي هم ځي نو انسان ورته تياريږي .
چې کله يې اوبه وڅښلې بيا ابن سماک رحمه الله ورته ويل که چېرته دا اوبه ستا په بدن کې په کوم ځاى کې بندې شي او بهر ته ونه وزي ددې لپاره ته څه ورکولو ته تيار يې چې ستا له بدن څخه دا اوبه وويستل شي ؟
هارون رشيد ورته وويل په داسې حالت کې خو که زما د ټولې بادشاهي ورکولو ته ضرورت شي نو وربه يې کړم .
بيا ابن سماک ورته ويل :

هغه بادشاهي چې قېمت يې يو ګېلاس اوبه وي په هغې باندې ددومره کبر کولو څه ضرورت دی؟ له الله ① نه وېره وکوئ او د الله ① له مخلوق سره ښه رويه کوئ په خلکو رحم کوئ دا بادشاهي او واکمني هېڅ شی نه دي ...

په هارون رشيد باندې دې خبرو ډېر زيات تاثير وکولو او تر ډېره وخته يې سر ښکته کړی وو او ژړل يې ...

هارون رشيد ته د فضيل بن عياض رحمه الله نصيحت

هارون رشيد يو ځل د خپل وزير فضل برمکي سره په يوځای د فضيل بن عياض رحمه الله ملاقات ته ورغلو دوی چې د هغوی دروازه و ټکوله فضيل رحمه الله د ننه خوا څخه اواز وکولو څوک يې؟

فضل برمکي وزير ورته وويل:

امير المومنين راغلی دی .

فضيل بن عياض رحمه الله ورته وويل : امير دلته څه کوي زه خو اوس د هغه پزيرايي او استقبال نشم کولی او نه زه هغه ته د هغه د شان مطابق مېلمستيا ورکولی شم پدې وخت کې هارون رشيد او وزير يې دواړه د ننه ور ننوتل دده سره په عاجزي کې کېناستل او بيا يې ده ته وويل :

مونږ ته څه نصيحت وکوئ.

فضيل بن عياض رحمه الله ورته وويل :

کله چې حضرت عمر ❽ خليفه شو هغه فکر وکاوه چې زما په غاړه اوس ډېر مسئوليتونه شول او د هغه مسئوليتونو د پوره کولو لپاره يې په ځان شپه او ورځ يوه کړه او خدمت يې شروع کړو او بيا به يې هم د الله په وړاندې ژړل چې لما سره به څه کيږي ... اوس ای هارونه ته خو نه دومره څه کولی شي لکه هغه چې وکول او نه ته دومره تکړه يې تا کله فکر کړی دی چې لتا سره به څه کيږي؟
د هارون رشيد په زړه دې خبرو ډېر تاثير وکولو او ورته يې وويل : لږ نور نصيحت هم راته وکوه .
فضيل بن عياض رحمه الله ورته وويل :
د الله ① نه وډار شه او هغه ته د ځواب ورکولو لپاره داسې ځان تيار کړه لکه له بل چا څخه چې غواړې چې ستا په وړاندې بايد ځواب ورکولو ته تيار اوسي د قيامت په ورځ به لتا څخه د يو يو کس په اړه پوښتنه کيږي که ستا د حکومت په دور کې يوه بوډۍ ښځه وږې ويده شوې وي د هغې په اړه به هم لتا څخه پوښتنه کيږي .
هارون رشيد چې د فضيل بن عياض رحمه الله نصيحت يې په غور سره آورېدو له سترګو څخه يې اوښکې رواني وې وزير فضل بن يحيی برمکي حضرت فضيل بن عياض رحمه الله ته وويل اوس نصيحت بس کړه تا خو امير المومنين په ژړا باندې مړ کړو فضيل رحمه الله ورته وويل : ما خو نه دی مړ کړی لکن تا او ستا په شان نورو خلکو چې دده په خوا کې دي تاسې دی هلاکت ته نيږدې کړی دی.

هارون رشيد فضيل رحمه الله ته وويل كه په تا باندې د چا څه قرض وي مونږ ته ووايه چې خلاص يې كړو .

فضيل رحمه الله ورته وويل : په ما باندې د الله ① قرض دی دهغې په اداء كولو كې لما سره څوك هم مرسته نشي كولی .

هارون رشيد د زرو اشرفيو يوه خلطه ورته وړاندې كړه ورته يې وويل دا خالص حلال مال دی قبول يې كړئ .

فضيل رحمه الله ورته وويل افسوس چې زما نصيحت تاته هېڅ فايده ونه كوله دا مال ته هغه چا ته وركړه چې دهغه ورته ضرورت وي زما ورته ضرورت نشته ددې خبرې سره يې هغوی دواړه رخصت كړل او دروازه يې ورپسې پورې كړه .

امير المومنين او عام يهودي په يو ځاى دريدل

امام يوسف رحمه الله د هارون رشيد په وخت كې قاضي وو پداسې حال كې چې يو يهودي په امير المومنين هارون رشيد باندې دعوه وكوله نو امام يوسف رحمه الله هغه يهودي او هارون رشيد دواړه عدالت ته را وغوښتل يهودي په داسې حالت كې چې ددېنه ډارېدو چې د امير المومنين سره مې دعوه روانه ده نو بې زړه وو او كله چې عدالت ته راغلل د قاضي په وړاندې يهودي لږ وروسته ولاړ وو او هارون رشيد قاضي صاحب ته نېږدې ولاړ وو امام ابو يوسف رحمه الله ورته وويل را وړاندې شه دا محكمه ده دلته صرف د شرعي قانون درناوى كيږي هارون رشيد پدې ځاى كې ستا مدعي عليه دى د هغه سره په يو ځاى ودرېږه .

او دواړه يې څنګ په څنګ سره و درول او بيا يې ددوى په مينځ كې ګواهان او دليلونه اورېدل شروع كړل .

رښتونى انصاف

په عباسيانو خليفه ګانو کې هشام بن عبدالرحمن ډېر د قدر وړ خليفه وو هغه يوه ورځ په بازار کې په داسې حالت کې تېرېدلو چې يو کس د کومې ساحې د والي نه شکايت له ځان سره راوړی وو چې هشام بن عبد الرحمن ته ئې رسول غوښتل لکن په مخه کې هغه پوليسو حصار کړو او تر هشام پورې يې ور پرې نه ښودو او يو پوليس مشر هغه له ځان سره خپل کور ته روان کړو او په کور کې يې خوشحال کړو او په پټه طريقه سره يې د هغه والي او دده په مېنځ کې روغه وکوله او شکايت يې ورته ختم کړو يو څه وخت وروسته هشام ددېنه خبر شو چې يو فريادي راغلی وو او ترما پورې له رسېدو مخکې پوليسو ګرځولی وو پدې خبر هغه سخت غصه شو .. هغه ته وويل شول چې که تر تا پورې را ونه رسېدو هم لکن دهغه تسلي او اطمنان وشو او هغه خوشحال بېرته ستون شو لکن دده تسلي نه کېده او دې واقعې ته يې پوره توجه واوښته هغه وويل ترڅو چې په ظالم باندې د مظلوم حق ثابت نه کړل شي او د هغه څخه وانه خستل شي د مظلوم حق نه پوره کيږي او دېته انصاف نه وايي ددې امله يې له سر نه په هغه غريب شکايت کونکي پسې احوال ور ولېږلو او خپل دربار ته يې را وغوښت او په کوم والي يې چې دعوه وه هغه يې هم خپل دربار ته را وغوښت او

د دوی په مينځ کې يې د انصاف نه ډکه فيصله وکوله او بيا يې د الله ① شکر وويستلو .

باطل انسان ګونګی کوي

په عباسي خلفاوو کې مامون د ښه عدالت خاوند وو او ده به په هفته کې يوه ورځ درلوده چې پدې ورځ عوام خلک دده محل ته ورتلی شول او ده ته يې خپل مشکلات ويلی شول او ده به په ورين تندي سره د خلکو مشکلات آوريدل او فکر به يې پرې کولو او کوم به چې د حل کېدو وړ وو په هماغه ځای يې ورته حل کول يوه ورځ يوه زړه بوډۍ ښځه دربار ته راغله او دده په زوی عباس باندې يې څه دعوه وکوله ده خپل زوی دربار ته را وغوښت او د مدعی عليه په حيث يې د بوډۍ سره ودرولو د خليفه زوی به ورو ورو په ادب سره خبرې کولې او زړې ښځې په زوره چيغې وهلې په دربار کې حاضر وزير احمد بن ابي خالد زړې ښځې ته وويل چې دلته څوک چيغې نه وهي ورو ورو خبرې کوه په اطمنان سره ته پدې وخت کې د امير المومنين سره خبرې کوې امير المومنين ته خلک ورو ورو خبرې کوي .
مامون خپل وزير ته وويل : دا پرېږده چې په خپله طبعه خبرې وکوي دا حق دی چې دا يې په خبرو راوستلې ده او عباس چې په باطله دی هغه باطل ګونګ کړی دی ددې اواز ځکه پر هغه باندې تېز دی .

کله چې د فيصلې وخت شو مامون د خپل زوی په خلاف او د زړې ښځې په حق کې فيصله وکوله او يو کس يې مقرر کړو چې د زړې ښځې حق ورته د عباس څخه واخلي .

د مسلمانې ښځې فرياد

يو ځل په اندلس کې د اموي خليفه حکم بن هشام په زمانه کې د وادې الحجاره نومي ځای سره نېږدې د عيسايانو يوې ډلې د مسلمانانو په يوه سفري قافله باندې چاپه واچوله په قافله کې شريک کسان د حمله کونکو په نسبت سره ډېر کم وو او لږ اسلحه ورسره وه د يو څه مقاومت څخه وروسته ټول کسان په شهادت ورسېدل او په قافله کې يوه زړه ښځه وه هغه يې ژوندۍ ونيوله او ټول مال يې چور کړو زړې ښځې ډېر فرياد وکولو لکن د ظالمانو په وړاندې ددې فرياد هېڅ ځای ونه نيولو د مسلمان حاکم په نوم يې اوازونه وکول او په چيغو چيغو کې يې مرسته غوښته لکن هېڅ هم نه کېدل .
دربار ته يو شاعر عباس اندلسي راغلو او يوه قصيده يې د خليفه په وړاندې وويله په هغه قصيده کې يې وويل ما د يوې داسې ښځې اواز اورېدلی دی چې په چغو او فرياد کې يې خليفه ته اواز کولو او دده مرسته يې غوښته .
قصيده ختمه شوه د شاعر نه يې دده د شعرونو د مطلب پوښتنه وکوله هغه شاعر عباس اندلسي ورته ټوله قصه وکوله خليفه سم د لاسه د جنګ لپاره

تيار شو او د جهاد اعلان يې وکولو او د فوځ سره هغه ځاى ته ورغلو چېرته چې حادثه شوې وه او له هماغه ځاى څخه د عيسايانو په آباديو باندې ورغلو ډېرې قلاګانې يې ورانې کړې او څوک به چې مخې ته ورته وتل نو دوى به وژل او ډېر کسان يې بنديان کړل په بنديانو کسانو کې ښځې هم شاملې وې او ډېر زيات کسان وو چې کله عيسايانو سوال او زاري شروع کړه چې د دوى بنديان دې ور خلاص کړل شي نو اسلامي خليفه ورته وويل هغه ښځه چې تاسې بېولې ده اول هغه را خوشې کړئ .

کله چې هغه راغله نو خليفه ورته ويل : په تا چې کوم ظلم شوى وو دهغه سزا دوى ته پوره ورکړل شوه او کنه؟

هغې ښځې ورته وويل : هو! امير المومنين .

ددې ښځې په هو! سره د امير المومنين غصه سړه شوه .

او فوځونو ته يې بېرته د ستنېدلو حکم وکولو .

ما او خپل ځان په اور کې مه اچوه

حضرت عطاء بن يسار رحمه الله جليل القدر تابعي او د ښې ژبې خاوند تقوى دار واعظ وو او متعدد احاديث يې د امهات المومنين ، زيد بن حارث، ابي هريره ، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت کړي دي يو ځل دى رحمه الله او دده ورور سليمان بن يسار رحمه الله د مدينې منورې نه د حج په نيت را

ووتل او څه ملګري ورسره وو تردي چې ابواء سيمې ته را ورسېدل هلته د دوی يو خالي کور وو هلته يې دمه وکوله حضرت سليمان او ملګري يې لاړل څه کار يې وو او حضرت عطاء په مانځه باندې ولاړ پاتې شو چې يوه ښائسته کوچۍ ښځه راغله ورته و دريده چې کله دی په مانځه کې يوه شو څوک ماته انتظار کوي نو يې مونځ لنډ کړو او ختم يې کړو بيا يې ورڅخه پوښتنه وکوله چې څه حاجت دی دی؟

هغې ورته وويل : هو

حضرت عطاء رحمه الله ورته وويل : وايه څه شی دې په کار دي؟

ښځې ورته ويل : ته مې په کار يې ... زما خاوند نشته او سړي ته مې ضرورت دی ....

ده ورته وويل : ځه لاړه شه مه ما په اور کې سوزوه او مه خپل ځان مونږ مسلمانان يو او دا کار زه نشم کولی .

ښځې بيا ورته ټينګار وکولو ...

حضرت عطاء رحمه الله ورته په ژړا شو او ويل يې ځه لما څخه ځه لاړه شه ...

چې دده ژړا زياته شوه ښځې هم ورسره ژړا شروع کړه دهغې زړه هم نرم شو ...

پدې وخت کې يې ورور سليمان هم را وګرځېدو چې ويې ليدل ورور يې ژاړي او ښځه يې مخې ته ناسته ده هغه هم ژاړي نو د ورور د زيات احترام له امله يې نشوای کولی چې له هغه څخه پوښتنه وکوي چې تاسې ولې ژاړئ يو څه لحظه يې دواړو ته کتل بالآخره دی هم په ژړا شو پدې کې

يې نور ملګرې هم له بهر نه راغلل هغوی هم چې دا حالت کتلو نه پوهېدل چې دا خلک ولې ژاړي لکن زړه به يې نرم شو هغوی به هم ژړل بغير ددېنه چې د ژړا په لامل باندې پوه شي ...

ښځه په همدې ژړا کې پاڅېده او ووتله ...

دا وخت تېر شو د حضرت عطاء رحمه الله د احترام له وجې نه چا هم دده څخه پوښتنه نه کوله ...

يو څه وخت تېر شو چې يوه شپه دوی دواړه په يو ځای کې ويده وو چې حضرت عطاء رحمه الله په ژړا کې را ويښ شو او بيا يې هم ژړل نو ورور حضرت سليمان بن يسار رحمه الله ورڅخه پوښتنه وکوله ولې ژاړې؟

حضرت عطاء رحمه الله ورته وويل : يو خوب مې وليدو.

حضرت يسار ورڅخه پوښتنه وکوله: څنګه خوب وو چې ته يې وژړولې؟

حضرت عطاء ورته وويل : په يو شرط ترڅو چې زه ژوندی وم دا خوب به ته هېچا ته نه وايې .

حضرت يسار ورته وويل : صحيح ده ستا شرط منظور دی .

ده رحمه الله وويل : خوب مې ليدو چې حضرت يوسف ⌛ وي ډېر ښائسته وي زه ورته ګورم ما چې دهغه ښائست وليدو ورته ومې ژړل ده ⌛ راته وکتل او بيا يې راته وويل :

ای سړيه ولې ژاړې ؟

ما ورته وويل : مور پلار مې لتا زار شه ته راته ياد شوې او ستا واقعه د عزيز مصر له ښځې سره او ستا امتحان او بيا د حضرت يعقوب ⌛ نه

ستا جدايي دا هرڅه راته ياد شول او ويې ژړولم .

يوسف ⌛ راته وويل : ته هغه كس ته حيران نه شوې چې د ابواء په مقام كې ورته ښځه راغلې وه؟ زه پوه شوم چې دده ⌛ مطلب زه وم نو ژړا راغله او را ويښ شوم .

حضرت سليمان بن يسار رحمه الله ورڅخه وپوښتل : وروره دهغې ښځې څه قصه وه چې زه در ننوتلم تاسې دواړو ژړل؟

بيا حضرت عطاء بن يسار رحمه الله ورته ټوله قصه وكوله او ترڅو چې حضرت عطاء رحمه الله ژوندى وو حضرت يسار دا قصه چا ته نه كوله .

په الله باندې توكل

حضرت طاوس بن كيسان رحمه الله د حضرت عبد الله بن عباس له شاګردانو څخه دى او د صحيح بخاري او مسلم په كتابونو كې له ده څخه روايتونه شوي دي دى فرمايي :

زه مكې مكرمې ته د عمرې لپاره راغلم عمره مې وكوله او د مقام ابراهيم سره مې دوه ركعته مونځ وكولو او كېناستم يو لوري بل لوري ته مې كتل چې يوه ډله خلک مې ولېدل سلاح مې وليده ، توري نيزې او نور شيان وو چې ومې كتل حجاج بن يوسف حرم ته راغلو او حجاج بن يوسف هغه كس وو چې په ظلم كې يې يو ځانګړى شهرت درلود .

زه په خپل ځای کېناستم یو غریب سړی راغلو طواف یې وکولو بیا راغلو چې د مقام ابراهیم سره مونځ وکوي د دوی سره په خوا کې را تېرېدلو چې څه جامه یې د حجاج بن یوسف د باډیګارډ په نیزه کې بنده شوه چې بېرته خلاصه شوه هغه په زوره زوره وشورېده او په حجاج بن یوسف باندې ولګېده حجاج ده ته وکتل ورته یې وویل :

ته څوک یې؟

هغه کس ورته وویل : مسلم یم

حجاج: د کوم ځای یې؟

هغه کس : د یمن یم

حجاج : زما ورور څنګه وو؟ (پدې وخت کې د یمن والي دده په شان ظالم انسان دده ورور محمد بن یوسف وو)

هغه کس: زه چې راتلم نو ښه چاغ تکړه او تیار وو .

حجاج : د صحت پوښتنه یې لتا څخه نه کوم د کار پوښتنه یې کوم د عدالت پوښتنه یې کوم .

هغه کس : زه خو چې راتلم ظالم او جابر وو .

حجاج: ته نه یې خبر چې هغه زما ورور دی.

هغه کس : ته څوک یې؟

حجاج : زه حجاج بن یوسف یم .

هغه کس : ولې ستا څه ګمان دی هغه ستا په وجه تر دې ډېر معزز دی څومره چې زه د الله په برکت او د الله په نوم سره معزز یم .

طاوس رحمه الله فرمایي ما چې دده دا خبره واورېده په بدن مې وېښته ټول نېغ ودرېدل .

حجاج ورته هيڅ هم ونه ويل او پرې يې شودو چې لاړ شي ځکه هغه صرف په الله باندې توکل کړی وو او په هغه باندې له توکل نه وروسته يې خبرې کولې .

په ليک کې عجيبې پوښتنې

هِرقل حضرت معاويه ❽ ته ليک را لېږلی وو په هغه ليک کې يې لاندې پوښتنې ورڅخه کړې وې .

- شی څه شی دی؟
- لا شی څه شی دی؟
- هغه کوم دين دی چې د هغه نه بغير الله بل دين نه قبلوي؟
- د مانځه کيلي څه شی ده؟
- د جنت نيالگی څه شی دی؟
- د هرشي مونځ څه شی دی؟
- هغه کوم څلور شيان دي چې ژوندي وو لکن د مور گېډې ته نه دي تللي او نه د پلار له ملا څخه راوتلي دي؟
- هغه څوک وو چې پلار يې نه وو؟
- هغه څوک وو چې مور يې نه وه؟
- هغه څوک وو چې قبر يې دی په خېټه کې د ننه گرځولو؟ (دی په قبر کې وو او قبر يې گرځېدو)
- هغه کومه زمکه ده چې په ټول عمر صرف يو ځل لمر پرې لگېدلی دی؟

- هغه څه شی دي چې صرف يو ځل له خپل ځای نه بې ځايه شوي دي؟
- هغه کوم بوټی دی چې بيغير د اوبو څخه را ټوکيدلی وي؟
- هغه کوم شی دی چې تنفس کوي او روح پکې نه وي؟
- نن څه شی دی؟
- پرون څه شی دی؟
- سبا څه شی دی؟
- بله ورځ څه شی دی؟

حضرت معاوية ❽ ته چې دا ليک راغلو هغه حضرت عبد الله بن عباس ❽ ته ور وليږلو او هغه ډير بې تکليفه ټولو سوالونو ته په لاندې ډول ځوابونه وويل :

- شی اوبه دي الله تعالی فرمايي و جعلنا من الماء کل شي حی .
- لا شی دنيا ده ځکه دا را ښکاره شي د يو چا لپاره او بېرته تري ورکه شي .
- هغه يوازينی دين چې الله ① ته د قبول وړ دی هغه اسلام دی .
- د مانځه کيلی الله اکبر دی .
- د جنت نيالګی : سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله ولا حول ولا قوة الا بالله
- د هرشي مونځ : سبحان الله و بحمده دی .

- هغه څلور شيان چې ژوندي دي لکن د پلار له شا څخه نه دي وتلي او نه د مور له ګېډې نه هغه په لاندې ډول وو
  - ✓ حضرت آدم ؑ
  - ✓ حضرت حواء عليها السلام
  - ✓ د صالح عليه السلام اوښه
  - ✓ د حضرت اسمعيل عليه السلام په ځای حلال شوی پسه
- هغه سړی چې پلار يې نه وو حضرت عيسى عليه السلام وو.
- هغه سړی چې مور يې نه وه حضرت آدم عليه السلام وو.
- هغه سړی چې خپل قبر دی په خېټه کې ګرځولو هغه حضرت يونس عليه السلام وو ماهي تېر کړو او ګرځولو يې .
- هغه زمکه چې صرف يو ځل لمر پرې لګېدلی وو هغه د بحر مينځ وو يو ځل د بني اسرائيلو لپاره اوبه ترې لرې شوې او چې هغوی تېر شول بېرته اوبه سره ورغلې .
- هغه شی چې صرف يو ځل له خپل ځای نه بې ځايه شوي دي دطور سيناء غر دی الله تعالى فرمايي :

وَإِذْ نَتَقْنَا الجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ وَظَنُّوا أَنَّهُ وَاقِعٌ بِهِمْ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ

ترجمه : او درياد کړه هغه وخت چې مونږ د دوی د پاسه د طور غر پورته کړ لکه دا چې د دوی په

سر باندې سیورى وي او دوى فکر وکاوه چې دا اوس په دوى باندې واقع کېدونکى دى او دوى ته وويل شول واخلئ هغه څه چې تاسې ته درکول کيږي په قوت او زور سره او پند واخلئ په هغه څه چې پدې کې دي ښايي چې تاسې وډار شئ .

- هغه بوټى چې د ابو څخه بغير را ټوکېدلى دى د يقطين بوټى دى چې په يونس ؑ باندې را شين شوى وو .
- هغه شى چې تنفس کوي او روح پکې نشته هغه سهار دى الله ؐ فرمايي (و الصبح اذا تنفس) يعني زما د قسم وي په سهار کله چې هغه تنفس وکوي .
- نن ورځ عمل دى
- پرون عبرت دى
- سبا اجل دى
- بله ورځ اميد دى .

هغه کسان چې پښې غزولى شي لاس نه غزوي

ابراهيم باشا د شام يو ظالم او جابر خليفه وو په مصر کې مسجد اموي ته په داسې وخت کې ننوتلو چې هلته الشيخ سعيد الحلبي رحمه الله د مانځه نه وروسته کسانو ته ديني درس ويلو او ابراهيم باشا د شيخ رحمه الله په خوا کې نېږدې تېر شو شيخ صاحب پدې وخت کې پښې غزولې وې د حاکم له ورتلو سره هغه بالکل ونه ښورېدو او نه يې د کيناستلو طريقه بدله کړه او نه يې هغه ته کومه توجه ورکړه او پدې وخت کې چې خليفه ووتلو نو شيخ صاحب هم پوه شو چې زما پښې غزولو په هغه باندې بد تاثير وکولو نو دا خبره شيخ صاحب هم په خپل زړه کې نوټ کړه .

ابراهيم باشا بن محمد علي د مصر موجوده حاکم وو نو پدې کار سره ډېر زيات غصه شو او فکر يې کولو چې د شيخ سره بايد څه وکوي چې څه نا څه سزا ده ته بايد ورکړي شاوخوا ته يې منافقين را ټول شول او دى يې شيخ ته نور هم په غصه کړو او دهغه سره څه نا څه کولو ته يې دى را وپارولو ده امر وکولو چې شيخ ونيسئ او زما مجلس ته يې حاضر کړئ .

پدې وخت کې چې فوځيان په شيخ پسې په داسې حالت کې ورتلل چې غوښتل يې هغه په ځنځيرونو تړلى راولې حاکم خپله رايه بدله کړه او ويې ويل چې ښه داده چې زه ده ته مال ور ولېږم چې

کله هغه مال دی قبول کړي پدې سره به دوه کارونه وشي یو خو به دا وي چې دده په زړه کې به زمونږ دوستي راشي او بل به دی د خلکو په نظر کې ښکته شي چې دا خو هغه کس دی چې بادشاه ورته لویې لویې تحفې را لېږي نو بیا به یې خلک هغه خبرې نه مني چې د حکومت په خلاف یې کوي ..


نو یې خپل وزیر ته وویل چې دا زر طلائي لیرې یوسه او شیخ ته یې په داسې حالت کې ورکړه چې دهغه ټول شاګردان یې ویني .

وزیر لاړو جومات ته ور ننوت نو په لوړ اواز یې خبرې وکولې او ویې ویل :

دا زر طلائي لیرې دي جناب باشا صاحب تاسې ته ددې لپاره رالېږلي دي چې پدې سره به تاسې خپل حاجتونه پوره کړئ .

ده وزیر ته وکتل او په پوره اطمنان یې ورته وویل :

بچیه دا د جناب پیسې دې یوسه او ورته ووایه هغه کسان چې پښې غزوي هغه لاسونه خپل نه غزوي .



په حسابي کارونو کې د غلطي له امله ۱۵۰ کسان وژل

سليم اول د دور عثماني يو داسې خليفه وو چې قتل يې ډېر په اسانه سره کولو په خاصه توګه د هغه کسانو چې دده سره يې په حکومت کې کار کولو چې په حکومتي کارونو کې به معمولي فرق راغلو نو د وزيرانو او رئيسانو قتل يې ډېر په اسانه سره کولو او پدې وخت کې شيخ علاء الدين الجمالي د دور عثماني مشهور مفتي او عالم ژوندی وو او د بادشاه د مفتي اعظم حيثيت يې درلود دی ډېر تقوی لرونکی کس وو کله به چې له کار نه فارغ وو نو ټول وخت به يې د الله تعالی په عبادت کې مصرف کولو او بالکل يې وخت عبث نه تېرولو او کله به چې په معمولي مسئله کې استفتاء ورته راغله ده به ډېر زيات وخت په هغه باندې تېرولو او هر لوری به يې څېړلو او له بله پلوه په ټولو خلکو کې يوازې دی وو چې بادشاه ته يې په زړورتيا سره خبره کولی شوه او د هغه د باشاهي او د هغه د ظلم په اړه يې هېڅ فکر نه کاوه .

يو وخت چې په حسابي کارونو کې څه شکته پورته هغه وخت راغلل چې بادشاه د خزانې له مسئولينو کسانو سره حساب وکولو نو بادشاه سليم اول حکم وکولو چې د خزانې کارکونکي چې ۱۵۰ کسان دي ټول د ووژل شي .

شيخ علاء الدين رحمه الله راغلو او د بادشاه په دربار کې حاضر شو سلام يې وکولو بيا يې بادشاه ته وويل :

په ملک کې د مفتي کار دا وي چې د بادشاه د آخرت په اړه فکر وکوي زه خبر شوم چې تاسې د خزانې په کسانو باندې حکم صادر کړی دی چې ټول دې ووژل شي او دهغوی مرګ تاته روا نه دی نو زه تاته راغلم چې دا حکم په دوی باندې مه عملي کوه .

بادشاه ورته وويل : د بادشاهي په کارونو کې مداخلت مه کوه او دا ستا وظيفه نه ده د خپل کار سره کار ساته بيا هم شيخ علاء الدين د بادشاه نه غلی نه شو او د هغه سره يې خبرې کولې تردې چې د هغه زړه يې نرم کړو او هغه ۱۵۰ کسانو ته يې بښنه وکوله .

د حضرت ثعلبة ❽ په جنازه کې د ملائکو شرکت

حضرت ثعلبة ❽ د رسول الله ☸ خدمت کاوه يوه ورځ رسول الله ☸ په څه کار پسې ولېږلو په لاره کې يې وليدل چې د کور د ننه يوه ښځه غسل کوي او د بهر نه ښکاره کېږي دی ورته و درېدو او ښه ډېر وخت يې ورته تېر کړو بيا يې په زړه کې وېره ورغله که اوس الله ① پدې اړه پيغمبر ته وحی را ولېږي بيا به څه کوم؟ نو له ډار نه

بېرته رسول الله ﷺ ته رانغلو د مکې او مدينې منورې په مينځ کې غرونو ته و تښتېدو او څلوېښت ورځې يې هلته ځان پټ کړو ...

حضرت جبريل ؑ راغلو رسول الله ﷺ ته يې ويل ستا رب سلام وايي او وايي چې ستا د امت نه يو کس په غرونو کې ماته پناه راوړې ده رسول الله ﷺ حضرت عمر بن الخطاب او سلمان فارسي رضی الله تعالی عنهما پسې ور ولېږل چې ورشئ ثعلبة راولئ چې هغه يې راوستلو نو رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکوله چې ولې غرونو ته تللی وې؟

حضرت ثعلبة ورته وويل د خپلې ګناه له امله تښتېدلی وم ...

رسول الله ﷺ ورته وويل داسې يو آيت درته وښيم چې ګناهونه ختم کړي؟

ثعلبة ورته ويل : هو راته وښيه يا رسول الله ﷺ.

رسول الله ﷺ ورته وويل :

ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار

حضرت ثعلبة ❽ ورته وويل : لکن زما ګناه لويه ده .

رسول الله ﷺ ورته ويل : د الله کلام ډېر لوی دی .

بيا يې هغه خپل کور ته ولېږلو .

آته ورځې وروسته هغه بېمار شو رسول الله ﷺ يې پوښتنې ته ورغلو د حضرت ثعلبة سر يې په خپله غېږه کې کېښودو .

حضرت ثعلبة ❽ خپل سر د رسول الله ☸ له غېږې مبارکې نه لرې کړو .

رسول الله ☸ ورڅخه پوښتنه وکوله سر دې ولې زما له غېږې نه لرې کړو؟

حضرت ثعلبة ❽ ورته وويل : ځکه زما سر د ګناهونو څخه ډک دی او ستا غېږه مبارکه پاکه ده .

رسول الله ☸ ورته وويل : څه تکليف دی درته ؟

هغه ❽ وويل : داسې څه دي لکه زما د هډوکي ، غوښې او څرمنې په مينځ کې چې لکه مېږيان داسې څه ګرځي .

رسول الله ❽ ورته وويل : څه شي ته دې زړه کيږي .

ده ❽ وويل : د خپل رب مغفرت ته .

پدې وخت کې جبرئيل ⌛ راغلو رسول الله ☸ ته يې ويل :

ستا رب په تا باندې سلام وايي او وايي چې دې بنده ګناه کړې وه او ما ورته بښنه وکوله بيا رسول الله ☸ ده ته وويل چې جبرائيل ⌛ داسې وايي چې کله يې دا واورېدل نو يې يوه په زوره چيغه وکوله او وفات شو رسول الله ☸ حکم وکولو چې غسل ورکړئ او کفن ورکړئ رسول الله ☸ وربانديې مونځ وکولو او بيا په جنازه پسې د پښو د ګوتو په سرونو باندې روان وو کله چې هغه ❽ دفن کړل شو د رسول الله ☸ نه پوښتنه وشوه يا رسول الله ☸

تــاسې د ګوتــو پــه سرونــو بــانــدې ولــې روان وئ ؟
رسول الله ﷺ وويــل : زمــا د پــه هغــه ذات بــانــدې قسم وي چې زه يــې پــه حقــه پــيغمبــر را لېږلــى يــم دومــره ملائكــې دده جنــازې تــه راغلــې وې چې مــا د پــوره پــښې ايــښودلــو ځــاى نشواى پــيدا كــولــى .

د خليفه استقبال ته نه پاڅېدل

د متوكل على الله عباسي خليفه په دربار كې د هغه وخت لوى عالم احمد بن معذل رحمه الله له ډېرو نورو كسانو سره حاضر وو چې دى ورته له بلې كوټې نه را ووتلو ټول خلک د خليفه استقبال ته پاڅېدل لكن احمد بن معذل په خپل ځاى ناست وو او د خليفه د احترام لپاره له خپل ځاى څخه پورته نه شو خليفه د خپل وزير عبيد الله بن يحيى څخه پوښتنه وكوله :

دا كس ولي پا نه څېدو ولي ده ته زه ددې وړ نه ښكاره كېږم او كه زما خلافت نه مني؟

وزير ورته له ځانه وويل جناب هغه ستا خلافت هم مني او ستا قدر هم كوي د هغه نظر كمزورى دى هغه تاسې ونه ليدلى چې تاسې تشريف راوړو .

احمد بن معذل چې دا خبره واورېده ويې ويل :

امير المومنين زما نظر كمزورى نه دى زه قصداً ستا مخې ته پورته نه شوم غوښتل مې چې تا د دوزخ له اور نه وساتم ځكه د رسول الله ﷺ مبارك حديث دى هغه ﷺ فرمايي :

هغه كس چې غواړي خلک دده د استقبال لپاره پاڅيږي دهغه هستوګنځى دوزخ دى .

متوكل چې د رسول الله ﷺ حديث واورېدو سر يې ښكته كړو راغلو د احمد بن معذل سره په خوا كې كېناستو .

زه د فيل كتلو ته نه يم راغلى

حضرت يحيى بن يحيى اندلسي رحمه الله د حضرت امام مالک رحمه الله شاگرد وو په اندلس کې د اموي حکومت په دوران کې دهغه ډېر قدر وو او په هر لوی کار کې به له ده څخه مشوره اخستل کېده دی چې کله د حضرت امام مالک رحمه الله سره شاگرد وو او د هغه په مجلس کې ناست وو اواز وشو چې بهر فيل راغلی دی ..

څرنگه چې فيلان په عربو کې لږ دي نو د هرچا زړه غواړي چې هغه ووينې او ننداره يې وکوي ټولو خلکو ور منډه کړه حتی چې د امام مالک رحمه الله له مجلس نه هم خلکو ور منډه کړه او امام مالک رحمه الله درس ودرولو ځکه څه طالبان ووتل د فيل کتل غواړي لکن يحيى بن يحيى اوس هم د امام صاحب په مجلس کې پاتې شو امام صاحب رحمه الله ورته وويل :

ستاسې په ملک کې هم فيلان نه وي ته ولې د فيل کتلو ته نه ور ځې؟

يحيى بن يحيى ورته وويل : خپل وطن کلی کور او خپلوان دوستان مې پرېښودل ستاسې خدمت ته ددې لپاره حاضر شوم چې ستاسې مبارک مخ ووينم پدې وخت کې ماته صرف ستاسې وجود مبارک مهم دی او ستاسې مخ ته کتل غواړم او ستاسې نه نېک صفات زده کول او په ځان عملي کول غواړم زه دلته د دومره لرې ځای څخه د فيل د ليدلو لپاره نه يم راغلی .

امام مالک رحمه الله دده په ځواب ډېر زيات خوشحال شو او ددينه وروسته به يې ده ته د اندلس هوښيار ويل .

د قادسيې په جنګ کې د فيلانو دارول

د قادسيې په جنګ کې د مجاهدينو شمېره تر کفارو څخه ډېره زياته کمه وه لکن په غزاګانو کې به اکثر داسې وو د اسلام او کفر د لمړۍ غزا (بدر) نه شروع همداسې شوې وه چې کفار ډېر زيات او ډېر مجهز لکن مسلمانان په تعداد او آلاتو کې کم وو لکن په قادسيه کې بل مشکل دا وو چې د کفارو سره جنګي تربيه شوي فيلان وو هغه ډېر مست وو او آسونو به چې هغه وليدل نو تربېنه ډاريدل او په مخه د ورتلو نه يې ځان غړولو د جنګ په اوله ورځ خو د غيشو په ويشتلو سره څه نا څه فيلان شاته شول لکن د شپې مسلمانانو فکر کاوه چې ددې سره څه وکوو او دا فيلان له دوی سره ډېر زيات وو چې کله به يې را پرېښودل لکه توره وريځ داسې به ښکاره کېدل د انسانانو لپاره هم سخته وه چې له هغوی سره مخامخ شي او آسونه هم په مخه نه ورتلل د شپې د مسلمانانو يو قوماندان قعقاع بن عمرو يو نوی فکر وکولو هغه د لرګيو نه لويې لويې کجاوې ډوله شيان جوړ کړل او هغه يې په اوښانو باندې کېښودل او لپاسه يې وربانديې توره ټوټه رخت واچولو يو اوښ به چې روان وو داسې توره بلا به ښکاره کېده لکه يوه کوټه چې روانه وي دا يې په محدود تعداد کې ور وړاندې کړل چې

فيلانو وليدل هغه تري وډار شول او په شا باندې و تښتېدل ... دا ورځ بيا هم تر پرون څخه يوڅه ښه وه .
په دريمه ورځ چې بيا فوځونه سره مخامخ شول داسې ښکاره کېده لکه فيلانو چې اوس اوښان پېژندلي وي او دومره زيات نه ډارېدل ا په هغو کې دوه فيلان يو لږ پيکه رنګه وو او بل تک تور وو را وړاندې شول او اوښانو ته ډېر نېږدې راغلل مخکېددې چې د اوښانو سره مخامخ شي او په هغوی حمله وکوي او يا بل څه ورسره وکوي نو قعقاع او عاصم مجاهدينو داسې په هدف سره په هغه باندې د نيزې وارونه وکول چې د پيکه رنګه فيل سترګې را ووتلې او په رمباړو يې شا لور ته منډه کړه قعقاع ور وړاندې شو په توره يې ووهلو او د همدې فيل نه يې خلتم پرې کړو . تک تور فيل ته بل مجاهد معدي کرب ور وړاندې شو هغه يې زخمي کړو او په شا بېرته و تښتېدو .
د قادسيې جګړه اوږده شوه په دريمه شپه باندې کفارو غوښتل چې په مسلمانانو باندې په بې خبري کې حمله وکوي لکن مسلمانانو د دوی حرکات څارل او ويده نه شول نو چې هغوی راغلل مسلمانان ويده نه وو په تورو ورسره مخامخ شول پدې شپه چې جنګ شروع شو سبا هم ټوله ورځ په جنګ کې تېره شوه د تورو د جنګ په تاريخ کې دا ډېر اوږد وخت وو چې ٢٤ ساعته جنګ بالکل نه لږ ورو شو او نه ودرېدو له بله پلوه د مسلمانانو تعداد هم ډېر کم وو لکن بيا هم د پوره

ستوماني سره هېڅ هم ونه ويل چې لږ دمه به وکوم او په مسلسله توګه سره و جنګېدل د مسلمانانو څه مشران سره کېناستل او مشوره يې وکړه چې داده سبا د جنګ څلورمه ورځ ده او جنګ چې څومره اوږديږي د مسلمانانو لپاره ځکه خطرناک کيږي چې د هغوی کسان ډېر دي هغوی کولی شي نيم خوب وکوي او نيم ميدان ته را ولېږي لکن مسلمانان خو دومره نه دي چې په دوه برخو تقسيم کړل شي نو ددې جنګ ختمول په کار دي او دا جنګ به هلته ختميږي چې د کفارو د جنګياليو مشر رستم يا ووژل شي او يا ونيول شي داسې به وکوو چې يوه زوروره حمله به ورباندې وکوو او تر ده پورې به ځان ور ورسوو نو ټولو قوماندانانو د مشورې نه وروسته هر چا خپل مجاهدين را ټول کړل او جذباتي خبرې يې ورته وکولې د صبر استقامت ، جهاد او جنت خبرې يې ورته وکولې او دوی يې په جذباتو کې راوستل او جنګ ته يې ښه تيار کړل او په يوه اواز يې له پوره جذباتو سره د کفارو په صفونو باندې حمله وکوله تردې چې صفونه يې مات کړل او مسلمانان ځوانان تر صفونو شاته ساحې ته ور تېر شول رستم هلته په تخت ناست وو او خپلو کسانو ته يې خبرې کولې او هغوی يې په جنګ ور تېزول کله يې چې وليدل مسلمانان ځوانان تر صفونو ور تېر شول نو ده هم بله لاره پيدا نه کړه او توره يې را واخيستله او ښه وجنګېدو خپله جنګي تجربه او د تورې د چلولو او جنګ کولو مهارت يې ښکاره کړو لکن مسلمانان ځوانان ورباندې ډېر شول او

دى زخمي شو نو تېښتې ته اړ شو او منډه يې كړه شا ته يو مجاهد د هلال په نوم ورپسې منډه اخيستې وه تردې چې يو وړوكى نهر په مخه راغلو ده پكې ور ټوپ كړل او هلال مجاهد تر پښه را ونيولو بېرته يې شا ته را كش كړو او د تورې وار يې وربان‍دې وكولو څنګه چې دده د مرګ خبر خپور شو د كفارو په فوځونو كې منډه شروع شوه بيا هرچا تېښته خپله كاميابي ګڼله او په تېښته سر وو .

د حضرت عثمان ❽ لمړى خطبه

حضرت عثمان ❽ ته چې كله خلافت حواله شو نو ده خلكو ته خبرې وكولې او ورته ويل يې :

خلكو ! واورئ هغه كسان چې په دين كې نوې لارې جوړوي هغه د رسول الله ﷺ د تابعدارانوله جملې څخه نه دي پدې خبره ځان پوه كړئ چې د كتاب الله او درسول الله ﷺ د سنتو د تابعداري كولو نه وروسته درى خبرې نورې ضروري دي .


١. زما د خلافت نه وړاندې چې د حكومت او رعيت په اړه كومې قاعدې جوړې شوې دي دهغې متابعت به اوس هم روان ساتو .

٢. د كومې خبرې لپاره چې په مخكې خلافتونو كې قاعده او قانون نه وي او مونږ ته پكې څه په كار شي نو په مشوره سره به دهغې حل را وباسو .

۳. ترڅو چې ستاسې په خلاف شريعت څه حکم ونه کوي زه به په تاسې باندې لاس نه پورته کوم .

دوکه کونکی له مونږ څخه نه دی

د مدينې منورې په بازار کې رسول الله ﷺ يو ځل د غلې په يو سوداګر باندې تېرېدلو او په غله کې يې لاس ور ننه ايستو هلته ورته محسوس شوه چې د ننه غله نمجنه ده د غلې د مالک نه يې پوښتنه وکوله دا څه وجه ده ؟
هغه وويل د شپې زما په غله باندې باران وشو دهغې له امله لنده ده .
رسول الله ﷺ ورته وويل بيا تاته په کار ده چې نمجنه غله د پاسه کړې ترڅو يې خلک پخپلو سترګو ويني هغه کسان چې دوکه کوي زمونږ له ډلې څخه نه دي .



ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ-1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة،

الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

30- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

31- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

32- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

33- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

